د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د
روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

ې اړه لري. په بازار کې يې
ه سر غړوونکو سره به يې

اسلامي ښوونه او روزنه

اووم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

اسلامي ښوونه او روزنه

اووم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.

الف

ketabton.com - The Digital Library

ليکوالان:

- مولوي پيرمحمد روحاني
- استاد سيد فاضل شاه
- استاد غلام الدين کلانتري
- استاد فيض محمد عثماني
- استاد فضل الله نيازی
- استاد نور الله صافی
- استاد گل آقا شايق

علمي او مسلکی اډيټوران:

- دکتور محمد يوسف نيازی
- استاد محمد آصف کوچی
- احسان الله ناشر
- استاد رقيب الله ابراهيمي

ديني، سياسي او فرهنګي کميټه:

- دکتور محمد يوسف نيازی
- حبيب الله راحل د پوهنې وزات سلاکار د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې.

د څارنې کمټه:

_ دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين.

_ دکتور شېرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول.

_ د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس.

کمپوز: رقيب الله ابراهيمي

ډيزاين: وليد نويد نسيمي

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افـــغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمـــــان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بـــــلوڅـــو د ازبکـــو

د پښتـــون او هزاره وو — د تـــــرکمنـــو د تاجکـــو

ورسره عرب، ګوجـــر دي — پـــاميـــريان، نورستانيـــان

براهوي دي، قزلباش دي — هـــم ايمـــاق، هم پشـه يان

دا هيـــواد به تل ځليږي — لـــکـــه لمـــر پر شنه اسمـان

په سينـــه کې د اسيـــا به — لـــکـــه زړه وي جـــاويدان

نوم د حق مو دی رهبـــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. ځرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميِ. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو مینډې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د ځرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميِ.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له مینډو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

لړليک



د درس شمېره	عنوان	مخ
لومړی لوست	د حدیث شریف تعریف	۱
دویم لوست	د حدیث شریف تدوین	۴
دریم لوست	نیت او اخلاص	۶
څلورم لوست	خیر غوښتنه	۱۰
پنځم لوست	د مسلمان پر وړاندې د مسلمان مسئولیت	۱۲
شپږم لوست	نیک اخلاق	۱۶
اووم لوست	شفقت او مهرباني	۱۸
اتم لوست	طهارت(پاکوالی)	۲۰
نهم لوست	استنجا او نجاست	۲۲
لسم لوست	اودس	۲۴
یوولسم لوست	تیمم	۲۷
دولسم لوست	صلاۀ(لمونځ)	۳۰
دیارلسم لوست	آذان او اقامت	۳۴
څوارلسم لوست	د لمانځه شرطونه	۳۸
پنځلسم لوست	دلمانځه واجبات او سنتونه	۴۰
شپاړسم لوست	د لمانځه د اداء کولو طریقه	۴۴
اوولسم لوست	وتر او سنت لمونځونه	۴۸
اتلسم لوست	تراویح لمونځ او سنت لمونځونه	۵۰
نولسم لوست	د لمانځه مفسدات او مکروهات	۵۲
شلم لوست	په لمانځه کې بې اودسه کیدل	۵۴
یوویشتم لوست	د ناروغ لمونځ	۵۸
دوه ویشتم لوست	د سیرت النبي ارزښت	۶۰
درویشتم لوست	نبوي سیرت او تاریخ	۶۴

ketabton.com - The Digital Library

څلورویشتم لوست	د اسلام څخه وړاندې د جزیره العرب حالت	۶۸
پنځه ویشتم لوست	د اسلام څخه د مخه د عربو حالت	۷۲
شپږویشتم لوست	د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم نسب	۷۶
اووه ویشتم لوست	د نبي کریم صلی الله علیه وسلم میلاد	۸۲
اته ویشتم لوست	محمد صلي الله علیه وسلم د ځوانی په درشل کې	۸۶
نهه ویشتم لوست	دکعبې شریفې جوړول	۹۰
دېرشم لوست	د نبوت او رسالت په سیوري کې	۹۶
یودېرشم لوست	د وحي د نزول ادامه	۱۰۲
دوه دېرشم لوست	خدیجه رضی الله عنها	۱۰۴
دري دېرشم لوست	پټه بلنه(سري دعوت)	۱۰۶
څلور دېرشم لوست	دارالارقم(د رهبری مرکز)	۱۰۸
پنځه دېرشم لوست	ایمان او ثبات	۱۱۰
شپږ دېرشم لوست	د یتیم پالنه	۱۱۲
اووه دېرشم لوست	مرسته اوکومک	۱۱۴
اته دېرشم لوست	د مسلمان پېژندنه	۱۱۸
نهه دېرشم لوست	د اسلام پنځه بناوې	۱۲۰
څلوېښتم لوست	حیاء	۱۲۴
یوځلوېښتم لوست	نیشه بې توکي	۱۲۶
دوه څلوېښتم لوست	د جماعت لمونځ	۱۲۸
دري څلوېښتم لوست	د جمعې او اخترونو لمونځونه	۱۳۰
څلور څلوېښتم لوست	دکسوف او خسوف لمونځونه	۱۳۴
پنځه څلوېښتم لوست	د جنازې احکام	۱۳۶
شپږ څلوېښتم لوست	د میت لمبول او وړاندې د جنازې لمونځ کول	۱۳۸
اووه څلوېښتم لوست	زکات	۱۴۲
اته څلوېښتم لوست	د څارویو زکات	۱۴۶
نهه څلوېښتم لوست	د فصلونو او میوو زکات	۱۵۰
پنځوسم لوست	حج	۱۵۴
یو پنځوسم لوست	د حج فرایض او واجبات	۱۵۸
دوه پنځوسم لوست	د حج ډولونه	۱۶۲
دري پنځوسم لوست	د حج متفرقه مسایل	۱۶۴

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث شریف تعریف

حدیث چې د اسلامی شریعت دویم مصدر دی نو پدی باید وپوهیږو چې کوم علم د پیغمبر ﷺ له سنتو څخه بحث کوي هغې ته حدیث شریف ویل کیږي.

دعلم حدیث تعریف، موضوع، غرض:

لومړی د حدیث د علم تعریف:حدیث په لغت کې خبرې او هر نوي منځ ته راغلي شي ته وایي.

او په اصطلاح کې: له هغه علم څخه عبارت دی چې د پیغمبر ﷺ قول، فعل، او تقریر د متن او سند له لحاظه څېړي.

د حدیث د علم موضوع: د پیغمبر ﷺ وینا، کړنه او تقریر دی.

د حدیث د علم غرض:

د پیغمبر ﷺ رینبتنی پیروي ده چې په دواړو جهانونو کې د انسان د سعادت او نیکمرغۍ لامل ګرځي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه د ښوونکي په ملتیا د حدیث د علم د موضوع او غرض تر منځ د توپیر په اړه بحث او مباحثه وکړي.

د حدیث د علم له ځینو اصطلاحاتو سره اشنایي:

۱- **تقریر**: د تقریر څخه مطلب دا دی چې یو یا څو تنو صحابو یوکار سرته رسولی وي او یا یې کومه خبره کړې وي او پیغمبر ﷺ په هغه باندې له پوهیدلو وروسته د هغه په باره کې چوپتیا اختیار کړی وي.

ketabton.com - The Digital Library

۲- **صحابی هغه څوک دی**: چې پیغمبرﷺ یې لیدلی او ایمان یې پرې راوړی وي.
۳- **تابعي هغه څوک دی**: چې د اسلام په حالت کې یې له صحابي سره ملاقات شوی وي.

حدیث شریف دوه برخې لري:

الف- متن: له هغو الفاظو څخه عبارت دی چې د پیغمبرﷺ له وینا ووکړنو او تقریر څخه حکایت کوي.

ب- سند: د حدیث راویانو د نومونو له لړۍ څخه عبارت دی.

فعالیت

- زده کوونکي دې په انفرادي یا ډله ییز ډول د لوست د اصطلاحاتو په باره کې له یو بل څخه وپوښتي.

د حدیث شریف ډولونه:

حدیث د راویانو د شمیر له لحاظه په درې ډوله دي:

متواتر، مشهور، آحاد.

۱- متواتر حدیث:

هغه حدیث ته ویل کیږي چې د راویانو شمیر یې دومره زیات وي چې ټولیدل یې په دروغو محال او غیر ممکن وي.

د متواتر حدیث شرطونه:

الف: د راویانو شمیره یې زیاته وي.

ب: را ټولیدل یې په دروغو محال وي.

ج: چې د راویانو شمیر یې په ټولو طبقو کې د تواتر له اندازې کم نه وي.

۲- مشهور حدیث:

هغه حدیث ته ویل کیږي چې د پیغمبر (ص) په زمانه کې یې د راویانو شمېر کم وي خو د تابعینو په زمانه کې مشهور شوی وي او د راویانو شمیر یې په ټولو طبقو کې د تواتر اندازې ته نه وي رسیدلی.

ketabton.com - The Digital Library

۳- آحاد:

له هغه حديث څخه عبارت دی چې د راویانو شمیر یې د مشهور اندازې ته نه وي رسیدلې او یا دا چې د مشهور حدیث ټول شرطونه پکی پوره نه وي.

- د متواتر حدیث فرق له مشهور او آحاد سره په ډلییز ډول بیان کړئ.

۱- د حدیث د علم تعریف، موضوع، او غرض بیان کړئ.
۲-متواتر حدیث تعریف او شرطونه یی بیان کړئ.
۳- مشهور او آحاد حدیث بیان کړئ.

د حدیث لغوي او اصطلاحي تعریف ولیکئ او واضح کړئ چې صحابي او تابعي څوک دي؟

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث شریف تدوین

په لومړی لوست کې مو د حدیث د علم او د هغه د اقسامو په اړه معلومات ترلاسه کړل په دې لوست کې به د احادیثو د راټولو او لیکلو په هکله خبري وکړو، آیا تاسو پوهیږئ چې څرنګه احادیث راټول شوي او لیکل شوي دي؟

لومړی مرحله:

اصحابو کرامو به د پیغمبر ﷺ په ژوندکی د هغه ټولې خبرې، کړنې او تقریرونه زده کول عمل او استدلال به یې وربانديکاوه او ځینې اصحابو سربیره پر دې لیکل هم.

خو د پیغمبر ﷺ له رحلت څخه وروسته ځینې اصحابو ته دا احساس پیدا شو چې نبوي احادیث باید و لیکل شي تر څو د احادیثو حفاظت او ساتنه وشي په همدې خاطر د احادیثو د لیکلو لړۍ پیل شوه. د احادیثو د تدوین لومړۍ مرحله د اصحابو په دورکې د پیغمبر ﷺ له وفات څخه وروسته پیل شوه او همدا د احادیثو د لیکلو لومړی پړاو ؤ.

فعالیت

- زده کونکي دې د تدوین د معنا او مفهوم او څرنګوالي په اړه په خپلو کې سره بحث وکړي.

په رسمی ډول د احادیثو د تدوین دویمه مرحله:

کله چې حضرت عمر بن عبدالعزیز د هجرت په ۹۹ کال د مسلمانانو خلیفه شو تصمیم یې ونیو تر څو احادیث جمع او تدوین کړي او په دې کارکې یې دوه هدفه په نظر کې وو.

۱. چې په نبوي احادیثوکې دروغ ګډ نه شي:

هرکله چې اسلامي فتوحات زیات شول او د مختلفو ادیانو خلک د اسلام په دین مشرف شول د دې وپره پیدا شوه چې د اسلام دښمنې ډلې د پیغمبر ﷺ په احادیثوکې لاسوهنه ونه کړي او له ځانه جوړ شوي احادیث د پیغمبر ﷺ په احادیثوکې ورګډ نه کړي.

۲. چې نبوي احادیث ضایع نه شي:

د وخت په تیریدو او د اصحابو د شهادت او وفات له کبله د دی ویره وه چې نبوي احادیث به له منځه ولاړ شي بناءً د مسلمانانو خلیفه عمر بن عبدالعزیز خپلو والیانو ته چې د هغوې له جملې

ketabton.com - The Digital Library

څخه محمد بن عمروبن الحزم ته چې د مدينې منورې والي ؤ دنده ورکړه چې د وخت مشهور عالم محمد بن شهاب الزهری په مرسته نبوي احاديث راټول او د کتاب په شکل کې وليکي او دغه کار يوائې په مدينه منوره کې نه بلکې ډيرو علماو په مکه، عراق، بصره او کوفه کې د دې کار په سرته رسولو کې برخه واخيسته.

له دی وروسته د نبوي احاديثو د راټولولو او تدوين کار دوام وموند او ټول احاديث په خورا غټو کتابونو کې تاليف شول چې مشهور کتابونه يې په لاندې ډول سره دي.

شمېره	دکتاب نوم	د ليکونکي نوم او د تولد نېټه	د وفات نېټه
۱	صحيح البخاري	ابوعبدالله محمدبن اسماعيل بخاري (رح) ۱۹۴هـ	۲۵۶ هـ
۲	صحيح مسلم	مسلم بن حجاج نيشاپوری (رح) ۲۰۴ هـ	۲۶۱ هـ
۳	جامع ترمذی	محمد بن عيسی ترمذی (رح) ۲۰۹ هـ	۲۶۹ هـ
۴	سنن ابوداوود	سليمان بن اشعث سجستانی (رح) ۲۰۲ هـ	۲۷۵ هـ
۵	سنن ابن ماجه	عبدالله محمد بن يزيد قزوينی (رح) ۲۰۹ هـ	۲۷۳ هـ
۶	سنن نسايی	احمدبن شعيب نسايی (رح) ۲۱۵ هـ	۳۰۳ هـ
*دغه فقره اضافي معلومات دي د زده کوونکو لپاره په امتحان کې شامل نه دي			

ارزونه

۱- آيا د احاديثو تدوين د پيغمبر ﷺ په زمانه کې موجود ؤ؟
۲- داحاديثو تدوين د کوم خليفه په وخت کې پيل شول؟
۳- د احاديثو د مشهورو کتابونو نومونه وليکئ.

کورنۍ دنده

د احاديثو د تدوين او د هغوې د سترو علماؤ په اړه خپل معلومات وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

دریم لوست

نیت او اخلاص

عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّات وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ.»

متفق علیه

د راوي پیژنده:

نوم مبارک يې عمر د پلار نوم يې خطاب کنیه يې ابوحفص او لقب يې فاروق دی. د مسلمانانو دویم خلیفه دی د بعثت څخه (۳۰) کاله د مخه زیږیدلی او د نبوت په شپږم کال په اسلام مشرف شوی او له برکته يې اسلام او مسلمانانو قوت وموند.

دده د خلافت په دوران کې شام، مصر، فلسطین، بیت المقدس او عراق فتح شول د هجرت په ۲۳ کال د یوه مجوسي غلام له خوا چې ابولؤلؤ نومیده پداسې حال کې چې د سهار د لمانځه په امامت ولاړ و د ۶۳ کلنۍ په عمر په شهادت ورسید او د پیغمبرﷺ په څنګ کې خاورو ته وسپارل شو.

فعالیت

- زده کونکي دې د راشدینو خلفاوو د نومونو او ځانګړو صفتونو په باره کې په ډله ییز ډول بحث او مباحثه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

د کلمو معنا:

۱. اَلنِّيَّات:	د نيت جمع ده _ قصد او ارادې ته وايي.
۲. نَوَى:	نيت يې وکړ.
۳. امْرَأَة:	ښځه.
۴. امْرِئٍ:	کس (نروی که ښځه)
۵. يُصَيِّبُهَا:	لاس ته به يې راوړي.
۶. هَاجَرَ:	هجرت يې وکړ.

د حديث شريف معنا:

له حضرت عمر (رض) څخه روايت دی فرمايي: چې ما له رسول الله (ص) څخه واوريدل چې وېې فرمايل: ټول اعمال يوائې له نيت سره تړاو لري او بس.

او هر چا ته به هغه څه وي چې نيت يې کړی وي. که يو چا د الله او دالله درسول د رضا او خوښۍ لپاره هجرت وکړ نو د هجرت ثواب به يې له الله تعالی او د الله له رسول سره وي.

او که يې هجرت د دنيا د لاس ته راوړلو لپاره کړی وي هغه به لاس ته راوړي او که يې هجرت له ښځې سره د نکاح په خاطر کړی وي نکاح په ورسره وکړي.

نو په حقيقت کې يی هجرت د هماغه څه لپاره دی چې نيت يې کړی وي.

د نيت معنا او هدف:

نيت په لغت کې د زړه قصد او ارادی ته وايي. په پورتني حديث شريف کې له نيت څخه مقصد هغه هدف دی چې ورته د رسېدلو په خاطر انسان کار کوي. او نيت عبادت له عادت څخه جلا کوي.

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث شریف حکمت:

په کومه ټولنه کې چې وګړي يې د نيکوکارونو په سرته رسولو ریاکاری کوي او په باطن کې د هغو خلاف نيت لري، دوکه بازي، دروغ ويل، او نفاق خپرېږي.

خو د دی پر خلاف په کومه ټولنه کې چې وګړي يې د خدای (ج) د رضا په خاطر نيک کارونه سرته رسوی، ريښتينولي، سپېځلتيا، مينه او اعتماد رامنځ کيږی. نو لازمه ده چې مسلمانان د خدای تعالی د رضا د لاس ته راوړلو لپاره په ټولو کارونو کې د نيت پاکولو ته وهڅول شي.

- زده کونکي دې په ډله ييز ډول د ښوونکي په مرسته د ریا ضررونه او د اخلاص ګټې بيان کړي.

د حدیث شریف ګټې:

۱- د نيت اهميت: الله تعالی ته يوائی هغه عمل قبول او د ارزښت وړ دی چې په ښه نيت يعنی فقط دده د رضا لپاره پيل شوې وي.

۲- د ریا ضرر:- هر کار چې د ریا په خاطر تر سره شوې وي نه يوائې دا چی الله تعالی ته قبول نه دی بلکې ګناه ګڼل کيږي.

۳-هجرت: له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت کول ډېر خطرناک او ګران کار و، او د متعهد مسلمان يوه نښه وه، خو بيا هم ثواب او اجر يې په نيت پورې تړلي دي، که چېرې هجرت د الله تعالی د رضا د لاس ته

ketabton.com - The Digital Library

راوړلو له پاره وي ثواب لري او که چېرې د دنيوي کارونو په خاطر وي اجر او ثواب نلري.

ارزونه

۱- د اعمالو ثواب په څه پورې اړه لري؟
۲- د حديث معنا بيان کړئ.
۳- د ريا او ځان ښودنې زيانونه څه دي؟

کورنۍ دنده

۱- د دې لوست حديث له ژباړې سره وليکئ.
۲- د حديث دغه عبارت يادکړي. (إنماالأعمال بالنيات و إنمالکل امرئ مانوی)

ketabton.com - The Digital Library

خير غوښتنه

عن أبي حَمزَةَ أنسِ بنِ مالك رضي الله تعالى عنه خادِمِ رسولِ الله صلى الله عليه وسلم عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لا يُؤمِنُ أحدُكُمْ حتَّى يُحِبَّ لأخيه ما يُحِبُّ لنفسه.» متفق عليه

د راوي پېژندنه:

نوم يې انس بن مالک دی د انصارو له جملی څخه يو جليل القدر صحابی دی پوره لس کاله يی د رسول الله په خدمت کې تير کړي دي د فقهاؤ صحابوو له جملې څخه دی. پيغمبر(ص) ورته داسې دعا کړې ده چې عمر دې اوږد او په مال او اولاد کی دې برکت شه او جنت دې نصيب شه. نوموړی صحابي د هجرت په ۹۳ کال وفات شو.

د کلمو معنا:

لا يُؤمِنُ أحدُكُمْ: نشي کېدای يو له تاسو پوره مؤمن

حتَّى يُحِبَّ لأخيه: تر څو خوښ کړي د خپل ورور لپاره.

ما يُحِبُّ لنفسه: هغه څه چې ځان ته يې خوښوي.

د حديث شريف معنا:

له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر (ص) وفرمايل:

هيڅوک د پوره ايمان خاوند کيدای نشي تر څو خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي کوم چې ځان ته يې خوښوي.

د حديث شريف حکمت:

د کومې ټولنې وګړي چې خير غوښتونکي او د خير رسونې په فکر کې وي او د داسې ژوند په هڅه کې وي چې هو له بل سره دې ښيګڼه وکړي او ټولنيزو ګټو ته دې پاملرنه وشی او هيڅکله دې ټولنيزې ګټې د شخصي ګټو قرباني نه شي نو له هر حيثه به يوه قوي او پياوړې ټولنه وي.

خوکه وګړي يې ځان غوښتونکي وي، ځان ته د ګټې او نورو ته د ضرر رسولو په هڅه کې وي په دې صورت کې به په دغه ټولنه کې دښمني، کينې، او حسد ځای نيسي.

نو په کار ده چې په مسلمانانوکې نورو ته د خير رسولو احساس را ژوندی او ټول دې ته وهڅول شي. او له منفعت طلبۍ، ځان غوښتنې او له شخصي ګټو څخه د عامه ګټو له قرباني کولو څخه منعه کړای شي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کونکي دي په ډله ییز ډول د خیر غوښتنې ګټې او د ځان غوښتنې ضررونه بیان کړي.

د حدیث شریف ګټې:

۱. د ځان غوښتنې څخه ډډه کول: هغه ځان غوښتونکی انسان چې خپلې ګټې د نورو په ضرر کې لټوي کامل مسلمان نه دی.

۲. د ایمان کمال: د یو مسلمان ایمان هغه وخت پوره کیږي چې د نورو لپاره هم خیرغوښتونکی وي.

۳. مؤمن د مؤمن ورور دی: د یو مسلمان اړیکې له بل مسلمان سره له نسبي ورور ګلوی څخه ډېرې پیاوړې وي.

۴. په خیر غوښتنې باندې ټینګار: پیغمبر (ص) په دې حدیث شریف کې مسلمانان خیر غوښتنې ته رابللي او له ځان غوښتنې څخه یې منع کړي دي، لکه چې وایي(لا یُؤمِنُ) یعنې مسلمان کیدلی نشي.

ارزونه

۱- د حدیث د ګټو په اړه خپل معلومات وواياست.

۲- نورو ته له خیر غوښتنې څخه مقصد څه دی له مثال سره یې بیان کړئ.

۳- د حدیث شریف معنا بیان کړئ.

کورنۍ دنده

۱- د خیر غوښتنې د اهمیت په باره کې یوه مقاله ولیکئ چې له پنځو کرښو څخه کمه نه وي.

۲- پورتنی حدیث شریف حفظ کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

د مسلمان په وړاندې د مسلمان مسئوليت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا (وَ يُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ) بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنْ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ. كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ.» رواه مسلم

د راوی پيژندنه:

نوم يې عبدالرحمن بن صخرالدوسي لقب يې ابوهريره او د هجرت په اووم کال مسلمان شوی دی ډېره موده يې د پيغمبر (ص) خدمت کړی له همدې امله يې له رسول الله (ص) څخه ګڼ شمير احاديث روايت کړي دي. دغه جليل القدر صحابي په تقوی او پرهيزګاری مشهور او د لوړ ذکاوت خاوند و او د هجرت په (۵۸) کال کې وفات شو.

د کلمو معنا:

۱- لَا يَظْلِمُهُ: پر هغه ظلم نه کوي.
۲- وَلَا يَخْذُلُهُ: هغه بې ملاتړه نه پريږدي.
۳- وَلَا يَحْقِرُهُ: هغه نه سپکوي.
۴- التَّقْوَى: پرهيزګاري.
۵- بِحَسْبِ امْرِئٍ: بس ده يو انسان ته.
۶- عِرْضُ: ناموس، عزت، ابرو.

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث شریف معنا:

ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې پیغمبر (ص) وفرمایل:
مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پخپله وربانډی ظلم کوي، او نه یې د مظلومیت پر مهال بې ملاتړه پرېږدي، او نه هغه سپکوي. د حدیث راوي ابوهریره (رض) وایي چې پدې وخت کې پیغمبر(ص) خپلې سینې ته اشاره وکړه او درې ځلې یې وفرمایل: تقوی په دې ځای کې ده د یو چا د بدوالي لپاره همدا کافی ده چې خپل مسلمان ورور سپک کړي، او د هر مسلمان وینه، مال او آبرو پر بل مسلمان باندې حرام دي.

فعالیت

- ددی حدیث شریف له نصیحتونو څخه موخه زده کړل؟

د حدیث شریف حکمت:

ورور ګلوي، مرسته، یو بل ته درناوی د نورو خلکو پر نفس، مال او آبرو له ظلم او تیري څخه ځان ساتل، له مظلوم څخه دفاع او له الله تعالی څخه وېره د یوې سالمې ټولنې له اساساتو څخه دي، او له دې پرته په ټولنه کې د نظم راوستل اصلاً ممکن نه دي. ځکه خو پیغمبر (ص) په خپلو (جوامع الکلم) عبارتونو کې پورتني پراخه مفاهیم او مطالب بیان کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

د حديث شريف ګټې:

۱- اسلامی ورور ګلوی:

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی البته نارینه د نورو وروڼه اوښځینه د نورو خویندې ګڼل کېږي، هر کله چې ټول سره وروڼه او خویندې شول نو لازمه ده هغه حقوق او وجایب چې وروڼه او خویندې یې یو د بل په وړاندې لري د خپل توان په اندازه رعایت کړي.

۲- د ظلم حراموالی:

ظلم د حق پایمالولو ته وایي، هر ډول تیری او ناحقه لاس وهنې ته شاملیږي، ظلم که په هر رنګ او هره بهانه وي حرام دی.

۳- له مظلوم څخه دفاع کول:

مسلمان ته نه ښایي چې خپل مسلمان ورور د مظلومیت پر مهال یواځې پرېږدي بلکې ملاتړ یې ورباندې لازمي دی.

۴- له سپکاوي څخه منع:

د نورو سپکاوی او ذلیلول حرام دي.

۵-دنورو درناوی: مسلمان باید د نورو درناوی وکړي تر څو هغوی یې هم درناوی وکړي.

۶- اصلي تقوی باطنی تقوی ده: ځکه چې که چېرې په باطن کې له الله تعالی څخه ویره نه وي د انسان ټول کارونه په ریا او نفاق بدلیږي.

۷- تر ټولو لوی شر: د مسلمان ورور سپکاوی دی.

۸- د نور پر نفس تیری کول حرام دي: پر نفس باندی د تجاوز ټول ډولونه لکه: وژل، تعذیبول، وهل او ټکول، او له یو بل سره جنګ کول په اسلامی ټولنه کې حرام دي.

۹- د نورو پر مال تیری کول حرام دي: د نورو پر مال، حقونو، او ګټو باندې هر ډول تیری کول په اسلامي ټولنه کې حرام دي.

ketabton.com - The Digital Library

۱۰- د نورو خلکو پر آبرو او عزت تیری کول حرام دي: په اسلامي ټولنه کې د انسانانو آبرو، عزت، او عفت خوندي وي هر ډول تیری ورباندې حرام او ناروا دی.

۱- مسلمانان پخپلو کې یو د بل پر وړاندې څه مسئولیتونه لري؟

۲- لاندې عبارتونه تکمیل کړئ:

«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا ..... وَلَا ..... وَلَا يَحْقِرُهُ»

«كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ ..... وَ..... وَعِرْضُهُ.»

۱- د دی لوست حدیث له معنا سره ولیکئ.

۲- لاندی عبارتونه په یادو زده کړئ.

«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ»

«كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ.»

ketabton.com - The Digital Library

نیک اخلاق

عَنْ النَّوَّاس بْن سَمْعَان قَالَ: سَأَلْت رَسُول الله صَلَّى الله عَلَيْه وَسَلَّمَ عَنْ الْبِرّ وَالْإِثْم؟ قَالَ: «الْبِرّ حُسْن الْخُلُق، وَالْإِثْم مَا حَاكَ فِي نَفْسك، وَكَرِهْت أَنْ يَطَّلِع عَلَيْهِ النَّاس» رواه مسلم

د راوی پیژندنه:

نوم یې نواس د سمعان زوی او د شامي راویانو څخه دی چې په مدینه منوره کې اوسیده اولس (۱۷) حدیثونه یې له پیغمبر (ص) څخه روایت کړي او د هجرت په ۵۰ کال کې وفات شو.

د کلمو معنا:

۱- الْبِرّ: نېکي
۲- حُسْن الْخُلُق: نېک اخلاق
۳- الْإِثْم: ګناه
۴- مَا حَاكَ فِي نَفْسك: هغه څه چې په زړه کې دې شک پیدا کړي
۵- كَرِهْت: بد وګڼي
۶- يَطَّلِع : خبر شي

د حدیث شریف معنا:

حضرت نواس بن سمعان (رض) وایي چې ما له پیغمبر (ص) څخه د نېک عمل او ګناه په اړه پوښتنه وکړه. حضرت محمد (ص) وفرمایل: نیک عمل ښه خوی دی او ګناه هغه ده چې په زړه کې دې شک پیدا کړي او دا نه خوښوې چې خلک پرې خبر شي.

فعالیت

- زده کونکي دې د نیکو اخلاقو مثالونه په ډله ییز ډول بیان کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د حديث شريف حكمت:

د اسلام د ستر پيغمبر (ص) لارښوونې د مسلمان تربيتي سطحه دومره لوړوي چې زړه يې کاملاً پاکېږي او د هغه د ژوند هر حرکت نېک اخلاق تمثيلوي او ورو ورو د مسلمان په داخل کې داسې يو قوت پيدا کوي چې پرته له بهرني فشار څخه په خپله د بدو اعمالو څخه ډډه کوي او هېڅکله پدې هڅه کې نه وي چې څرنګه د قانون او نظام له منګولو څخه ځان وژغوري.

فعاليت

- د ښو اخلاقو ګټې او د بدو اخلاقو ضررونه په ډله ييزه او فردي توګه بيان کړئ.

د حديث شريف ګټې:

۱- ښه اخلاق د ټولو نيکيو بنسټ دی، ځکه چې ښه اخلاق انسان نيکۍ او دوستۍ ته رابولي او له بديو څخه يې منع کوي او بد اخلاق دې دښمنۍ او اختلاف ته را بولي.

۲- ګناه څه شی ده؟ هر هغه کار چې پاک نفس يې په کولو شرمېږي او نه غواړي چې خلک وربانديې خبر شي ګناه بلل کېږي.

۳- ګناه فطرتاً مبغوض عمل دی: ګناه هغه ناوړه عمل دی چې حتی مرتکب يې هم نه غواړي چې خلک وربانديې خبر شي.

ارزونه

۱- د پورتنۍ حديث شريف معنا او د راوي پيژندنه بيان کړئ؟

۲- لاندې کلمې معنا کړئ:

الْبِرّ: حُسْن الْخُلُق: الْاثْم: مَا حَاكَ فِي نَفْسك:

۳- د ټولنې په اصلاح کولو کې نېک اخلاق څه رول لري؟

کورنۍ دنده

د شپږم لوست حديث شريف له معنا سره وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

شفقت او مهربانی

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ، ارْحَمُوا مَنْ فِي الأَرْضِ، يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ.» رواه ابوداود و الترمذی

دراوی پیژندنه:

نوم یی عبدالله د پلار نوم یی عمرو زوي او پلار دواړه صحابه وو خورا عالم او فاضل و د قرآن عظیم الشان له مشهورو قاریانو څخه و ډیر احادیث یی له پیغمبر (ص) څخه روایت کړي دي او د هجرت په ۶۵ کال وفات شوی دی.

د کلمو معنا:

۱- الرَّاحِمُونَ: رحم کونکي.
۲- ارْحَمُوا: رحم وکړئ.
۳- يَرْحَمْكُمْ: پر تا سو به رحم وکړي.
۴- مَنْ فِي الأَرْضِ: څوک چې په ځمکه کې دی.
۵- مَنْ فِي السَّمَاءِ: هغه ذات چې له تاسو بردی.

د حدیث شریف معنا:

له حضرت عبدالله بن عمرو څخه روایت دی چې پیغمبر (ص) وفرمایل: رحم کوونکو باندې الله تعالی رحم کوي نو تاسې په ټولو هغو ژوندیو چې پر ځمکه ژوند کوي رحم وکړئ تر څو هغه ذات چې بر دی پر تاسو رحم وکړي.

د حدیث شریف حکمت:

مهرباني او زړه سوی چې د اخلاقو یوه مهمه ستن ده یوه داسي رسی ده چې ټول موجودات یې سره ترلي او یو له بل سره یې مرستې او غمخواری ته اړکړي دي، د زړه له سختی، بې رحمی او د نورو په حق کې له تیري کولو څخه یې لرې ساتي.
له بل پلوه پر مخلوقاتو باندې په شفقت او ترحم سره بنده د الله (ج) د قهر او غضب څخه

ketabton.com - The Digital Library

په امان کې وي چې په نتيجه کې ټول مخلوقات د آرامۍ او اطمينان په فضاء کې خپل ژوند تېروي، بناءً که د يوې ټولنې وګړي يو پر بل مهربانه وي کارونه به يې په آسانۍ سره مخ پر وړاندې ځي، ستونزې به يې حل وي او دښمني، د زړه بدوالی او کېنې به يې په محبت او مينه بدلېږي.

د حديث شريف ګټې:

۱- رحمت او مهرباني: مهرباني د الله تعالی د خاصو صفتونو څخه ده هر څومره چې دا صفت د انسان په وجود کې وي په همغه اندازه د الله تعالی د رحمت او مهربانۍ مستحق ګرځي.

۲- د ترحم دډايرې پر اخوالی: د پيغمبر (ص) په لارښوونو کې ترحم او زړه سوی دومره پراخه مفهوم لري چې ټول موجودات په څنګ کې نيسي.

۳- ترحم او مهربانۍ ته هڅول: الله تعالی خپله مهرباني پر مخلوقاتو باندې تر ترحم او مهربانۍ پورې تړلې ده.

فعاليت

- زده کوونکی دې پرمخلوقاتو باندی د ترحم دډولونو په اړه بحث وکړی.

ارزونه

۱- د دې لوست حديث شريف معنا کړئ.

۲- لاندې کلمی معنا کړئ.

۱- الرَّاحِمُونَ: ۲- ارْحَمُوا: ۳- يَرْحَمْكُمْ: ۴- مَنْ فِی الاَرْضِ:

کورنۍ دنده

۱- د ترحم او مهربانۍ په باره کې يوه لنډه مقاله وليکئ.

۲- لاندې عبارات حفظ کړئ:

«الرَّاحِمُونَ، يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ، ارْحَمُوا مَنْ فِی الاَرْضِ، يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِی السَّمَاءِ.»

ketabton.com - The Digital Library

طهارت (پاکوالی)

پاکوالي ته نن په نړۍ کې ځانګړې پاملرنه کيږي ، پوهان تل خلکو ته دا سپارښتنه کوي چې خپل ځان او چاپيريال پاک وساتي.
نوطهارت او پاکي په اسلام کې څنګه ده ؟ او څه اهميت لري؟

۱. د طهارت تعريف:
طهارت په لغت کې پاکوالي ته وايي.
او د فقهاو په اصطلاح کې د بې اودسۍ او نجاست لرې کول طهارت بلل کيږي.

فعاليت

- يو زده کوونکی دې د لمانځه د شرطونو نومونه واخلي.
- بل زده کوونکی دې د دې جملې نه هغه شرطونه په ګوته کړي چې د طهارت سره ارتباط لري.

۲. د طهارت مشروعيت: پيغمبر اکرم (ص) وايي: (اَلطُّهُورُ شَطرُ الايمَانِ) [مسلم]
ژباړه: نظافت د ايمان جز دی.
د حديث شريف مفهوم دا دی چې طهارت په اسلام کې دومره اهميت لري چې مستقيما د ايمان سره رابطه لري ، نو که څوک غواړي چې ايمان بې کامل شي بايد د خپل ځان او چاپيريال نظافت ته ډېر پام وکړي.

۳. د طهارت يا پاکوالي ډولونه:
طهارت يا پاکوالی په دوه ډوله دی:
۱- حکمي پاکوالی: د غټې (جنابت) او وړې بې اودسۍ څخه پاکوالي ته حکمي پاکوالی وايي.
۲- حقيقي پاکوالی:د نجاست څخه پاکوالي ته حقيقي پاکوالی وايي.
د پاکوالي طريقه: له حکمي نجاست څخه پاکوالی په غسل، اودس او تيمم سره راځي، خو له نجاست څخه پاکوالی په پاکو او سوچه اوبو د هغه نجس ځای په مينځلو سره راځي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یاګروپي شکل په سوال او ځواب سره تکرار کړي.

۴. بیت الخلاء ته د تللو آداب: هغه څوک چې بیت الخلا یا قضای حاجت ته ځي باید لاندې آداب مراعات کړي:

۱- باید د خلکو له سترګو پناه شي.

۲- باید داسې ځای غوره کړي چې د بولو (متیازو) څاڅکي ور وانه لوزي او ځان او لباس پې ککړ نه شي.

۳- بیت الخلاء ته د ننوتلو څخه د مخه باید «اَللّٰهُمَّ إِنّي اَعُوذُ بِکَ مِنَ الخُبُثِ وَ الخَبَائِثِ» ووایي.

۴- د حشراتو په سوړوکې باید بول ونه کړي.

۵- باید په لاره، ادیره ، سیوري او د خلکو د ناستې په ځایونوکې قضای حاجت ونه شي.

۶- باید د قضای حاجت په وخت کې خبرې ونه شي.

۷- باید قضای حاجت د قبلې په لورې ونه شي.

۸- په ولاړو اوبوکې قضای حاجت ونه کړي.

۹- استنجاء یا (اودس وچول) باید په کین لاس وشي.

فعالیت

- هر زده کوونکی دې دیوه ادب دحکمت یاګټې په هکله خپل نظر ووایي

ارزونه

لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱. طهارت تعریف کړئ.

۲. د طهارت د مشروعیت دلیل ووایئ.

۳. طهارت په څو ډوله دی؟

۴. د بیت الخلا آداب بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د پورتنیو پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچوکې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

استنجاءُ او نجاست

۱. د استنجاءُ تعريف:

استنجاءُ : له خپل مخصوص ځای څخه د نجاست پاکول استنجاء بلل کېږي.

۲. د استنجاءُ وسایل:

اوبه، لوټه، تیږه، دتشناب کاغذ(او هر هغه شی چې ددې ځای نیولی شي) د استنجاء له وسایلو څخه شمېرل کېږي.

استنجاء په هډوکي، خوشایي، طعام، سکاره، شیشه، د لیکلوکاغذ، وینښتان، پنبه، ټوټه او د څارویو وېښتو باندې مکروه ده.

۳. د استنجاءُ حکم:

۱. استنجاء په عادي حالاتو کې (هغه وخت چې نجاست د خپل ځای څخه تجاوز نه وي کړی) سنت مؤکد ده.

۲. خو کله چې نجاست له خپل ځای څخه لږ تجاوز وکړي استنجاء واجبه ده، او که شا او خوا ځایونه کثر شوي وي نو بیا بې وینځل فرض دي.

۴. د نجاست معنا:

نجاست په لغت کې پلیتی او ناپاکی ته وایي.

او د فقهاؤ په اصطلاح: هر هغه شی چې شریعت پلیت بللی وي نجاست ګڼل کیږي.

۵. د نجاست ډولونه:

نجاست په دوه ډوله دی: حقیقي او حکمي:

حقیقي نجاست: هغه ګندګي ده چې لمونځ ورسره نه صحیح کېږي.

حکمی نجاست: هغه دی چې د نجاست اثر او وجود څرګند نه وي، خو په حکمي او اعتباري ډول سره شریعت نجس ګڼلی وي.

۶. د حکمي نجاست ډولونه:

حکمي نجاست په دوه ډوله دی:

۱- لویه بې اودسي: هغه حالت ته وایي چې په انسان باندې غسل واجب وي، او لمونځ ورسره نه کېږي.

۲- کوچنۍ بې اودسي: هغه حالت ته وایي چې پر انسان باندې یوائې اودس کول لازم وي.

ketabton.com - The Digital Library

۷- د حقیقي نجاست ډولونه:

۱- غلیظه نجاست: هغه نجاست دی چې په قطعي دلیل سره ثابته شوی وي، لکه: وینه، خنزیر، د انسان بولې اوغایطه مواد، د مردارشوي حیوان غوښه،او شراب.

۲- سپک (خفیفه) نجاست: هغه دی چې نجاست یې په غیر قطعي دلیل سره ثابت شوی وي. لکه: د هغو حیواناتو بول چې غوښه یې خوړل کېږي.

فعالیت

- ولې په بعضې شیانو استنجاء مکروه ده ؟په انفرادي یاګروپي شکل یې ځواب ورکړئ.

۸- د نجاست ښبل شوې اندازه:

• کله چې غلیظ جامد نجاست د یوې شرعي روپۍ له مقدار څخه لږه اندازه (۱۲۵، ۳ګرامه) جامو ته ورسېږي لمونځ ورسره کېږي او که مایع وي له ورغوي څخه کمه اندازه (۶ سانتي) معاف ده.

• په خفیف (سپک) نجاست کې ښبل شوی مقدار په جامو کې له څلورمې برخې نه کمه باک نه لري. او په بدن کې د غړي څلورمې اندازې څخه کمه معاف دی.

• خومسلمان باید تل خپل کوښښ وکړي چې ځان او جامې یې پاکې وي، ځکه چې نظافت د ایمان جز دی. همدارنګه بې نظافتي انسان ته مختلفې صحي ستونزې پیدا کوي او په ټولنه کې خلک ورڅخه نفرت کوي.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یاګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

ارزونه

۱. لاندې اصطلاحات تعریف کړئ:

استنجاء، غلیظه نجاست، خفیفه نجاست.

۲. لاندې شیانو ته مثال ووایاست:

غلیظه نجاست، خفیفه نجاست.

کورنۍ دنده

د ارزونې د برخې پوښتنې په خپلو کتابچو کې د ځوابونو سره یو ځای ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

اودس

۱- د اوداسه تعريف:

د معينو اندامونو وينځل او مسح کولو ته اودس وايي.

فعاليت

- د اودس د کتو په هکله په انفرادي يا کروپي شکل بحث وکړئ.

۲- د اوداسه حکم:

اودس کول د لمونځونو د ادا کولو لپاره فرض دی.

۳- د اوداسه فرايض:

د اوداسه فرايض څلور دي:

۱- د مخ وينځل: د سر له ويښتو نه د زنې تر لاندينۍ برخې پورې، او د يو غوږ له نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پورې.

۲- د لاسونو پرېمينځل د څنګلو سره.

۳- د سر د څلورمې برخې مسحه کول.

۴- د پښو مينځل د ښنګرو سره.

۴- د اوداسه سنتونه:

۱- نيت کول.

۲- د اوداسه په پيل کې د "بسم الله الرحمن الرحيم" ويل.

۳- دری ځله د لاسونو مينځل تر مړوندونو پورې.

۴- درې ځلې د خولې پرېمينځل.(مضمضه).

۵- درې ځلې د پوزې پرېمينځل.(استنشاق).

ketabton.com - The Digital Library

۶- مسواک وهل.
۷- د ږيرې خلالول.
۸- د ځوتو خلالول.
۹- د مخ او لاسونو او پښو درې ځلې پرېمينځل.
۱۰- په ټول سر باندې مسحه کول.
۱۱- د غوږونو شا او مخ په نويو اوبو مسحه کول.
۱۲- لومړی د ښي غړو وينځل. (تَيَمّن)
۱۳- اوداسه کې ترتيب مراعتول.
۱۴- پرله پسې د اندامونو مينځل.
۱۵- دمينځلو په وخت کې د اندامونو مښل.

۵- د اوداسه آداب (مستحبات):

د اوداسه آداب په لاندې ډول سره دي:

۱. د اوداسه په وخت کې نسبتاً په جګ ځای کېناستل، چې جامې يې لمدې نشي.
۲. د اوداسه په وخت له خلکو سره خبرې نه کول.
۳. په اودس کې له بل چا نه مرسته نه غوښتل.(مګردا چې عذر ولري)
۴. که ځوتمه يې په ځوته کړي وي د هغې خوځول.چې ورلاندې ځای يې ښه پاک شي.
۵. په ښي لاس دخولې پرېمينځل او په چپ لاس د پوزې پرېمينځل.

فعالیت

- ستاسو له ټولګيوالو څخه دې دری تنه داسې اودس وکړي چې فرضونه ، سنتونه او اداب زده کوونکو ته پکې عملاً وښايي.

۶- د اوداسه مکروهات:

o د اوداسه د سنتو او يا د آدابو ترک کول.

ketabton.com - The Digital Library

۷- د اوداسه ماتوونکي:

اودس په لاندی شیانو ماتېږي:

۱. له بدن نه د بولو، باد او غایطه موادو په خارجېدلو سره.

۲. د بدن نه د وینې او زوې خارجېدل.

۳. په ډکه خوله قی کول.

۴. بې هوشي.

۵. لېونتوب.

۶. نیشه کېدل (د نیشه یې موادو استعمال)

۷. په لمانځه کې په زوره (قهقهه) خندل.

۸. په اړخ او یا ډډه خوب کول.(هغه خوب چې د اودس دماتېدو امکان په کې وي)

فعالیت

- د اوداسه د ماتوونکو په هکله دې زده کوونکي یو دبل نه په ګروپي توګه پوښتنې وکړي.

ارزونه

۱. د اوداسه فرایض بیان کړئ.

۲. د اوداسه سنتونه بیان کړئ.

۳. د اوداسه آداب په لنډ ډول بیان کړئ.

۴. د اوداسه مکروهات په لنډه توګه وواياست.

۵. د اوداسه ماتوونکي بیان کړئ.

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د پورتنیو سوالونو ځوابونه په خپلو کتابچو کې په ساده ژبه وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

تيمم

۱- د تيمم تعريف:

تيمم په لغت کې قصد، عزم او ارادې ته وايي.

او په اصطلاح کې :په مخصوصه طريقه په پاکو خاورو باندې (د طهارت په نيت)، د مخ او لاسونو مسحه کولو ته تيمم وايي.

۲- د تيمم د روا کېدو عذرونه:

په لاندې عذرونو سره تيمم رواکېږي:

۱. د اوبو نشتوالي يا کم والي: کله چې اوبه نه وي او يا دومره کمې وي که په هغې اودس وشي نو د څکلو او پخلي لپاره بيا کفايت نه کوي نو په داسې حالت کې تيمم روا دی.

۲. د اوبو لرې والی: د يوه ميل په اندازه لرې والی، څکه يو ميل تگ کې تکليف دی، خو که دده هماغسې لاره وي نو بيا دې لمونځ لږ وروسته کړي او هلته دې اودس وکړي.

۳. مريضي: داسې مريضي چې اودس ورته زيان رسوي.

۴. ډار او خوف: د دښمن او يا د وحشي حيواناتو نه ډار.

۵. بند :که څوک داسې ځای کې بندي وي چې د اوداسه اجازه ورته نه ورکول کيږي.

۶. د اوبو د اخيستلو وسه نه درلودل: که اوبه يواځې په اخيستلو(پيرودلو) پيدا کېدلې، خو د انسان سره مالي توان موجود نه وي.

۷. د جنازې دلمانځه د اداکولو لپاره (د هغه چا لپاره چې نا څاپه راپېښ شي او جنازه تياره وي).

۸. د اوبو داستعمال توان ونه لري:لکه هغه څوک چې د څاه سره ولاړ وي خو رسۍ نه وي چې اوبه ورباندې راوباسي.

۳. د تيمم کولو طريقه:

په پاکو خاورو باندې دوه ځله د لاسونو وهل چې يو ځل به بې وروسته د څنډو وهلو په مخ او دويم ځل به بې تر څنګلو پورې په لاسونو باندې راکاږي.

۴. د تيمم شرطونه:

۱- د تيمم لپاره نيت کول.

۲- د تيمم له پاره د رواکوونکو عذرونو څخه د يو عذر موجوديت.

۳- تيمم بايد په پاکه خاوره باندې وشي.

۴- په ټول مخ او لاسونو باندې تر څنګلو پورې د مسحې لاس راکشول.

۵- ټوله پنجه او يا د پنجې اکثره برخه دوه ځلې په ځمکه وهل.

ketabton.com - The Digital Library

۵- د تیمم ماتونکي:

۱- هر شی چې اودس او غسل ماتوي هغه تیمم هم ماتوي.

۲- کله چې هغه عذرونه له منځه ولاړ شي چې د تیمم کول یې رواکړي و، لکه: د اوبو پیداکیدل.

۶- په موزو باندې مسحه کول:

د مسحې کولو معنا:

مسحه په لغت کې په یو شی باندې لاس راکښلو ته وایي.

او مسحه په اصطلاح کې په خاصو موزو په خاصه توګه د لمدو لاسونو راښکل مسحه بلل کېږي.

۷- په موزو باندې د مسحې د جواز شرطونه:

۱- د موزو اغوستل په اوداسه سره.

۲- موزې باید د ټخرځیدلو قابلیت ولري.

۳- ښنګري باید په موزو کې پټ وي.

۴- موزې باید روغې وي او د درې ګوتو نه زیاتې څیرې نه وي.

۸- په موزې باندې د مسحې موده:

۱- د مقیم لپاره د مسحې کولو موده یوه شپه او ورځ ده.

۲- د مسافر لپاره د مسحې موده درې ورځې او درې شپې ده.

۹- د موزې د مسحې ماتوونکي:

۱- هر هغه شی چې اودس ماتوي هغه د موزو مسحه هم ماتوي.(بیا به پښې د اودس کولو نه وروسته مسحه کوي)

۲- جنابت او ددې په شان نور لکه حیض او نفاس. (بیا به پښې مینځي)

۳- د یوې او یا دواړو موزو ویستل.

۴- د پښې اکثره برخه لمدیدل.

۵- د مسحې ټاکل شوې موده تېریدل.

۶- د درې ګوتو په اندازه د موزې شکېدل.

فعالیت

- په عملي ډول دې یو زده کوونکی تیمم او په موزو باندې مسحه وکړي.

۱۰- په پټیو باندې مسحه کول:

د پټۍ معنا: هر هغه شی چې په مات او زخمي غړي د رغولو لپاره اینبودل کېږي پټۍ ورته وایي.

ketabton.com - The Digital Library

۱۱- په پټې باندې د مسحې حکم:

په پټې باندې مسحه کول واجب دي.

۱۲- په پټې باندې د مسحې شرطونه:

په پټې باندې د مسحې کولو لپاره علماؤ لاندې شرطونه ایښي دي:

۱. د زخمي او یا ژوبل شوي ځای وینځل به ناشونی وي.

۲. ژوبل شوي ځای ته به اوبه رسېدل او مینځل ضرر رسوي.

۳. له اړتیا نه زیاتې اندازه ځای باندې پټې نه لګول.

۱۳. د پټې د مسحې ماتوونکي:

د پټې مسحه په دوو حالتونو کې ماتیږي:

۱. د پټې غورځېدل او لرې کول.(بیا به هغه ځای ووینځي)

۲. د اودس ماتېدل. (بیا به هغه ځای مسح کوي)

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

ارزونه

۱- د تیمم لغوي او اصطلاحي معنا بیان کړئ؟

۲- په موزو باندې مسحه کول تعریف کړئ او مسحه په لغت کې څه ته وایي؟

۳- د پټې مسحه کولو حکم څه دی؟

۴- د موزو د مسحې موده د مقیم او مسافر لپاره څومره ده بیان یې کړئ؟

۵- د تیمم د رواوالي سببونه کوم دي، بیان یې کړئ؟

۶- د تیمم د صحت شرطونه ذکر کړئ؟

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د پورتنیو سوالونو ځوابونه په خپلو کتابچو کې په ساده ژبه ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

صلاة (لمونځ)

۱ - د صلاة (لمانځه) تعريف:

صلاة په لغت کې دعا ته ويل کيږي.

او په اصطلاح کې: عبارت دی له مخصوصو اقوالو او افعالو، چې په تکبير سره شروع کيږي او په سلام باندې ختميږي.

۲ - د لمانځه ځينې ځانګړتياوي: (۱)

۱- لمونځ پاکي ده.

۲- لمونځ د انسان د دعا دقبليدلو ښه وخت دی.

۳- لمونځ د خداي سره د انسان راز او نياز دی.

۴- لمونځ له فحشاو اوله منکراتو څخه انسان ژغوري.

۵- لمونځ تقوا ده.

۶- لمونځ د نورو مسلمانانو سره د ورورګلوۍ ښه رابطه ده.

۷- لمونځ دانسان په مخ کې نور او رڼا پيدا کوي.

۸- لمونځ انسان ته تسکين او اطمينان ورکوي.

۹- لمونځ دانسان صحت ساتي.

۱۰- لمونځ د انسان مشکلات آسانه کوي.

۱۱- لمونځ انسان د ښه فاميل خاوند کوي.

۱۲- لمونځ د خداي سره دانسان وعده ده چې ښه به کوي او بد به نه کوي.

(۱) دلمانځه ځانګړتياوي اضافي معلومات دي او په امتحان کې شامل نه دي

ketabton.com - The Digital Library

۱۳- لمونځ تواضع ده.
۱۴- لمونځ انسان ته وقار، درنښت او دخلکواحترام ورپه برخه کوي.
۱۵- لمونځ انسان د وخت ارزښت ته متوجه کوي.
۱۶- لمونځ د توبې او خدای ته د مراجعې ښه وخت دی.
۱۷- لمونځ دخداي د ذکر ښه طریقه ده.
۱۸- لمونځ دخداي مرسته انسان ته ورپه برخه کوي.
۱۹- لمونځ د مخلوق او خالق تر منځ یو ښکلی او په ځای انځور انځوروي.

۳- د لمانځه د پرښودو حکم:

۱- د لمانځه له فرضیت نه انکار کفر دی.
۲- د سستی او لتې له امله دلمونځ نه کول فسق دی.

۴- د لمانځه وختونه:

په احادیثو کې د لمانځه وختونه، معلوم او ټاکل شوي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:
۱- د سهار د لمانځه وخت: د رښتینې سبا راختلو څخه پیل او په لمر ختلو سره پای ته رسېږي.
رینبتونی سبا: کله چې سپینوالی عرضاً د آسمان په کناروکې خپور شي رینبتونی سبا بلل کېږي.
۲- د ماسپښین وخت: پیل یې د لمر له زوال څخه او کله چې د هر شي سیوری د خپلې اندازې دوه برابره شي (پرته د زوال له سیوري څخه) د ماسپښین وخت پای ته رسېږي.
۳- د مازیګر د لمانځه وخت: پیل یې د ماسپښین وخت له پای څخه او کله چې لمر ډوب شي د مازیګر وخت ختمېږي.

ketabton.com - The Digital Library

۴- د مابنام د لمانځه وخت: کله چې لمر ډوب شي د مابنام وخت پیلېږي، او چې شفق (هغه سره رڼا چې د ورځې په پای کې په افق کې ښکاري) ورکه شي د مابنام وخت پای ته رسېږي.

۵- د ماسخوتن د لمانځه وخت: د ماسخوتن د لمانځه وخت د شفق له ډوبېدو څخه پیل او د سبا په ختلو باندې پای ته رسېږي.

۵- مکروه وختونه:

په لاندې درېو وختونو کې لمونځ کول منعه شوي دي:

۱- د لمر ختلو په وخت کې لمونځ کول روا نه دی .

۲- د زوال په وخت کې لمونځ کول روا نه دی.

۳- د لمر سترګه چې کله زېړه شي د لمر تر ډوبیدو پورې د همېغې ورځې د مازدیګر د لمانځه نه پرته بل لمونځ روا نه دی.

مسأله:

وروسته د سهار لمانځه نه تر لمر ختلو پورې او د مازیګر لمانځه څخه تر غروب پورې نفل لمونځ مکروه دی خو قضایي لمونځونه، د تلاوت سجده او د جنازې لمونځ کول (چې همدې وخت کې حاضره شي) مکروه نه دی.

۶- په لاندې وختونو کې د نفلونو کول مکروه دي:

۱- د سبا ختلو نه وروسته د سهار له سنتو پرته نور نفلونه کول مکروه دي.

۲- د مابنام لمانځه څخه مخکې د نفلونو کول مکروه دي.

۳- کله چې خطیب د جمعې یا اختر خطبه وایي د نفلونو کول مکروه دي.

۴- د اخترونو لمونځ څخه وړاندې او وروسته نفل کول مکروه دي.

۵- کله چې د جماعت لمونځ ولاړ وي د نفلونو کول مکروه دي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

ارزونه

۱- لمونځ تعریف کړئ.

۲- د لمانځه لس ځانګړتیاوي بیان کړئ.

۳- د لمانځه وختونه کوم دي؟

۴- د لمانځه مکروه وختونه کوم دي؟ په مختصره توګه یې بیان کړئ.

۵- په کومو وختونو کې نفل کول مکروه دي؟

کورنۍ دنده

پورتني سوالونه په خپلو کورونو کې حل او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

أذان او اقامت

۱- د أذان تعريف:

أذان په لغت کې اعلان ته وايي.

او د فقهاو په اصطلاح کې د لمانځه لپاره په مخصوصو الفاظو سره اعلان کول أذان بلل کېږي.

۲- د أذان حکم:

أذان د پنځه وخته لمونځونو او د جمعې لمانځه لپاره مؤکد سنت دی، د نورو لمونځونو (د اخترونو، سنتو، نفلونو، استسقاء، خسوف، اوکسوف) لپاره مشروع نه دی.

۳- په أذان او اقامت کې بايد لاندې شيان په نظر کې ونيول شي:

۱- بايد أذان او اقامت د وخت داخليدلو نه وروسته وي.

۲- أذان او اقامت بايد په عربي ژبه وشي.

۳- د أذان او اقامت الفاظ اوکلمات بايد پرله پسې او په ترتيب سره وويل شي.

۴- أذان بايد په لوړ آواز سره وشي تر څو نور خلک يې واوري.

۵- مؤذن بايد مسلمان ، اوعاقل وي.

ketabton.com - The Digital Library

۴- د أذان الفاظ:

أَللهُ اَکبَرُ — أَللهُ اَکبَرُ

أَللهُ اَکبَرُ — أَللهُ اَکبَرُ

أَشهَدُ أَن لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ — أَشهَدُ أَن لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

أَشهَدُ أَنَّ مُحَمَّدا رَّسُولُ اللهِ — أَشهَدُ أَنَّ مُحَمَّدا رَّسُولُ اللهِ

حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ — حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ

حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ — حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ

أَللهُ اَکبَرُ — أَللهُ اَکبَرُ

لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

یادونه:

- د سهار د لمانځه لپاره د «حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ» تر جملې وروسته د «الصَّلَاةُ خَيرٌ مِنَ النَّومِ» عبارت دوه ځله ویل کېږي.
- د اقامت په وخت کې همدغه کلمات ویل کېږي، یوازې د «حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ» د کلمې نه وروسته دوه ځله د «قَد قَامَتِ الصَّلَاةُ» لفظونه ویل کېږي.

فعالیت

- یو زده کوونکی دې په ټولګي کې اذان او بل زده کوونکی دې اقامت په داسې آواز سره ووایي چې د نورو ټولګیو مزاحمت پرې ونه شي، بیا دې نښوونکی او نور زده کوونکي دې خپلې ملاحظې ووایي.

ketabton.com - The Digital Library

۵- د أذان او اقامت سنتونه:

په أذان کې اووه شیان سنت دي:

۱- مؤذن باید صالح، امین او د لمانځه وختونه وپېژني.

۲- مؤذن ته ښایي د أذان کولو پر مهال اودس لرونکی وي.

۳- مؤذن به أذان په ولاړه کوي.

۴- د أذان په وخت کې به د مؤذن مخ قبلې لور ته وي او د «حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ» ویلو په وخت کې به ښي خوا ته او د «حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ» ویلو په وخت کې به کین لوري ته مخ اړوي.

۵- د أذان په وخت کې مؤذن باید خپلې ګوتې په غوږونو کې کېږدي.

۶- مؤذن باید د ښه آواز لرونکی وي.

۷- مؤذن باید د أذان او اقامت ترمنځ فاصله راولي، یعني د أذان څخه به څه وخت وروسته اقامت کوي.

۶- د أذان مکروهات:

۱- په أذان کې تلحین (د أذان کلمې یا حرکات بدلول، کمول یا زیاتول) مکروه دي.

۲- د جنابت په حال کې د أذان او اقامت کول مکروه تحریمي دی.

۳- د فاسق أذان مکروه دی.

۴- د غیر عاقل ماشوم له پاره أذان مکروه دی.

۵- د ښځې أذان مکروه دی.

۶- د أذان په وخت کې خبرې کول مکروه دي.

۷- د أذان نه وروسته د مؤذن وتل د جومات نه مکروه دي.

ketabton.com - The Digital Library

۷- د اقامت حکم:

اقامت د ټولو وختي، فرضي او فوتي لمونځونو لپاره سنت دی. د اقامت الفاظ کټ مټ د أذان الفاظ دي مګر د (حی علی الفلاح) د ویلو څخه به وروسته (قد قامت الصلاة) زیاتوي او همدا راز ټول د أذان احکام د اقامت له پاره هم دي.

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

۱. أذان او اقامت تعریف کړئ.

۲. د أذان او اقامت حکم بیان کړئ او شرطونه یې کوم دي؟

۳. د أذان او اقامت سنتونه څو دی بیان یې کړئ؟

۴. د أذان مکروهات کوم دي په لنډه توګه یې بیان کړئ؟

د پورتنیو پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د لمانځه شرطونه

۱- د لمانځه شرطونه په لاندې ډول دي:

۱. له حقيقي او حکمي نجاست څخه د ځان پاکوالی.

۲. د جامو پاکوالی له نجاست څخه.

۳. په پاکو جامو باندې د عورت پټول.

۴. قبلې ته مخ کول.

۵. د وخت داخلېدل.

۶. لمانځه ته د داخلېدو نيت کول په داسې ډول چې د تحريمې تکبير سره هېڅ فاصله ونه لري.

۷. د لمانځه د ځای پاکوالی.

مسأله:

۲- د هغه عورت اندازه چې پټول يې د لمانځه لپاره ضروري دي عبارت دي له:

الف: د سړي عورت: د نامه له غوټې څخه تر زنګنونو پورې، خو د زنګنونو سترګه عورت ده او د نامه غوټې عورت نه ده.

ب: د ښځې عورت: په لمانځه کې د ښځې ټول بدن عورت دی مګر يوازې مخ، پنجه او قدمونه يې عورت نه دي، يعنې د لمانځه په وخت کې به ټول بدن پټوي پرته له ذکر شوو ځايونو څخه.

مسأله:

که چېرې څوک د قبلې په لوري شکمن شي او نه پوهېږي چې کومې خواته ده، نه څوک داسې پيدا کړي چې پوښتنه ورنه وکړي، فکر دې وکړي وروسته له دې چې په هر لوري يې غالب ګومان راغی هغه لوري ته دې لمونځ وکړي همدا لوری د ده لپاره قبله ده.

ketabton.com - The Digital Library

۳- د لمانځه ارکان او فرضونه:

۱- د تکبیر تحریمه ویل.

۲- په لمانځه کې دریدل.

۳- د قرائت لوستل که یو آیت هم وي.

۴- رکوع کول.

۵- سجده کول.

۶- د تشهد په اندازه وروستۍ قعده .

۴- د لمانځه د فرضونو حکم:

د فرایضوادا کول په لمانځه کې حتمي او ضروري دي،که چېرې يې څوک قصداً یا په هیره پرېږدي لمونځ بې نه صحیح کېږي او بېرته به خپل لمونځ راګرځوي، همدا راز د فرضو پرېښودل د سهوې د سجدې په کولو نه جبیره کیږي.

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي .

۱. د لمانځه شرطونه څو دي بیان يې کړئ؟

۲. د لمانځه ارکان څو دي بیان يې کړئ؟

۳. که څوک یو فرض له فرائضو څخه په لمانځه کې پرېږدي، نو حکم يې څه دی؟

پورتنیو پوښتنو ته په خپلو کتابچو کې په ساده ژبه ځوابونه ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د لمانځه واجبات او سنتونه

۱- د لمانځه واجبات:

۱. د فاتحې یعنې الحمد لله لوستل.
۲. په ډکو رکعتونو کې د فاتحې له سورت سره د یو بل سورت او یا درې آیتونو یو ځای کول.
۳. په جهري لمونځونو کې (د امام لپاره) په جهر سره قرائت او په خفیه لمونځونو کې په خفیه قرائت.
۴. د الحمد لله لوستل د سورت له لوستلو څخه مخکې.
۵. د هر رکن اداء کول په آرام او اطمینان سره.
۶. د دوو رکعتونو نه وروسته کیناستل (لومړۍ قعده).
۷. په اوله او دوهمه قعده کې د تشهد لوستل.
۸. په ارکانوکې د ترتیب مراعاتول.
۹. په وتر لمانځه کې د قنوت دعاء لوستل.
۱۰. د دوو لومړیو رکعتونو تعینول د قرائت لپاره (په څلور رکعتي اودرې رکعتي فرضي لمونځونو کې).
۱۱. د اختر په لمانځه کې د زوایدو (اضافي) تکبیرونو ویل.

۲. د واجباتو د پریښودلو حکم:

که په لمانځه کې یو واجب قصداً پریښودل شي، لمونځ به بېرته راګرځوي. او که سهواً ترک شي سجده سهوه لازمیږي.

ketabton.com - The Digital Library

۳. د لمانځه سنتونه:

په لمانځه کې لاندې شیان سنت دي:

۱- د نارینه لپاره په تکبیر تحریمه کې د غوږونو تر برابرۍ، او د ښځو له پاره د اوږو تر برابرۍ د لاسونو پورته کول.

۲- د تکبیر تحریمه څخه وروسته د ثناء ویل.

۳- په لومړي رکعت کې د «اعوذ بالله من الشیطان الرجیم» ویل.

۴- د (بسم الله الرحمن الرحیم) ویل.

۵- د فاتحې نه وروسته د (آمین) ویل.

۶- د رکوع نه وروسته د (سمع الله لمن حمده) ویل د امام لپاره.

۷- د (سمع الله لمن حمده) څخه وروسته د (ربنا ولک الحمد) ویل د مقتدي لپاره.

۸- هر رکن ته د انتقالیدو لپاره د تکبیر (الله اکبر) ویل.

۹- په رکوع کې د (سبحان ربي العظیم) او په سجده کې د (**سبحان ربی الأعلی**) ویل.

۱۰- په رکوع کې د زنګنونو د سترګو په سر، د لاسونو ایښودل چې ګوتې یې پراخه نېولې وي، یعنې په عادي حالت د لاسونو اېښودل.

۱۱- د ښي پښې ودرول او د چپې پښې غوږول په دواړو قعدو او د دواړو سجدو په منځ ناسته (جلسه) کې ورباندې کېناستل.

۱۲- د (**أشهد أن لا إله**) په وخت کې د شهادت ګوتې پورته کول او د (الاالله) په ویلو سره ښکته کول.

۱۳- د کېناستلو په وخت کې لاسونه په زنګنونو باندې اېښودل.

۱۴- د فرضو په دوه وروستیو رکعتونو کې د (الحمدلله...) لوستل سنت دي.

۱۵- د امام له لوري د انتقالیدو تکبیرونه، سمع الله لمن حمده او سلام لفظ په لوړ آواز سره ویل.

ketabton.com - The Digital Library

۱۶- په وروستۍ ناسته (قعده) کې درود ویل.
۱۷- د درود نه وروسته د مأثورې (قرآني او مسنونه) دعاء لوستل. لکه: (ربنا آتنا فی الدنیا حسنة و فی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار).
۱۸- د سلام ګرځولو په وخت کې ښي اوکیڼ لور ته د مخ ګرځول.
۱۹-کله چې امام سلام اړوي باید مقتدیان په نیت کې ونیسي چې زما سلام په دوی، ساتونکو (حفظه) ملایکو او د جنیاتو په صالحو بندګانو باندې دی.
۲۰-کله چې مقتدي سلام ګرځوي په نیت کې به هغه خلک نیسي چې کوم د سلام لور ته وي.
۲۱- مقتدي به د سلام ګرځولو په وخت کې په امام باندې هم د سلام اچولو نیت کوي چې کوم لور ته واقع وي اوکه په امام پسې ولاړ وي په دواړو سلامونو کې به په امام د سلام اچولو نیت کوي.
۲۲-که چېرې یو څوک یوازې لمونځ کوي د سلام اچولو په وخت به په ساتونکو (حفظه) ملایکو د سلام اچولو نیت کوي.

فعالیت

- یو زده کوونکی دې د لمانځه واجبات د نورو زده کوونکو په وړاندې په عملي ډول بیان کړي.

ارزونه

- لومړی: لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱- د لمانځه له واجباتو څخه د یو واجب پاتې کېدل څه حکم لري؟
۲- د لمانځه سنتونه څو دي؟ پنځه یې بیان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

۳- د لمانځه واجبات بیان کړئ.

• دویم: صحیح جملې له (ص) نښې او غلطې جملې له (غ) نښې سره کېږدئ.

۱- په وتر وکې د قنوت دعاء د لمانځه له واجباتو څخه ده. ( )

۲- د آمین، اعوذ بالله، بسم الله او سمع الله لمن حمده ویل د لمانځه سنتونه دي. ( )

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د پورتنیو سوالونو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

د لمانځه د ادا ءکولو طریقه

۱. د لمانځه دکولو طریقه په لاندې ډول ده:

۱- لمونځ کوونکی باید د لمانځه د پیل پر مهال لاسونه د غوږونو د لاندنیو څنډو سره برابر کړي.

۲- بیا دې خپل ښي لاس په چپ لاس د نامه لاندې کېږدي، بیا دې ثناء (سبحانک اللهم و بحمدک و تبارک اسمک و تعالی جدک ولا اله غیرک) ووایي.

۳- د ثناء ویلو نه وروسته دې (أَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ) ووایي. (چې د ثناء، اعوذ بالله او بسم الله ویل په پټ آواز سره دي او مقتدي به اعوذ بالله او بسم الله نه وایي که چیرته لمونځ جماعت سره ؤ).

۴- (ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧) دې ووایي.

۵- په پټه سره دې (آمین) ووایي.

۶- وروسته د قرآن کریم یو سورت او یا دري آیتونه تلاوت کړي.

۷- د سورت د تلاوت کولو نه وروسته دې په تکبیر (الله اکبر) ویلو سره رکوع ته ټیټ شي.

۸- په رکوع کې به په پنډیو باندې ولاړ حالت کې لاسونه د زنګنونو په سترګو په داسې حال کې کېږدي چې ګوتې یې پراخه عادي نیولي، شا یې غوړولې او سر به یې نه ښکته وي نه پورته رکوع به وکړی.

۹- په رکوع کې دې دري ځله تسبیح (سبحان ربي العظیم) ووایي.

ketabton.com - The Digital Library

۱۰- کله چې د رکوع څخه سر را اوچت کړي نو لومړی دې (سمع الله لمن حمده) ووايي، او بيا دې (ربنا ولک الحمد) ووايي.

مسأله:

د جماعت په لمانځه کې دې امام (سمع الله لمن حمده) ووايي، او مقتدي به يوازې (ربنا ولک الحمد) وايي.

۱۱- د (ربنا ولک الحمد) ويلو نه وروسته دې لمونځ کوونکی لږه شېبه په مطمئن ډول نېغ ودرېږي، بيا به سجدې ته د ټيټيدو پرمهال د تکبير (الله اکبر) په ويلو سره ټيټ شي، لومړی دې زنګنونه، بيا لاسونه په داسې حال کې چې ګوتې يې مخامخ قبلې ته وي، بيا پوزه او ورپسې تندی په ځمکه کېږدي او په هره سجده کې دې درې ځله (سبحان ربي الاعلی) وايي. د سجدې پر مهال بايد څنګلې له زنګنونو او ورنونه له ګېډې نه لرې کړي او د پښو د ګوتو سرونه به د قبلې لور ته کوي، داسې چې له ځمکې څخه به پورته نه وي.

۱۲- بيا دې په تکبير ويلو سره سم له سجدې څخه سر راپورته کړي او په مطمئن ډول سره دې لاسونه د زنګنونو سترګو سره برابر کېږدي، په داسې حال کې چې ښي پښه يې ولاړه او کينه پښه يې څملولې وي کښېنې.

۱۳- د لږې شېبې دمې نه وروسته دې دويمې سجدې ته ولاړ شي، او درې ځله دې تسبيح (سبحان ربي الاعلی) ووايي.

۱۴- د دويمې سجدی نه وروسته دې په تکبير (الله اکبر) ويلو سره په داسې حال ودرېږي چې لومړی يې سر، بيا لاسونه ورپسې زنګنونه را اوچت کړي، لمونځ کونکی دې لاسونه په ځمکه نه لګوي او په مستقيم ډول دې دوهم رکعت ته پورته شي.

۱۵- دويم رکعت دې هم د لومړي رکعت په څېر اداء کړي، (لاسونه دې غوږونو ته نه پورته کوي، ثناء او اعوذبالله به هم نه وايي، نور پاتې رکعتونه

ketabton.com - The Digital Library

یوازې په بسم الله الر حمن الرحیم سره پیلېږي).
۱۶- کله چې لمونځ کونکی د دوهم رکعت له سجدې څخه خلاص شو، نو بیا دې د لاسونو ګوتې خپرې د زنګنونو د سترګو سره برابرې کېږدي، (داسی چې ښي لاس يې په ښي زنګون او کين لاس يې په کين زنګون کېښودل شوی وي، له بلې خوا ښي پښه ولاړه او کينه پښه يې څملولې وي او پرې ناست وي او بيا دې (**التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَد أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ**) ووايي.
۱۷- کله چې لمونځ دوه رکعته وي بيا دې درود شريف (اللهم صل على محمد و على آل محمد كما صليت على ابراهيم و على آل ابراهيم انک حميد مجيد، اللهم بارک على محمد و على آل محمد كما باركت على ابراهيم و على آل ابراهيم انک حميد مجيد) او ماثوره دعا (ربنا آتنا فی الدنيا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار) تر ويلو وروسته سلام وګرځوي.
۱۸- کله چې لمونځ درې رکعتيزه وي بيا د دريم رکعت له دويمې سجدې وروسته تشهد، درود، او دعا ويلو وروسته سلام وګرځوي.
۱۹- کله څلور رکعتيز وي، بيا دې د څلورم رکعت له دويمې سجدې وروسته همدا پورتنی عمل ترسره کړي.

۲. د سړي او ښځې د لمانځه ترمنځ توپيرونه:

د ښځې لمونځ د سړي له لمانځه نه په لاندينيو شيانو کې توپير لري:
۱_ ښځه به د تکبير تحريمه په وخت کې لاسونه تر اوږو پورته کوي، او سړی د غوږو تر څنډې پورې.
۲_ ښځه به د ولاړې په وخت لاسونه سينې سره نيسي، او سړی يې تر نامه لاندې.

ketabton.com - The Digital Library

۳- په سجده کې به ښځه څنګلې د زنګنونو سره نښلوي، نارینه به يې جلا کوي.
۴- په سجده کې به ښځه خپله له ورنونو سره نښلوي او سړی يې جلا کوي.
۵- د لمانځه په ټولو ناستو کې ښځه دواړه پښې ښي طرف ته باسي او په ځمکه کښيني.
۶- ښځه به د سجدې په وخت کې څنګلې له ځمکې سره لګوي.

فعالیت

- يو زده کوونکی دې عملاً دوه رکعتيز لمونځ د خپلو ملګرو په وړاندې ادا کړي. ښوونکی او نور زده کوونکي دې خپلې ملاحظې په آخر کې وړاندې کړي.

ارزونه

۱- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:
أ. د ثنا دعا کومه ده او له دې څخه وروسته به لمونځ کوونکی څه وايي؟
ب. د (ولا الضآلين) نه وروسته کومه کلمه پټه تکراريږي؟
ج. (سمع الله لمن حمده) او (ربنا ولک الحمد) په کوم ځای کې ويل کېږي؟
د.د انتقالاتو تکبيرونه ووایاست.
۲- د ښځې او سړي د لمانځه تر منځ مهم توپيرونه ووایاست.

کورنۍ دنده

د دې لوست عمده ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

وتر او سنت لمونځونه

۱. د وتر و د لمانځه حکم:

د وتر لمونځ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نظر واجب دی، لکه څرنګه چې د اخترونو لمونځ دی، او د یارانو په نظر مؤکد سنت دی.

۲. د وتر و د لمانځه مقدار:

د وتر لمونځ درې رکعته دی.

۳. د وتر و د لمانځه وخت:

د وتر لمونځ د ماسخوتن له لمانځه څخه وروسته اداکېږي.

۴. د وتر و لمونځ کې قرائت:

دوتر و په ټولو رکعتونو کې د قرائت لوستل لازم دي.

۵. د قنوت ویل:

له رکوع څخه مخکې د وتر و په دریم رکعت کې د قنوت دعا ویل کېږي:

د قنوت دعا:

اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُك وَنَسْتَغْفِرُك وَنُؤْمِنُ بِك وَنَتَوَكَّلُ عَلَيك وَنُثْنِي عَلَيك الْخَيرَ. ونَشْكُرُك وَلا نَكْفُرُك وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يفْجرُك .اللَّهُمَّ إياكَ نَعْبُدُ وَلَك نُصَلِّي وَنَسْجُدُ وَإِلَيك نَسْعَى.وَنَحْفِدُ ونَرْجُو رَحْمَتَك وَنَخْشَى عَذَابَك إنَّ عَذَابَك بِالْكُفَّارِ مُلْحَقٌ.

۶. سنت لمونځونه:

سنت په دوه ډوله دی یو ته مؤکد سنت او بل ته غیر مؤکد یعني مندوب وایي.

۷. مؤکد سنت:

هغه دی چې رسوالله صلی الله علیه وسلم پرې همیشه والی کړی، خو کله کله یې د دې لپاره پرېښي چې د فرضو ګومان پرې ونه شي.

۸.غیر مؤکد سنت (مندوب):

هغه سنت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کله کړي او کله پرېښي وي.

ketabton.com - The Digital Library

د مؤکدو سونتونو وختونه:

ټول مؤکد سنت دوولس رکعته دي چې د وختونو ترتیب یې په لاندې ډول دی:

۱-د سهار له فرضو څخه مخکې دوه رکعته، او په کولو یې ډېر تاکید شوی دی.

۲- د ماسپښین له فرضو څخه مخکې څلور رکعته لمونځ په یو سلام سره. (او یا هم د جمعې لمانځه څخه مخکې).

۳-د ماسپښین له فرضو څخه وروسته دوه رکعته.

۴- د مابنام له فرضو څخه وروسته دوه رکعته.

۵-د ماخوستن له فرضو څخه وروسته او د وترو څخه مخکې دوه رکعته.

۶- د جمعې له لمانځه څخه وروسته څلور رکعته په یو سلام اداء کول.

۹. د غیر مؤکدو سنتو وختونه:

د غیر مؤکد سنتونو وختونه په لاندې ډول دي:

۱- د ماسپښین له دوه رکعته سنتو سره نور دوه رکعته یو ځای کول.

۲- د مازدیګر له فرضو څخه مخکې څلور رکعته.

۳- د ماخوستن له فرضو څخه وروسته څلور رکعته علاوه د هغه مؤکدو سنتو څخه.

۴- د مابنام له فرضو څخه وروسته شپږ رکعته.

ارزونه

۱- د وترو د لمانځه حکم څه دی؟

۲- د وترو لمونځ څه وخت اداء کېږي؟

۳- د قنوت دعا ووایاست.

۴- غیرمؤکد سنتونه کوم دي؟

کورنۍ دنده

د مؤکدو او غیر مؤکدو سنتو وختونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د تراویح لمونځ او قضایي لمونځونه

۱. **د تراویح لمونځ**: د تراویحو لمونځ د ښځو او سړو لپاره مؤکد سنت دی، ځکه چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاوو پرې همیشه والی کړی. جماعت کول هم پکې سنت دي.
مسأله: نفل په پیل باندې لازمېږي، بناءً کله چې چا پرې پیل وکړ او بیا یې پرېښود یعنې فاسد یې کړ وروسته به یې قضاء راوړي.

۲. **د تراویحو د لمانځه وخت**: د تراویحو لمونځ د ماخوستن لمانځه څخه وروسته او د وترو څخه وړاندې اداء کېږي.

۳. **د تراویحو د رکعتونو شمېر**: تراویح شل رکعته دي، دوه دوه رکعته په یو نیت او سلام اداء کېږي، او بیا د هرو څلورو رکعتو وروسته یوځه ناسته کېږي، یعني په لسو سلامو شل رکعته تراویح پوره کېږي، بیا له دې څخه وروسته د وترو لمونځ هم په جماعت سره اداء کېږي. یاده دې وي چې پرته د روژې له میاشتې څخه په نورو میاشتو کې وتر په جماعت سره نه اداء کېږي.

۴. **قضایي یا فوتي لمونځونه**: کله چې له چا څخه لمونځ قضاء شي هر وخت چې فرصت ومومي باید قضایي راوړي مګر په هغه درې وختونو کې دې نه کوي له کومو څخه چې د لمانځه کولو څخه منعه راغلې ده.

۵. **د قضایي لمونځونو د ادا کولو کیفیت**: په قضایي لمونځونو کې ترتیب واجب دی. کله چې له چا څخه د شپږو لمونځونو څخه لږ لمونځونه قضاء شوي وي، دا سړی د ترتیب خاوند دی، فقهاء کرام وایي د ترتیب په خاوند د ترتیب مراعتول واجب دي، د ترتیب معنا داده چې قضایي لمونځونه به د وختي لمونځ نه مخکې کوي، او بیا به د قضایي ترمنځ هم ترتیب مراعتوي یعنې کوم لمونځ چې ترې مخکې قضاء شوی وي هغه به وړاندې کوي.

ketabton.com - The Digital Library

۲. هغه شیان چې ترتیب پرې ساقطیږي:

۱- کله چې قضایي لمونځونه پرته له وترو څخه شپږو ته ورسیږي.
۲- کله چې له سړي څخه قضایي لمونځونه هیر شي.
۳- کله چې وخت تنګ وي او دواړه (وختي او قضایي لمونځونه) نه اداکیږي.

زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرارکړي.

۱- لاندې پوښتنې ځواب کړئ:
أ. د وترو او تراویحو لمونځونه څه حکم لري؟
ب. د وترو او تراویحو لمونځونه څنګه اداء کیږي؟
۲- لاندې صحیح جملو ته د (ص) نښه او غلطو جملو ته دا (غ) نښه کېږدئ:
أ. د تراویحو لمونځ د ماخوستن له وترو څخه وروسته اداء کیږي. ( )
ب. د چا څخه چې د پنځو لمونځونو څخه زیات لمونځونه قضاء شي د ترتیب خاوند دی. ( )
ج.د ترتیب خاوند به وختی لمونځ په قضایي لمونځ باندې مخکې کوي. ( )
د. د وخت په تنګوالي سره ترتیب ساقطیږي. ( )
ه. شل رکعته تراویح به په لسو سلامونو سره سرته رسیږي. ( )

پورتینو سوالونو ته په خپلو کتابچو کې ځوابونه ووایاست.

ketabton.com - The Digital Library

د لمانځه مفسدات او مکروهات

۱. د لمانځه مفسدات:

فساد په لغت کې: د صلاح ضد ته وايي. او د فقهاوو په اصطلاح کې په عبادت کې ناسم وصف فساد بلل کېږي. په عباداتو کې د فساد معنی بطلان دی او په معاملاتو کې فساد بیله معنا او بطلان بیله معنا لري، هدف دا چې معاملات د فساد څخه وروسته صحیح کیدای هم شي خو عبادات داسې نه دي.

۲. د لمانځه مفسدات:

۱- خبرې کول.
۲- خوراک او څښاک کول اګر که په هېره هم وي.
۳- داسې کار کول چې د لمانځه څخه بیرون کس پرې د لمونځ کوونکي ګومان ونه کړي.
۴- له قبلې څخه د سینې ګرځول.
۵- د لمانځه په منځ کې درې پرله پسې قدمونه اخیستل.
۶- لیونتوب او بې هوشي.
۷- د پوره یو رکن اداء کول په داسې ډول سره چې عورت بې څرګند، او یا ورسره دومره نجاست وي چې لمونځ ورسره نه کېږي.
۸- داسې خندا چې خپله بې واوري.
۹- په خوله د سلام اچول یا ځوابول.
۱۰- د نیوی امورو لپاره ژړل، خو که چېرې د خدای له ویرې وي بیا بې لمونځ نه فاسدېږي.
۱۱- هغه الفاظ ویل چې دلمانځه څخه نه دي لکه: (انالله و انااليه راجعون) او یا (الحمد الله) ویل.
۱۲- په داسې شکل سره د قرائت کول چې د کلمې معنا غلطوي.
۱۳- له امام نه پرته بل چاته فتحه ورکول.

۳. د کراهیت معنا:

کراهیت په لغت کې د محبت ضد ته وايي. او د فقهاوو په اصطلاح کې هر هغه شی چې پرېښودل بې له کولو څخه غوره وي تنزیهي مکروه بلل کېږي او که چېرې منعه والی بې په ظني دلیل ثابت وي تحریمي مکروه بلل کېږي.
کله چې لمونځ د تحریمي کراهیت سره اداء شي رآګرځول بې واجب دي، او که د تنزیهي کراهیت سره شوی وي بېرته رآګرځول بې مستحب دي.

ketabton.com - The Digital Library

۴. د لمانځه مکروهات:

لاندې شیان په لمانځه کې مکروه دي:

۱_ د سنتو او واجباتو پریښودل.لکه: د امام متابعت په لمانځه کې پریښودل .

۲_ په لمانځه کې په نورو کارونو باندې د لاسونو مصروفول لکه :

- د ګوتو قاتول راقاتول.
- د ګوتو څخه ټکونه ویستل.
- د لمانځه پر مهال ټنده پاکول.
- د کانړو اوګټو لرې کول، ویښتان ویستل.
- له خپلو جامو او لاسو سره لوبې کول.
- په اشاره باندې د سلام ځوابول.

۳_ په لمانځه کې په نورو شیانو باندې د سترګو مصروفول لکه:

- د آسمان لور ته کتل.
- د سترګو پټول.
- ښي او کین لور ته کتل.

۴_خپل مخصوص اذکار او دعاګانې نه لوستل.لکه د رکوع په حالت د قرائت لوستل.

۵_ په مسنونه طریقه د ارکانو نه ادا کول لکه:

- غیرمنظم دریدل.
- نا سمه رکوع.
- نا سمه سجده لکه د پګړۍ په ول سجده کول.

۶_ بې ضرورته ټوخی او اوسیلی کول.

فعالیت

- زده کوونکي دې نور هغه امور چې د لمانځه د روحیې خلاف دي او بعضې اشخاص هغه کوي په ګوته کړي.

ارزونه

۱- لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

أ- کراهیت او فساد څه معنا لري په لنډ ډول یې تعریف کړئ؟

ب- د لمانځه د مکروهاتو څخه پنځه ووایاست.

ج- د لمانځه پنځه مفسدات بیان کړئ.

۲- لاندې صحیح جملوته (ص) او غلطو جملو ته (×) ننبه کېږدئ:

أ- په لمانځه کې د ګوتو څخه ټکونه ویستل مکروه دي. ( )

ب- د رکوع په حالت کې د قرائت لوستل لمونځ فاسدوي. ( )

ج- په لمانځه کې خبرې کول مکروه دي. ( )

کورنۍ دنده

د دې لوست عمده ټکي په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

په لمانځه کې بې اودسه کېدل

کله چې څوک پرته له کومې ارادې په لمانځه کې بې اودسه شي:
۱- لمونځ دې پرېږدي اودس ته دې ولاړ شي او پس له اوداسه دې خپل لمونځ د هغه ځای څخه پیل کړي چې په کوم ځای کې بې اودسه شوی دی. خو له سره راګرځول بې غوره دي.
۲-که چېرې بې اودسه شوی شخص امام وي، یو له خپلو مقتدیانو څخه دې امام کړي او پاتې لمونځ به دی په خپل امامت مقتدیانو ته پوره کوي.
۳-که چېرې یو لمونځ کونکي ته د وروستۍ ناستې څخه وروسته بې اودسي پېښه شي د لمانځه څخه دې وګرځي، اودس دې وکړي، او بیا دې سلام واړوي، دا دې واړه هغه صورتونه دي چې خبرې بې نه وي کړي، خو که خبره بې کړي وي، بیا بې لمونځ فاسدېږي برابره ده چې قصداً، سهواً او خطا بې له خولې وتلي وي او بناء وربانديې جواز نه لري.
۴-که چېرې کوم لمونځ کوونکی وروسته له بې اودسۍ څخه د اودس لپاره قدمونو اخیستلو او یا له قبلې څخه مخ ګرځولو ته اړ ؤ او داکار بې وکړ لمونځ بې نه فاسدېږي ګرکه له دې قدمونو څخه زیات هم تللی وي.

۲- د سهوې سجده:

سهوه غفلت او بې پروایۍ ته وایي.
د سهوې سجدې حکم: د سهوې سجده واجب ده.
د سهوې د سجدې سببونه: د سهوې سجده په لاندې شیانو واجبېږي:
۱-کله چې د واجباتو څخه یو بې د خپل ځای نه وړاندې یا وروسته، سهواً زیات او یا پرېښودل شي.
۲-کله چې لمونځ کوونکی فرض د خپل ځای څخه سهواً مخکې یا وروسته کړي.

ketabton.com - The Digital Library

• **مسأله**:

د سنتو په پرېښودلو باندې د سهوې سجده نه لازمېږي، ځکه چې د سنتو په پرېښودلو باندې لمونځ نه نیمګړی کېږي.

• **مسأله**:

د فرضو پرېښودل په سجده سهوه باندې نه جبیره کېږي، ځکه چې د فرضو پرېښودل لمونځ باطلوي، خو که چېرې خوک د لمانځه په کوم رکن کې سهوه شو بېرته به يې راګرځوي او که چېرې بې د خپل ځای څخه وروسته کړ بیا به د سهوې سجده کوي.

۳- د سهوې د سجدې وخت:

د سهوې سجده هغه دوه سجدې دي چې د لمانځه زیادت او نیمګړتیا پوره کوي او وخت يې د اخري قعدې د تشهد او یو سلام ګرځولو څخه وروسته دی.

۴- د سهوې د سجدې طریقه:

د وروستۍ قعدې د تشهد څخه وروسته یو سلام اړول کېږي او بیا د دې څخه وروسته دوه د سهوې سجدې کېږي، او د دې څخه وروسته تشهد (التحیات...) د دوهم ځل لپاره په همدې ناسته کې، او بیا به درود (اللهم صل...)، او دعاء چې مخکې ندي ویل شوي ولولي، او بیا به ښي او کین لور ته سلام واړوي.

۵- په لمانځه او یا اوداسه کې شک کول:

۱- که چېرې یو چاته دا شک پیدا شو چې لمونځ يې کړی او که يې نه دی کړی، دې سړي لمونځ نه دی کړی، ځکه نه کول يې یقیني او په کولو کې يې شک دی.

۲- که چېرې یو چاته د سلام ګرځولو او یا د آخري قعدې د تشهد نه وروسته شک پیدا شو دا شک هیڅ باوري نه دی او اعتبار ورته نشته.

۳- که چېرې خوک ډېر شکي وي او هر وخت ورته شک پیدا کېږي، دا به په غالب ګمان عمل کوي.

۴- که چېرې خوک په دې باور وي چې اودس مې کړی دی خو فکر کوي چې ممکن يې اودسه شوی وي، د دې سړي اودس شته، مګر که په یاد يې وي چې دی بې اودسه ؤ خو ممکن د عادت سره سم ده اودس کړی وي، نو دا بې اودسه دی.

۲- د تلاوت سجده

د تلاوت د سجدې حکم:

د تلاوت سجده کول واجب دی.

ketabton.com - The Digital Library

۷- د تلاوت د سجدې اسباب:

د تلاوت سجده په لاندې درې سببونو باندې واجبېږي:

۱- تلاوت: د تلاوت سجده په تلاوت کوونکي باندې واجبېږي.

۲- اوریدل :د تلاوت سجده د سجدې د آیت په اوریدلو په اوریدونکي باندې هم واجبېږي.

۳- اقتداء: که امام د تلاوت د سجدې آیت ولوست په مقتدي باندې هم واجبېږي ، که څه هم چې اوریدلی یې نه وي.

۸- د تلاوت سجدې ادا کول:

تکبیر به وایي (خو لاسونه به غوږونو ته نه پورته کوي) او سجدې ته به ښکته کېږي، داسې سجده به کوي لکه څنګه چې د لمانځه سجده کوي او بیا به له سجدې څخه د پورته کیدو لپاره تکبیر وایي، دا دواړه تکبیرونه ویل واجب دي، د تلاوت سجده کې تشهد او سلام نشته.

په سجدې کې به (سبحان ربی الاعلی) درې ځلې وایي، د تلاوت د سجدې آیتونه په لاندې جدول کې روښانه شوي دي، او همدارنګه په قرآن کریم کې هم دغه ځایونه په نښه شوي دي.

۹- د تلاوت د سجدو شمېر:

شمېره	سورت	آیت	شمېره	سورت	آیت
۱	الاعراف	۲۰۶	۸	النمل	۲۵
۲	الرعد	۱۵	۹	الم سجدة	۱۵
۳	النحل	۴۹	۱۰	ص	۲۴
۴	الاسراء	۱۰۷	۱۱	حم سجدة	۳۸
۵	مریم	۵۸	۱۲	النجم	۶۲
۶	الحج	۱۸	۱۳	الانشقاق	۲۱
۷	الفرقان	۶۰	۱۴	العلق	۱۹

فعالیت

- یو زده کوونکی دې د خپلو ملګرو په وړاندې د تلاوت سجده عملاً اداء کړي او هم دې د وجوب اسباب څرګند کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايئ:

۱. د سهوې سجدې حکم څه دی؟ او سببونه يې په لنډ ډول يې بيان کړئ.

۲. د تلاوت د سجدې اسباب څو او کوم دي؟

۳. د تلاوت د سجدې د آيتونو شمېر څو دی؟

۴. که چېرې امام په لمانځه کې يې اودسه شي څه بايد وکړي؟

لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. د سنتو په پرېښودلو باندې د سهوې سجده .....لازمېږي.

۲. د فرضو پرېښودل د سهوې په سجدې باندې .....کېږي.

۳. د تلاوت سجدې په دې سورتونو .....کې دي.

کورنۍ دنده

پورتنۍ سوالونه سره د ځوابونو په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د ناروغ لمونځ

د ناروغ لمونځ ناروغي ته په کتلو په لاندې ډولونو دی:
۱-کله چې ناروغ ته ودرېدل ناشوني شول بيا به لمونځ په ناسته، رکوع او سجدې سره کوي.
۲-که چېرې کوم ناروغ ته د رکوع او سجدې کول ناشوني شول، بيا به رکوع او سجده په داسې حال په اشاره کوي چې د سجدې اشاره به د رکوع له اشارې څخه ټيټه وي، خو د سجدې لپاره دې څه شی نه پورته کوي چې هلته ورباندې سجده وکړي.
۳-که چېرې څوک په ناسته هم قادر نه و، دا سړی به ستونی ستغ په داسې حال کې څملي چې پښې به يې د قبلې لور ته وي، د سر لاندې به يې د پورته کولو په خاطر بالښت ايښی وي، مخ په قبلې به ملاست، رکوع او سجده به په اشاره باندې ترسره کوي.
۴-کله چې کوم ناروغ په دی قادر نه وي چې د سر په اشاره باندې لمونځ وکړي، له ده څخه لمونځ وروسته کېږي، د سترګو او وريځو په اشارې سره لمونځ کول ورته روا نه دی.
۵- هغه بنده چې په خپل ژوند کې د سر په اشاره باندې په لمونځ کولو باندې قادر نه ؤ او مړ شو، په ده باندې ددې لمونځونو د کفارې وصيت لازم نه دی، آکر که ډېر لږ هم وي.

۲- د مسافر لمونځ:
څرنګه چې سفر ستونزې لري نو ددې لپاره ورته ځانګړي احکام خاص شوي چې په لاندې ډول دي:
۱- د روژې په مبارکه مياشت کې مسافر ته روژه خوړل روا دی.
۲- مسافر ته د سفر په خاطر په اغوستل شويو موزو باندی درې ورځې او شپې مسحه کول روا دي.
۳- په مسافر باندې د جمعې او اخترونو لمونځونه او قربانی نه شته.
۴- مسافر په سفر کې څلور رکعتي فرض لمونځونو کې قصر کوي او دوه رکعته کوي.
همدا راز د لمونځ وروسته کول هم ورته روا دي په هغه صورت کې چې د غلو او شوکمارو څخه وېره ولري.

۳- قصر:
د څلور رکعتيزو لمونځونو نيمايي کول او پر ځای يې دوه رکعته کول قصر بلل کېږي، بناءً د سهار او مابنام لمانځه کې قصر نه کېږي.

۴- د قصر حکم: قصر په سفر کې (عزيمت) دی.

۵- د قصر شرطونه: فقهاء کرامو د قصر لپاره لاندې شرطونه ايښي دي:

ketabton.com - The Digital Library

۱. د سفر اندازه او لیاره به په عادي تګ سره درې ورځې او شپې وي. (۱)
۲. سفر د مسافر د خپل کلي یا قریې څخه د وتلو نه حسابېږي، یعنې کله چې مسافر د خپلې علاقې څخه بیرون شو مسافر بلل کېږي.
۳. د سفر نیت به کوي.
۴. باید کوم سفر چې نیت پې لري له درې ورځو څخه کم نه وي.
۶. **د سفر په هکله مسئلې**:
۱- یو سړی له خپل اصلي ټاټوبي څخه هغه چې پکې زېږېدلی او هستوګنه کوله؛ ولاړ او بل ځای کې پې هستوګنه غوره کړه، د ځینو اړتیاوو له امله د څه وخت لپاره خپل ټاټوبي ته راغی، دا سړی به په خپل اصلي ټاټوبي کې قصر کوي، په دې شرط چې د دواړو تر منځ فاصله درې ورځې او یا له دې څخه زیاته وي.
۲- که له یو چا څخه په سفر کې لمونځونه قضاء شول او بیا کور ته راستون شو د سفر د لمانځه قضایي به دوه رکعته راوړي، او که چېرې په کور کې ترې قضاء شوي وي، او قضاء پې په سفر کې راوړي هم هغه څلور رکعته به پوره کوي.

ارزونه

۱- لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:
أ- د سفر ځانګړي احکام څو دي په لنډ ډول پې بیان کړئ؟
ب- قصر څه ته وایي، او حکم پې څه دی؟
ج- قصر څو شرطونه لري په لنډ ډول پې بیان کړئ؟
۲- لاندې صحیح جملوته (ص) او غلطو جملو ته (غ) نښه کېږدئ:
أ- د سفر اندازه به په عادي تګ سره درې ورځې ده. ( )
ب- که له یو چاځخه په سفر کې لمونځونه قضا شول په کور کې به پې پوره اداءکوي. ( )
ج- په مسافر باندې د جمعې، اخترونو لمونځونه او قرباني نشته. ( )
د- کله چې ناروغ ته درېدل ناشوني شول بیا به لمونځ په ناسته کوي. ( )

کورنۍ دنده

پورتنیو سوالونو ته په خپلو کتابچو کې ځوابونه ولیکئ.

(۱) بعضی معاصرو علماو د شرعی سفر اندازه تقریباً ۸۹ کیلومتره تعیین کړې ده

ketabton.com - The Digital Library

د سیرت النبي ارزښت

الله تعالی فرمایي: **لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ** د الاحزاب سورت،۲۱ آیت.

ژباړه: (په حقیقت کې ستاسو لپاره د الله په رسول کې یوه خورا غوره نمونه ده)

الله تعالی پدې مبارک آیت کې مونږ ته د پیغمبرﷺ په پیروۍ او اطاعت امر کړی دی، لدې امله لازمه د ه چې د نبي کریمﷺ سیرت زده کړو تر څو و کولای شو هغه پسې اقتداء اود هغه لاره تعقیب کړو ، د سنتو او طریقو پلټنه یې وکړو او په لاربښوونو یې عمل وکړو. نو د اسلام په پوهیدو او پیژندو کې د سیرت څه اهمیت دی؟ د سیرت مفهوم او ځانګړتیاوې کومې دي؟ او د سیرت د تدریس موخې څه دي؟

د سیرت تعریف:

په لغت کې: د سنت، طریقې او تګلارې په معنی راغلی دی.

په اصطلاح کې: سیرت د یوه شخص د ژوند حالاتو، تاریخ او هغه پورې اړوندو موضوعاتو ته ویل کیږي.

کله چې سیرت مطلق ذکر شي نو د حضرت محمدﷺ سیرت ور څخه مراد وي.

فعالیت

- د سیرت علم د کوم علم سره زیات ورته والی لري؟ د حدیثو دعلم سره، د تاریخ د علم سره، او که د کوم بل علم سره؟

هغه عمده موضوعات چې په سیرت کې څیړل کیږي عبارت دي له:

دپیغمبرﷺ د میلاد له مهال څخه دنبوت مقدماتي ننبې او ننبانې ، د حضرت محمدﷺ

ketabton.com - The Digital Library

وړوکتوب، رشد، ځواني، په مختلفو حالاتو کې دالله (ج) ساتنه دخپل پیغمبرنه ، پیغمبرﷺ باندې دوحې دنازلیدلو وخت،پټ او ښکاره دعوت ،دقریشو له خوا د مسلمانانو ډول ډول ربړونې ،دمسلمانانو هجرت حبشې ته،د مکې مکرمې څخه بهر داسلام دمقدس دین خپریدل، دیثرب (مدینې منورې) دخلکو سره ترون، یثرب (مدینې منورې) ته هجرت، په مدینه منوره کې داسلامي ټولنې جوړول ،قبائلو او ګاونډیانو سره ترونونه، دمسلمانانو پر ضد د مشرکانو او یهودو توطئې اودسیسې، دهغوی په وړاندې دمسلمانانو دفاع او د پیغمبر اکرمﷺ غزاګانې،ګاونډیو حاکمانوته ددعوت دپیغامونو لیږل،دجزیرة العرب مختلفوسیمو ته د اسلام رسیدل،د پیغمبرﷺ سفرونه، د هغهﷺ ځلانده صفات،او له نیمګړې دنیا څخه دهغه رحلت.

د سیرت النبي ځانګړتیاوې

نبوي سیرت ډېرې ځانګړتیاوې لري چې ځینې یې دا دي :

۱ - د نبي کریمﷺ سیرت د نورو انبیاؤدسیرت په پرتله تر ټولو صحیح ترین سیرت دی، ځکه چې دغه سیرت د متصلو روایاتو، پیژندل شوو او موثوقو شخصیاتو له لارې نقل شوی دی، تردې چې دثبت او تدوین مرحلې ته رسیدلی دی.

د سیرت تدوین په(۱۰۱هجري)کال کې د عمر بن عبد العزیز د خلافت په دورکې پیل شو،نو ځکه د سیرت علماء په ډیرې آسانۍ سره کولای شي د پیغمبر اکرم (ص) صحیح سیرت له ناسمو اقوالو او ضعیفو کیسو څخه جلا کړي.

۲ – دسیرت لار ښوونې هر اړخیزې او دژوند ټولو حالاتوته شاملې دي،چې د هر چا لپاره په هر وخت اوشیبه کې د ژوند غوره نمونه دي.

۳ – د پیغمبرﷺ سیرت روښانه سیرت د ی چې د هغه د ژوند د حالاتو پراوونه په څرګند ډول بیانوي: چې د پیغمبرﷺ د پلار عبد الله او مور بي بي آمنه بنت وهب د واده له وخت څخه پیل ، اود پیغمبرﷺ پیدایښت، بعثت، د دعوت پراوونه، غزاګانی او د پیغمبرﷺ وفات په څرګند ډول بیانوي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي.

د سیرت النبي د زده کړې ارزښت

۱ - د نبي کریم ﷺ سپیڅلی سیرت له فضایلو، نیکواخلاقو، نصیحتونو او عبرتونو څخه ډک دی چې انسان د خیر په لور هڅوی.

۲- د پیغمبر ﷺ دسیرت زده کړه دا روښانه کوي چې د اسلام سپیڅلی دین د صبر،زغم، فکر ، عقل، حکمت،اوبشریت ته د ښیګڼو او ګټو رسولو دین دی.

۳- د پیغمبر ﷺ سیرت مصلحینو اوداعیانوته دټولنې د اصلاح بلنه او لارښوونه کوي.

۴- د پیغمبر ﷺ سیرت داسلام دسپیڅلي دین لوړمقام او برتري د جاهلیت دزمانی دناوړودودونو،بې عدالتیو او ظالمانه رسمونو په پرتله مونږ ته را په ګوته کوی.

۵- د نبوي سیرت لوستل او د پیغمبر ﷺ او اصحابو کرامو له زیارونو اوتکلیفونو(چې د اسلام ددین لپاره یې ګاللي) خبریدل، د انسان صبر، زغم او حوصله زیاتوي.

۶- دسیرت دزده کړې له برکته کولی شو ددین په ډپرومقاصدوپوه شو،اود قرآن کریم د زیاتوآیاتو په تفسیر او شان نزول خبر شو.

۷- نبوي سیرت داسلامي امت د وحدت څرګندونه کوي او دا را په ګوته کوي چې اسلام څرنګه وکولی شودمختلفو ، یوبل دښمنو اوخپرو قومونو، ملتونو او قبائلو څخه یو واحد، قوي عزتمند او یو موټی ملت جوړ کړي، او ټول سره وروړه کړي، او د دوی مشران چې د تقوی، اخلاص او الهي وېرې څخه برخمن وو، د خپلو کشرانو او اتباعو په زړونو کې تر ټولو ګران او عزتمند کړي.

۸- دسیرت لوستل اوتدریس مسلمان ته د اسلامي فرهنګ او پوهې دیوې مهمې برخې دغنامندۍ او بډایني لامل ګرځي . چې عقائدو،احکامواو اخلاقو ته هم شاملیږي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

۱ - نبوي سيرت په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.

۲- د نبوي سيرت درې ځانګړتياوې څرګندې کړئ.

۳- د نبوي سيرت د زده کړې ارزښت د مسلمانانو د ژوندانه په مختلفو اړخونو کې څرګند کړئ.

کورنۍ دنده

ددې لوست دمطالبو خلاصه ديوې لنډې مقالې په لړکې په خپلوالفاظو وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

نبوي سيرت او تاريخ

د تاريخ تعريف:

تاريخ په لغت کې ديوې پيښې دوخت اوزمان تعيين ته وايي.
په اصطلاح کې: د تيرو وختونو دمهمو پيښو او واقعاتو دوخت او زماني ټاکل دي، لکه: دمهمو شخصيتونو،ډلو،دهغوی دژوند اومړک دحالاتو، تمدنونو، ښارونو، دودونو، رواجونو، عاداتو، کړنو، صنعتونواوانسابو څخه بحث کوي.

سيرت د تاريخ اساس او بنسټ دی:

دپيغمبرﷺ سيرت دتاريخ اساس او بنسټ دی چې مسلمانان پرې ويارې،ځکه لومړنی تاريخي پيښې چې مسلمانانو ليکلي دي، هغه دسيرت پيښې وې، بيا د وروستنيو حوادثو تدوين تر نن ورځې پورې د هماغه سيرت لړۍ ده.

د سيرت او تاريخ د سند د نقلولوطريقه:

د روايت په سلسله دتاريخي پيښو نقلول، اوصحيح روايتونه له غلطوروايتونو څخه جلا کول دا يوازې د عربو او مسلمانانو ځا نګړتيا وه چې نور ورځنې بې برخې و، ځکه چې مسلمانانو دسيرت ليکنه خپله ديني وجيبه ګڼله، دوی زيار باسه تر څو په روايتو کې کوم شک او شبه پاتې نشي،او سيرت له هرډول درواغو څخه پاک وي، دغه تګلاره لومړۍ د حديثو او سيرت په ليکنه کې رامنځته شوه، اوبيا دتاريخ په ليکنه کې ورځخه کار واخيستل شو، اودتاريخ پورې اړوندوحقائقود تمييزلپاره معيار وټاکل شو.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- د سیرت او د تاریخ دعلم تفاوتونه واضح کړئ.

د نبوي سیرت مصادر:

مونږکولای شو د نبوي سیرت مصادر په لاندې ډول خلاصه کړو:

۱ - قرآن کریم : د نبوي سیرت یوه پراخه برخه په قرانکریم کې په اجمالي توګه ذکر شوی ده.

۲ - نبوي سنت:دنبوي سیرت زیاته برخه د احادیثو په کتابونو کې ذکر شوې ده،د احادیثوکتابونه عبارت دي له:کتب الصحاح،سنن،مسانید،مستدرکات،معاجم،اود سننو د کتابونو له قاموسونو څخه.

۳ - د محمدي صفاتو (شمایلو) کتابونه:

د محمدي شمایلو کتابونه هغه کتابونه دي چې مؤلفینو یې د نبي کریمﷺ اخلاقو، عاداتو، فضایلو اوسلوکو ته ځانګړې توجه کړې وي.

۴ - د نبوي دلایلو کتابونه (محمدي معجزې):

په دغو کتابونو کې د پیغمبرﷺ معجزي،اود نبوت دلائل ذکر شوي دي.

۵ - د محمدي خصائصو کتابونه :

دغه کتابونه د پیغمبرﷺ او د هغه د امت د خصائصو او ځانګړتیاوو په هکله بحث کوي.

۶ - د غزاګانو کتابونه:

دغه کتابونه د اسلام په اول کې دمسلمانانو د دښمنانو د سازشونو ، دسیسو، د مسلمانانو د دفاع ، او د پیغمبرﷺ دغزواتو څخه بحث کوي .

۷_د سیرت ځانګړي کتابونه:

دغه کتابونه د سیرت دعلم پورې د اړوندو موضوعاتو څخه بحث کوي.

د سیرت د لیکنې پیل او د سیرت مشهور کتابونه:

۱- د صحابه و دوره:د سیرت تدوین په ابتدایي بڼه د(۵۰-۶۰)هجري کلونو څخه پیل شو،چې حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه به خپلو شاګردانو ته د پیغمبرﷺ دنسب ،او دهغه دغز اګانو په هکله معلومات ورکول او هغوی به

ketabton.com - The Digital Library

لیکل،همدا راز عبد الله بن عمرو بن العاص اوبراءبن عازب رضي الله عنهما به هم خپلو شاګردانو ته دسیرت دعلم تدریس کاوه.
۲- د تابعینو دوره: دسیرت تالیف دتابعینو په زمانه کې پیل شو،عروه بن زبیر بن عوام د رسول الله (ص) دغزاګانو کتاب ولیکه.
د پیغمبر (ص) په سیرت او غزواتو کې تر ټولو مهم کتاب چې د تابعینو په زمانه کې ولیکل شو هغه د أبان بن عثمان (رح) کتاب ؤ چې لیکل یې د(۸۳) هجري څخه دمخه بشپړ شو.
د هغه څخه وروسته په دویمه درجه کې د وهب بن منبه چې په (۱۱۰) هجري کې وفات شوی، او د موسی بن عقبه چې په (۱۴۱)هجري کې وفات شوی د سیرت کتابونو دي.
دغو کسانود صحابه کرامو په زمانه کې ژوند کاوه او د هغوی څخه یې زده کړه کړې وه.
۳- د اتباع تابعینو دوره:په دغه دوره کې چې کوم کتابونه لیکل شوي دي په لاندې ډول دي:
«السیر والمغازي» دمحمد بن اسحاق (المتوفی ۱۵۱هـ) لیکنه، او«السیرة النبویة» د ابن هشام (المتوفی ۲۱۳ هـ) لیکنه ، دې دواړو مؤلفانو دتابعینو څخه زده کړې کړې وې.
همدارنګه(الموطأ) دامام مالک (رح) (المتوفی ۱۷۹ هـ)لیکنه،دا د احادیثو کتاب دی خو زیاته برخه احادیث یې دپیغمبر (ص) په سیرت او اوصافو پورې اړه لري. (صحیح البخاري) د محمد بن اسماعیل البخاري (رح) (المتوفی۲۵۶ هـ) لیکنه، او(صحیح مسلم) دامام مسلم (رح)(المتوفی ۲۶۱هـ) لیکنه، په دغو کتابونو کې د احادیثوډېره برخه دپیغمبر (ص) دنبوت څخه مخکې او وروسته، د ژوند حالات ،د هغه خصائص،فضائل، غزوات، او د یارانو مناقب او فضیلتونه بیانوي.
وروسته بیا نور کتابونه هم ولیکل شول چې ځینې یې دا دي:
۱- عبد الملک بن هشام د محمد بن اسحاق کتاب (السیر والمغازي) مختصر کړ، بیا د دغه (مختصر) لپاره، امام ابو القاسم عبد الرحمان اندلسي د (الروض الانف) په نوم شرحه ولیکله.

ketabton.com - The Digital Library

۲- محمد بن سعد چې د واقدي شاګرد و د(الطبقات الکبری) کتاب په اتو جلدونو کې ولیکه چې لومړی اودویم جلد یې یواځې د پیغمبرﷺ د سیرت او غزواتو د بحث لپاره ځانګړی شوی دی.
په اوسني عصر کې د سیرت په مختلفو اړخونو کې ډیر کتابونه تألیف اوتدقیق شوي دي چې ځینې یې لاندې ذکرشوي دي:
- سیرة النبي: دامام ابن کثیر لیکنه.
- سیرة النبي: دعلامه شبلي نعماني لیکنه.
- الرحیق المختوم: دمبارکپوري لیکنه.
- فقه السیرة:د محمد الغزالي لیکنه.
- نبي الرحمة:د محمد بن مسعد یاقوت لیکنه.
_تهذیب سیرة النبي(ابن هشام)د عبد السلام هارون لیکنه. (۱)

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي.

ارزونه

۱. د نبوي سیرت تاثیر د تاریخ په تدوین کې بیان کړئ.
۲.د سیرت النبيﷺ تدوین په مستقله توګه څه وخت پیل شو؟ او د دوو کتابونو نومونه واخلئ چې په مستقیمه توګه د نبوي سیرت په هکله تالیف شوي وي.

کورنۍ دنده

د لوست مهم مطالب په مختصرډول په خپله ژبه د یوې مقالې په لړکې ولیکئ.

(۱) د (سیرت د لیکنې پیل او د سیرت د مشهورو کتابونو) بحث، اضافي معلومات دي، او په امتحان کې شامل نه دی .

ketabton.com - The Digital Library

د اسلام څخه وراندې د جزيرة العرب حالت
الف - (د بتانو د عبادت پيل)

د شپږمې پيړۍ په دويمې نمايي کې د جزيرة العرب حالت

- په عربي جزيره کې حاکم دين کوم ؤ؟
- د بتانو عبادت څرنګه شروع شو؟
- بتان له کومه ځايه څخه عربي جزيرې ته راوړل شول؟

د دين تعريف:

دين په لغت کې: د شريعت، قانون، مذهب، ملت، لارې، جزا او حساب په معنا راغلی دی.

په اصطلاح کې: د انسانانو د ژوند هغه نظام دی چې اعتقادي، فکري، اخلاقي او عملي اړخونه يې په بر کې نيسي.

ketabton.com - The Digital Library

د اسلام څخه دمخه د عربانودين:

له هغه وخته چې په مکه مکرمه کې د ابراهيم عليه السلام ځوځات (نسل) ميشت شول، اوبيا د عربي جزيرې په نورو سيمو کې خپاره شول، نو عربان د ابراهيمي دين پيروان وو. د يو الله بنده ګي يې کوله ،خو د يوې اوږدې مودې دتيريدو وروسته هغوی هغه څه چې يې زده کړي و هغه يې هيرکړل، او پرته له ځينو ديني شعائرو څخه نور هيڅ شی هم په هغوی کې پاتې نه و.

د بتانو دعبادت پيل:

د لومړي ځل لپاره د نوح عليه السلام په زمانه کې د بتانو عبادت پيل شو. د نوح عليه السلام د قوم څخه پنځه تنه د (ود، سواع، يغوث ، يعوق او نسر) په نامه نيک، ښه او عبادت کوونکي خلک وو، د هغوې مرګ د خلکو د وېرې غم او خپګان لامل و ګرځيد، يوه سړي دوی ته وويل: آيا ددوی څيرې ستاسو لپاره د لرګي څخه جوړې کړم، چې د هغو په ليدو سره تاسوته آرامي حاصله شي؟ دوی وويل : هو !که کولای شې داکار وکړه .

نو څيرې يې د هغوی د ژوندانه د حالت په شان د خلکو لپاره جوړې کړې د هرې کورنۍ چې به کومه څيره خوښيده هماغه به يې وړه او په خپلو کورونو کې يې کيښوده، هغې ته به يې کتل او څه اندازه غمونه او اندېښنې به يې کميدلې، وخت په همدې توګه تيريده، دويمه او دريمه پيړۍ يو په بل پسې تيرې شوې خو ټولو خلکو به د هغو څيرو سره د لومړنۍ پيړۍ په شان کړنه کوله تر څو څلورمه پيړۍ را ورسيده، خلکو وويل: که چيرې مونږ ددغو نيکو او صالحو اشخاصو د څيرو عبادت وکړو نو دا به الله ته زمونږ د نړدېوالي لامل و ګرځي او دوی به د الله په وړاندې زمونږ شفاعت وکړي، بناء ددغو مجسمو، اوشکلونو عبادت يې پيل کړ،اوراتلونکو نسلونو هم دې کار ته دوام ورکړ.

ketabton.com - The Digital Library

د عربو پر ځمکه دبتانو د عبادت پیل:

پیغمبرﷺ د الله جل جلاله د لوري د اسې خلکو ته ولیږل شو چې هغوی د جاهلیت په تورو تیارو کې ژوند تیراوه او دغه تیاره دهغوی د ژوندانه په هره برخه حاکمه وه.

له دې څخه مخکې ټول عرب د ابراهیم (علیه السلام) دسپیڅلي دین پیروان وو.

یو کس چې عمرو بن لحی نومیده ،او دبني خزاعه د قبیلې مشرو، هغه یوه ورځ شام ته سفر وکړ،کوري چې د شام خلک د بتانو عبادت کوي، داکار یې ډیر خوښ شو، له شام څخه یې یو بت چې (هبل) نومیده له ځانه سره مکې ته راوړ،اود کعبې شریفې په منځ کې یې کیښود. دمکې خلک یې ددغه بت بندګۍ ته راوبلل دمکې خلکو دده بلنه ومنله ،اودبتانو عبادت یې پیل کړ، لږه موده وروسته د ټول حجاز اوسیدونکو د مکې دخلکو لاره ونیوله.

د حجاز دخلکو دپخوانیو بتانو له جملې څخه (لات،منات اوعزا) وو،چې په مختلفو سیمو کې یې شتون درلود. له دې وروسته بت پرستي او د الله جل جلا له سره شریک نیول په ټول حجاز کې خپور شو، په هر کلي او بیا په هر کور کې د بتانو عبادت پیل شو، مسجد الحرام یې له بتانو څخه ډک کړ، په دې توګه بت پرستي د جاهلیت ددین یو مظهر وګرځید.

د بت پرستۍ مراسم:

د بت پرستۍ مراسم دا رنګه وو:

خلکو به د بتانو عبادت کاوه، هغوی ته به یې پناه وړه ، په ستونزو کې به یې بتانو ته فریاد او زاری کولې، خپل ضرورتونه او اړتیاوې به یې له بتانو غوښتلې، داسې عقیده یې در لوده چې بتان د الله په وړاندې زمونږ سپارښتنه کوي، د هغو په شا اوخوا به یې طوافونه کول، هغو ته به یې سجدې کولې، او د بتانو لپاره

ketabton.com - The Digital Library

او دهغو په نامه به يې قربانۍ کولې.
خپل هر شی (خير او شر) به يې په غشو معلومول، د کاهنانو، منجمانو او غيب ويونکو په خبرو يې باور درلود، فال اچونه په هغوکې مروجه وه.
دا دين- چې پر شرک، بت پرستۍ ، وهمياتو او خرافاتو ولاړ و، د ډيرو عربانو دين و.

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او يا کروپي شکل د سوال او ځواب په طريقې سره تکرار کړي.

۱. دين په لغت او اصطلاح کې څه ته وايي؟ تعريف يې کړئ.
۲. د کعبې شريفې په چاپيريال کې خلکو څه وخت د بتانو عبادت پيل کړ؟
۳. مشرکان په بت پرستۍ کې د يو شمير مراسمو پابند وو ځينې له هغو څخه شرحه کړئ.

د لوست مطالب په مختصر ډول د يوې مقالې په ترڅ کې په خپله ژبه وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د اسلام څخه د مخه د عربو حالت
ب-(ديني، اخلاقي، ټولنيز او سياسي حالت)

د اسلام د ځلانده لمر د څرک وهلو نه وړاندې عربو څرنګه اخلاق درلودل؟ او د هغوی ټولنيز او سياسي حالت څرنګه وو؟

ديني حالت:

کله چې د اسلام سپېڅلی دين څرګند شو، عربانو چې د ابراهيم (ع) ددين د پيروۍ دعوا يې درلوده دهغه دشريعت د اوامرو او نواهيو څخه ډير لری پاتې وو، د ګڼ شمير بتانو عبادت يې کاوه اود ابراهيمي دين ټول اخلاقي مکارم يې پريښې و.

له همدې امله د وخت په تيريدو سره په دوی کې ناوړو تقليدونو او دودونو وده وکړه،چې په پايله کې بت پرستي منځ ته راغله، دغو کارونو د دوی په ديني، ټولنيز او سياسي ژوند باندې د پام وړ اغيزې وکړې.

اخلاقي او ټولنيز حالت:

پرته له شکه د عربو د جاهليت په دور کې داسې ناوړو، ټيټواوناکارو اخلاقو شتون درلود چې سليم عقل نشو منلی او بيداره وجدان نشو قبلولی، خو ددې تر څنګ د دوی په منځ کې ځينې ستايل شوي اخلاق او غوره عادتونه هم و چې د عربو مشرانو او شاعرانو به پرې ويار کاوه لکه: سخاوت، ځوانمردي،په وعدو وفا،ميړانه ،عزت النفس اوداسې نور.

ketabton.com - The Digital Library

عربي ټولنه په بيلا بيلو طبقو ويشل شوې وه چې دهرې طبقې ژوند به د بلې طبقې له ژوند سره توپير درلود.
نارينه به د کورنۍ مشر، او دپوره واک خاوند و، د سړي او ښځې اړيکه د واده د مراسمو په ترڅ کې د ښځې د اولياؤ د نظر لاندې سرته رسيده، خوپه ځينوطبقاتو کې به د سړو او ښځو ترمنځ ډول، ډول ناروا اړيکو شتون درلود چې مونږهغې ته د بدکارۍ، فساد او بې پتۍ پرته بل تعبيرنه شوورکولی. دجاهليت په زمانه کې به د ډېرو ښځو لرل د يوه کس لپاره په ميړانې، ويړاونيکۍ دلالت کاوه، د پلرونو ښځې(ميرې) به بې له طلاقيدو يا د پلار له مړينې څخه وروسته زامنوپه نکاح کولې.
پلرونو به د خپلو اولادونو سره جلا، جلا چلند درلود، ځينو به ويل: زامن زموږ د ځيګر ټوټې دې چې د ځمکې په سر ګرځي، او ځينو به خپلې لورګانې د ننګ، عار، فقر او لوږې له امله ژوندۍ خښولې، د زوی په زيږيدلو به خوشحاله کيدل،اود لونې په زيږيدنه به خورا زيات خپه کيدل او د ډېر غم او قهر له کبله به بې د مخونو رنګونه توريدل، د خلکو څخه به پټيدل ،ګواکې چې په کور کې ورته کوم لوی غم پيښ شوی دی. خرافات ددوی ترمنځ دومره اوج ته رسيدلي وو چې کله ناکله به بې خپل مقصد ته د رسيدو په موخه زامن نذر او قرباني کول اوخلکو به د ځارويو په څير ژوند کاوه.
ښځې به بې د خرڅلاو لپاره بازار ته وړاندې کولې او کله به هم ورسره د کانې، لرګيو او نورو جماداتو په څير معامله کيده.

ketabton.com - The Digital Library

سیاسي حالت:

د اسلام د ظهور په وخت کې د عربي جزیرې حاکمان په دوه ډوله وو:

۱ – تاجداره پاچاهان : چې دا ډول حاکمان په حقیقت کې دخپلواکۍ او بشپړې آزادۍ څخه برخمن وو.

۲ – د قبایلو او پرګنو مشران : ددغو مشرانو حاکمیت او امتیاز د تاجدارو پاچا هانو په څېر و، ډیرو بې بشپړه آزادي درلوده خو ځینو نورو بې د تاجدارو پاچاهانو پیروي کوله.

هغوخلکوبه د قبیلو مشري په غاړه اخیسته چې دنورو په پرتله به بې ډیره پانګه او طاقت درلود.

قبیله د یوه واړه حکومت په څیر وه چې دقومي یووالي، متقابلې ګټې او د خپلې خاورې د ساتنې او د دښمن د ځپلو پر بنسټ تشکیلیده.

د حجاز حکومت د ټولو عربانولپاره د احترام وړ و، هغه بې د ديني مرکز لاربنود، ساتونکی او خادم ګڼلو، د اوسني پارلمان په څیرد ادارو او تشکیلاتو خاوند و، خو دا حکومت ډیرکمزوری او ناتوانه وه.

اقتصادي حالت:

اقتصادي حالت د ټولنیز او امنیتي حالت تابع وي، دا قضیه هغه وخت په سمه توګه روښانه کیږي چې دهغوی د ژوندانه بڼې اوحالت ته نظر وکړو، تجارت چې د ژوندانه د اړتیاو د پوره کولو تر ټولو لویه وسیله ده یوازې د سولې او امن په سیوري کې وده کولی شي؛ چې سوله او امن په جزیرة العرب کې یوازې د حرامو په میاشتو (اشهر الحرم) کې شتون درلود، او د عربو مشهور بازارونه به په همدې میاشتو کې ګرمیدل.

دخارویو ساتنه په جزیرة العرب کې رواج درلود، په ځینو سیمو کې به کرهڼه او

ketabton.com - The Digital Library

زراعت هم ترسترګو کیده، د عربوډپرې بڼځې به په وړیو وریشلو اخته وي خو دا ټول شیان به په جګړه کې له منځه تلل، بې وزلي ، لوږه او بربنډتوب د ټولنې په ټولو برخو څرګند وو.

دښمني، د قوم او قبیلې پلوي کول ددوی په منځ کې عامه وه،خلک په ډلواوګروپونو ویشل شوي وه او هرې ډلې به یوازې د خپلې قبیلې او خپل ټولې لپاره کار کاوه.

د شخړې او جګړې پر مهال به هیڅا هم دا لټه نه کوله چې حق د کومې ډلې سره دی، بلکه د هغوی کوښښ به دا وو چې څرنګه بل لوری زیانمن، ناتوانه او کمزوری کړي.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یاګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقه تکرار کړي

ارزونه

۱- د جاهلیت په زمانه کې دعربودیني اواخلاقي حالت بیان کړئ .

۲- د جاهلیت په زمانه کې دعربوسیاسي او اقتصادي حالت بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د لوست مهم مطالب په مختصرډول په خپله ژبه د یوې مقالې په لړکې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم نسب

د نبي کریم (ص)د نسب سلسله چیرته رسیږي؟ او نبوي کورنۍ کومه ده؟

د پیغمبر اکرم (ص) نسب:

نوم یې محمد بن عبد الله بن عبدالمطلب بن هاشم قریشي دی،چې د نسب سلسله یې عدنان او د هغه څخه پورته اسماعیل بن ابراهیم علیهما السلام ته رسیږي .

نبوي کورنۍ:

نبوي کورنۍ په هاشمي کورنۍ مشهوره ده چې نسبت یې د نبي اکرم (ص)نیکه هاشم بن عبد مناف ته کیږي ،لدې امله باید د هاشم او له هغه څخه وروسته امورو او حالاتو ته یوه کتنه وکړو.

هاشم:

هاشم چې نوم یې عمرو و، هغه د بني عبد مناف د ځوځات نه یوازنی کس و چې د الله د کور زایرینو ته یې اوبه ورکولې او د هغوی خدمت یې په غاړه درلود، بډای شخص و او د خلکو په منځ کې د زیات شرافت او عزت څخه برخمن و.

عبدالمطلب:

عبد المطلب به د هاشم په څیر دا لله (ج) دکور میلمنو ته اوبه ورکولې،او دهغوی خدمت به یې کاوه، اود خپل قوم په منځ کې داسې شرف، عزت او مرتبې ته ورسیده چې هیڅ یو له نیکونو څخه یې دې مقام ته نه و رسیدلی.

د عبدالمطلب په زمانه کې د کعبې شریفې په هکله دوه مهمې پیښې واقع شوې:

- د زمزم د څاه کیندل.
- د فیل واقعه.

ketabton.com - The Digital Library

۱- د زمزم د څاه د کیندلو لنډه کیسه:

د زمزم دکوهي داخلي نقطه

عبدالمطلب ته په خوب کې د زمزم د څاه ځای ور په ګوته شو، بیایې د څاه په کیندلو پیل وکړ، په څاه کې یې قیمتي شیان لکه توري، زغري او دوه د سرو زرو هوسۍ و موندلې چې (جرهمیانو) د خپلو وتلو په وخت هلته خښې کړې وې. د تورو څخه یې کعبې ته دروازه جوړه کړه او دواړه د سرو زرو هوسۍ یې په دروازه کې کینښودلې او حاجیانو ته یې دزم زم داوبو ورکول پیل کړ.

کله چې د زمزم څاه ښکاره شوه نو قریشو د عبدالمطلب سره جنجال او منازعه پیل کړه، هغه ته یې وویل: مونږ ته هم په هغې کې برخه راکړه.

عبدالمطلب وویل: زه داسې کار نه کوم.

د قریشو سره د همدې منازعې په پایله کې عبدالمطلب پر خپل ځان نذر کینبود، چې که چیرې الله (ج) ده ته لس زامن ورکړل، او په هغه څه کې بریا ته ورسیږي چې د قریشو سره په کې ښکیل دی نود خپلو زامنو څخه به یو تن په کعبه کې قرباني کړي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقه تکرار کړي

د فیل د پېښې لنډیز:



کله چې (حبشي ابرهه) چې په یمن کې د حبشې د پاچا والي و، په کعبه شریفه کې د عربو د زیارت کول او راټولیدل ولیدل نو لوی معبد یې د (صنعا) په ښار کې جوړ کړ، او غوښتل یې چې خلک د مکې په ځای هلته ولاړ شي، او د شپیته زریز لښکر سره د مکې په لورې روان شو، تر څو کعبه ورانه کړي،او د ځان لپاره یې لوی فیل غوره کړ،اوخپل حرکت ته یې دوام ورکړ،کله چې لوی فیل د محسر وادۍ ته (چې د منی او مزدلفې تر منځ پرته ده) ورسید، فیل یې خپله سینه پر ځمکه کیښوده او جګ نشو د کعبې په لورې له ورتګ څخه یې ډډه وکړه.

ketabton.com - The Digital Library

عبدالمطلب د ابرهه په وړاندې:

عبدالمطلب د څو زامنو سره د ابرهه د پوځيانو د مرکز په لوري حرکت وکړ، کله چې د ابرهه دروازې ته ورسيدل ، ابرهه ته وويل شو، عبدالمطلب ستا د دروازې مخې ته راغلی دی.

هغه وويل: عبدالمطلب څوک دی؟

هغه ته وويل شو: هغه د قريشو مشر او دمکې دکاروان څښتن دی ، هغه خلکو ته په هواره ځمکه او هوايې مرغانو ته د غرونو په لوړو څوکو کې خواړه ورکوي.

ابرهه ورته د داخليدو اجازه ورکړه.

بيا يې خپل ژباړونکې ته وويل: له هغه څخه پوښتنه وکړه چې څه اړتيا لري؟ ژباړونکې د حاجت پوښتنه وکړه.

هغه وويل: حاجت مې دا دی چې دوه سوه اوښان مو زما نيولي دي، هغه ماته بيرته راکړه.

ابرهه خپل ژباړونکې ته وويل:کله مې چې ته وليدې په حيرت کې شوم خوکله مې چې ستا خبرې واوريدې نو ډير يې اعتنا او يې پروا شوم. زه راغلی يم څوکعبه ونړوم، هغه کعبه چې ستا دين او ستا د پلرونو دين دی، ته ددوو سوو اوښانو په هکله زما سره خبرې کوې؟ او دکعبې په هکله هيڅ نه وايې؟

عبدالمطلب وويل: (**أنا ربُّ الإبلِ ، وللبيتِ ربٌّ يَحْمِيهِ**) زه د اوښانو څښتن يم ،کعبه خپل څښتن لري ، هغه به يې ساتي.

ابرهه د عبدالمطلب د خبرو په ځواب کې وويل : هيڅوک نشي کولای چې زما د پرمختګ خنډ شي.

عبدالمطلب ورته وويل: نور دا ستاکار دی .

نو هغه دوه سوه اوښان يې چې نيولي وو عبدالمطلب ته واپس کړل.عبدالمطلب را ستون شو او قريش يې دکيسې څخه خبرکړل، بيا يې دکعبې د دروازې په کړۍ او پردو پورې خپل ځان په ډير عجز ، ويرې او زارۍ و ځړاوه، عبدالمطلب او قريشو الله تعالی ته پناه يوړه او د هغه څخه د مرستې او ساتنې غوښتونکي شول. بيا د مکې څخه ووتل څو په درو، غارونو او د غرونو په څوکو کې پناه واخلي او په دې انتظار وو چې قادر او توانا خدای څه وخت د ظالمو سرکښانو ټغر ټولوي.

ketabton.com - The Digital Library

کله به چې د ابرهه لښکر د سهیل ، شمال یا ختیځ په لورې روانیده نو فیل به په چابکۍ سره مخکې کیده او کله به بې چې د کعبې په لوري مخ کاوه فیل به په ګونډو کیده او خپله سینه به یې په ځمکې کښوده، په همدې حالت کې وو چې الله تعالی پر هغوی باندې د وادي محسر په سیمه کې ډلی، ډلی مرغان را ولیږل او هغوی یې د سجیل په کانړو وویشتل، په پایله کې هغوی د خوړل شوو وښو په څیر و ګرځیدل، الله تعالی ابرهه په داسې رنځ اخته کړ چې غړي یې بند بند جدا کېدل صنعا ته په لار کې و چې زړه یې وچاودید سینه یې څیرې شوه او هلاک شو.

دا واقعه د محرم په میاشت کې پنځه پنځوس ورځې مخکې د نبي کریم (ص)د زیږیدنې څخه منځ ته راغله.

فعالیت

- څوتنه زده کوونکي دې (دښوونکي) په مرسته دپورتني لوست ځینې برخې دټولګیوالو په وړاندې تمثیل کړي

عبدالله د پیغمبر صلی الله علیه و سلم پلار:

د نبي کریم (ص) د پلار نوم عبدالله و، عبدالله د عبدالمطلب تر ټولو ښه زوی او دی هماغه ذبیح دی.

کله چې د عبدالمطلب زامن لسو تنو ته ورسیدل او پوه شو چې هغوې کولای شي د قریشو مخه ونیسي نو زامنو ته یې د خپل نذر خبره وکړه، او دوې فرمانبرداراي ښکاره کړه، نومونه یې په غشو ولیکل او هغه یې د هبل ساتونکي ته ورکړل څو په غشو فال ونیسي، غشی د عبدالله په نامه راووت. عبدالمطلب عبدالله او چاړه د ځان سره واخیستل، او د کعبې په لور یې منډه کړه تر څو عبدالله حلا ل کړي، قریشو او په ځانګړې توګه ابو طالب او ماما ګانو یې د عبدالله د حلالولو مخ نیوی کاوه.

بیا یې غشی د عبدالله او سلو اوښانو تر منځ واچوه غشی د اوښانو په نامه راووت، عبدالمطلب سل اوښان د عبدالله په ځای حلال کړل.

ketabton.com - The Digital Library

د پیغمبر (ص) مور آمنه:

عبدالمطلب د خپل زوی عبدالله لپاره یوه نجلۍ د آمنې بنت وهب بن عبد مناف په نامه غوره کړه هغه په خپل وخت کې د مرتبې او نسب له حیثه د قریشو بهترینه نجلۍ وه، پلار یې د بنې زهره د قبیلې سردار و، عبدالله په مکې کې د هغې سره واده وکړ.

بیا وروسته د تجارت په مقصد شام ته ولاړ، په لاره کې ناروغ شو، د ناروغتیا په حالت کې مدینې ته ورسید او هلته د ۲۵ کلنۍ په عمر وفات شو.

درسونه او عبرتونه:

۱ – د کعبې شریفې عظمت او لویې.

۲ –د بیت الله ،او قریشو به مقابل کې د ابر هه کینه، اوحسد.

۴ – پدې اړوند کلک او راسخه ایمان درلودل چې پاک الله (ج) دخپل کور دفاع او ساتنه په خپله کوي.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي.

ارزونه

۱. نبوي کورنۍ په هاشمي کورنۍ مشهوره ده ، هاشم څوک دی؟

۲. د الله د کور په هکله عبدالمطلب ته دوه مهمې واقعې پیښې شوې هغه څه وې؟ څرګندې یې کړئ.

۳. د نبي کریم (ص)پلار څه وخت وفات شو؟

کورنۍ دنده

د لوست مهم مطالب په مختصر ډول په خپله ژبه د یوې مقالې په لړکې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د نبي کريم (ص) پيدايښت

د نبي کريمﷺ ميلاد په ټول انساني تاريخ کې يوه لويه پيښه وه چې د تاريخ او بشري ژوند مجرا ته يې بدلون ورکړ.

نو د ميلاد پيښه يې څنګه وه؟ او د ماشومتوب دوره يې څنګه تيره شوه؟

مولد النبيﷺ:

پيغمبراکرمﷺ د دوشنبې په سهار چې د ربيع الاول دولسمه وه د ابو طالب په کور کې د بنې هاشم له ځو ځا ته دنيا ته تشريف راوړ. دا ميلاد د عام الفيل چې د(۵۷۱)م کال د اپريل د مياشتې له شلمې يا دوه ويشتمې نيټې سره برابره ده منځ ته راغي.

کله چې محمدﷺ دنيا ته راغی، مور يې هغه خپل نيکه عبد المطلب ته وليږه او همد ا راز هغه ته يې د خپل لمسي د زيږيدنې په هکله زيری ورکړ، عبدالمطلب خوشحاله شو او لمسی يې د کعبې شريفې داخل ته يوړ، د الله تعالی شکر يې اداء کړ او هغه ته يې د محمد نوم غوره کړ په داسي حال کې چې دا سې نوم په عربو کې نا اشنا و، او هغه يې په اوومه ورځ سنت کړ.لومړنی ښځې چې محمدﷺ ته د هغه د مور څخه وروسته شيدې ورکړې، ثويبه د ابولهب وينځه وه.

ketabton.com - The Digital Library

د بني سعد په قبيله کې:

د عربو ښاريانو عادت در لود چې د خپلو ماشومانو لپاره به يې شيدې ورکوونکې ښځې(مرضعې) کتلې تر څو د هغوې ماشوم د ښار د بيماريو څخه لرې خپل ژوند تېرکړي، قوي جسمونه او اعصاب ولري او د عربي فصيحه ژبه په اصلي ټاټوبي کې په سمه توګه زده کړي.

عبدالمطلب هم د بني سعد بن بکر له قبيلې څخه يوه ښځه د حليمه سعديه په نامه د خپل ماشوم د شودو ورکولو لپاره غوره کړه.

د پيغمبرﷺ رضاعي ورونه - حمزه بن عبد المطلب، عبد الله بن حارث، ابو سفيان بن حارث، او رضاعي خويندې يې - انيسه بنت الحارث او شيما بنت الحارث دي.

د مهربانې مور په غېږ کې:

حليمې سعد يې د شيدو د مودې د پوره کيدو څخه وروسته محمدﷺ خپلې مور ته وسپاره، تر شپږ کلنۍ پورې يې د خپلې مور په څنګ کې ژوند کاوه، نو آمنې بي بي هوډ وکړ چې د خپل ميړه په ياد يثرب کې د هغه د قبر زيارت وکړي.

آمنه د خپل يتيم زوی محمدﷺ، خادمه ام ايمن او پالونکي عبدالمطلب سره له مکې څخه روانه شوه او د پنځوسوو کيلو مترو فاصلې د وهلو وروسته يثرب ته ورسيده يوه مياشت يې هلته تيره کړه د بيرته را ستنيدو پر مهال آمنه ناروغه شوه او د لارې په اوږدو کې يې ناروغي سختيده چې بالآخره د (ابواء) په سيمه کې چې د مکې او مدينې تر منځ پرته وه وفات شوه اوهم هغلته دفن شوه.

ketabton.com - The Digital Library

د زړه سواندي اوخواخوږي نيکه سره:

عبدالمطلب د محمدﷺ سره يو ځای مکې ته راستون شو، دعبد المطلب زړه سوی، مهرباني او شفقت پر خپل يتيم لمسي باندې ورځ په ورځ زياتېده ،ځکه په داسې ازمينښت کې ولويده چې دده تير پرهرونه يې بيا را تازه کړل، په محمدﷺ يې زړه سوی او نرمي دومره زياته شوه چې په هېڅ يو زوی يې دومره نه وه زياته شوې، هغه به ويل: په الله قسم چې د ده په وجود کې لويي او دبدبه نغښتې ده ، نو د هغه سره به په يوه فرش کيناسته، د هغه په سر به يې لاس راکاږه او د هغه هر کار د عبد المطلب د خوشحالۍ لامل ګرځيده.

لنډه دا چې اته کاله يې د خپل ارزښتناک عمر تير کړل چې نيکه يې (عبدالمطلب) په مکه کې وفات شو او د وفات څخه مخکې يې ابو طالب چې د محمدﷺ تره و د خپل لمسي د سرپرستۍ او پالنې لپاره وګماره.

د خپل تره د سيوري لاندې:

ابو طالب د خپل وراره محمدﷺ حق لکه څنګه چې لازم و اداء کړ. پيغمبرﷺ يې دخپل زوي سره يو ځای کړ هغه ته به يې ځانګړی درناوی او عزت ورکاوه او د تل لپاره يې ملاتړ و.

فعاليت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او يا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طريقې سره تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

۱. پیغمبرﷺ څه وخت پیدا شو؟

۲. د محمدﷺ د مور د وفات پیښه شرحه کړئ.

۳. د رسول اللهﷺ د مور له مړینې وروسته د هغه نیکه د رسول اللهﷺ سره څرنګه کړنه کوله؟

کورنۍ دنده

د لوست مهم مطالب په مختصر ډول په خپله ژبه د یوې مقالې په لړ کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

محمدﷺ د ځوانۍ په درشل کې

محمدﷺ د وړوکتوب دوران تير کړ خو د بلوغ مرحلې ته ورسيد په ميړانه، امانت، صبر او استقامت کې يې ساری و، هميشه يې ربښتيا ويل او له ناوړو کارونو څخه يې ځان ژغوره تر دې چې د خلکو په منځ کې په (امين) مشهور شو.

علي بن ابي طالب (رض) وايي:پيغمبرﷺ د ښه خوی ، نرم مزاج او ورين تندی خاوند و، هيڅ کله هم بدخويه، زړه سختی، بد ويونکی او عيب پلټونکی نه و... نو دده دوړوکتوب او د ځوانۍ پر مهال څه نښې ښکاره شوې چې ځينو يې د ده پر نبوت ګواهي ورکوله. نو دغه پېښې چې را منځ ته شوې کومې دي؟

بحيرا راهب:

کله چې پيغمبر (ص) دولس کلنۍ ته ورسيد، کاکا يې ابو طالب هغه د تجارت په نيت له ځان سره شام ته بوتلو، تردې چې بصرې ته چې په شام کې د عربو يوه سيمه ګڼل کيده او د يونايانو د سلطې لاندې وه ، ورسيدل. په دې ښار کې يو راهب د جرجيس په نامه چې په (بحيرا) مشهور ؤ ژوند کاوه، کله چې قافله ورسيده بحيرا ددې قافلې خواته ورغی او په پوښتنو او پلټنو يې پيل وکړ تر څو د پيغمبرﷺ حضورته ورغی او هغه يې له لاسه ونيوه او وه يې ويل: دا (کس) د عالميانو سردار او د پروردګار رالېږل شوی پيغمبر دی، دا هغه څوک دی چې پاک الله به يې د عالميانو د رحمت لپاره غوره کوي.

او بيا يې دوې ته ډيره درنه ميلمستيا وکړه، ددوې اکرام او عزت يې وکړ، او له ابو طالب څخه يې وغوښتل چې هغه بيرته مکې ته بوځي او په راتلونکې کې يې هم د شام له راتګ څخه وساتي، هسې نه چې يونانيان او يهوديان ده ته تاوان ورسوي. ابو طالب د راهب خبره ومنله او دی يې د خپلو زامنو سره مکې ته وليږه.

د فجار جګړه:

نبي کريمﷺ شل کلن و چې د عکاظ په بازار کې د قريشو چې بنې کنانه هم ورسره ملګري وه او د قيس عيلان د قبيلې تر منځ جګړه پېښه شوه، دا جګړه د فجار په نامه مشهوره ده.

ددې جګړې لامل داو چې دبنې کنانه قبيلې د قيس دقبيلې څخه درې سړي ووژل ، سمدستي داخبره دعکاظ په بازار کې خپره شوه دواړه خواوې د جنګ لپاره راولاړې شوې

ketabton.com - The Digital Library

اویو د بل څخه بې د دیت غوښتنه کوله په دې جنګ کې د قریشو او بني کنانه سرمشري د حرب بن امیه په غاړه وه ، دجنګ په لومړۍ ورځ د قیس قبیله پر بني کنانه بر لاسې وه خو د ورځې په پای کې جګړه دقریشو په ګټه تمامه شوه.

د جګړې پر مهال د قریشو ځینو وګړو دواړه خواوې سولې ته را وبللې ، په دې توګه چې دواړه خواوې دې خپل مړي وشمیري ،هر لوري چې ډیر مړي درلودل د هغو دیت دې واخلي ، سوله په همدې توګه تر سره شوه، کومه دښمني اوکرکه چې ددوی تر منځ وه له منځه ولاړه او دا جګړه د فجار په نامه لدې کبله ونومول شو ه ځکه چې په دې جګړه کې د حرامو میاشتو حرمت او عزت له منځه تللی و.

د فضول ټرون (حلف الفضول):

د فضول ټرون د هغه عزتمن ټرون څخه عبارت و چې د بیوزلو او غریبانو د حقوقو د دفاع او ساتنې لپاره را بلل کیده، کله چې قریش د فجار له جګړې څخه را ستانه شول، نو هغوې دا ټرون په مکه کې د عبدالله بن جدعان په کور کې وکړ.

په دې ټرون کې ټولو ژمنه وکړه چې په مکه مکرمه کې که د مکې اوسیدونکي وي یا د کوم بل ځای، په هر چا چې تیری او ظلم وشو، نو د مظلوم په ځنګ کې به ودریږو او له هغه څخه به ملاتړ کوو تر څو مظلوم ته د هغه حق ورکړل شي. قریشو دا ټرون د (حلف فضول) په نامه ونوماوه.

دې ټرون د قریشو مرتبه د نورو قبایلو په منځ کې لوړه کړه کله چې پیغمبر (ص)په دې ټرون کې برخه واخیسته نو په دغه وخت کې شل کلن و.

داټرون د (حلف الفضول) به نامه ځکه ونومول شو چې دې ټرون د جرهم د قبیلې (حلف الفضول) د ټرون سره ورته والی اومشابهت در لود کومه چې پخوا په مکه مکرمه کې میشت وه. هغه ټرون ددا سې کسانو په زیار شوی و، چې د هغوی د نومونو پیل د(فضل) په لفظ سره شوی و، لکه:(فضل بن حارث، فضل بن وداعه،فضل بن فضاله) له دي امله په (حلف الفضول) مشهور شو. د دې دواړو ټرونو ترمنځ یو بل ورته والی په دې کې ووچې ددواړو ټرونونو اساس اوښسټ یو شان و لکه:د دوو جګړه مارو ډلو ترمنځ عدالت او انصاف تامینول، د مظلوم حق له ظالم څخه اخیستل، دلارویو او مساپرو حق د استوګنو څخه اخیستل.دغه لوی انساني ټرون پر محمد ﷺ باندې ډیره ژوره اغیزه وکړه ځکه چې دغه ټرون خلک د خیر او ښیګڼې لوري ته را بولي. نبي کریم ﷺ په دې ټرون کې تشریف درلود، وروسته له دې چې په پیغمبرۍ عزتمن شو وې فرمایل: د عبد الله بن جدعان په کور کې چې په کوم ټرون کې حاضر وم ، هغه ماته د سرو اوښانو څخه زیات ارزښتناک و، که په اسلام کې هم یوه داسې کار ته وبلل شم، نو وبه یې منم.

ketabton.com - The Digital Library

ستونزمن او له هڅو ډک ژوند:

پیغمبرﷺ د ځوانۍ په پیل کې د بني سعد په قبیله کې پسونه څرول ،همدارنګه دخپلې کورنۍ پسونه یې د مکې مکرمې دقراریط په سیمه کې څرولي دي.

کله یې چې د ځوانۍ په درشل پنبه کیښوده نو تجارت ته یې مخه کړه نبي کریمﷺ دسائب مخزومي سره ګډ تجارت کاوه چې د هغه بې ساری شریک و،کله چې مکه فتحه شوه سائب مخزومی پیغمبر اکرمﷺ ته هر کلی وویلو، او ورته یې وویل: زما ګرانه وروره او د تجارت ملګریه په خیر راغلې.

په پنځه ویشت کلنۍ کې د خدیجه الکبری د مال په اړوند شام ته د تجارت لپاره ولاړ، خدیجه بنت خویلد یوه شریفه ، بډایه او تاجره بڼځه وه په خپل مال کې د تجارت لپاره به یې ځینې نارینه استخدامول او هغه ته به یې یوه ټاکلې برخه ورکوله. قریشو د تجارت دنده درلوده، کله چې خدیجه د نبي کریمﷺ له ریښتینولۍ، اخلاص، امانت داری، ځوانمردۍ او نورو لوړو اخلاقو څخه خبره شوه نو یو سړی یې هغه ته ولیږه او له انحضرتﷺ څخه یې وغوښتل چې ددې پانګه د تجارت لپاره ددې د مریې میسره په ملتیا شام ته یوسي، پیغمبرﷺ د هغې وړاندیز ومانه او د میسره سره شام ته روان شو.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي.

د خدیجې رضي الله عنها سره واده:

کله چې نبي کریم (ص)له شامه څخه مکې ته را ستون شو ، خدیجې رضي الله عنها په خپل مال کې داسې امانت او برکت ولید چې هیڅکله یې هم نه و لیدلی، همدا رنګه کله چې میسره خپل د سترګو لیدلی حال (د نبي کریم (ص)صفتونه، روغ فکر او ریښتینولی) خدیجې ته بیان کړ ، خدیجې خپل ورک شوی ګوهر بیاموند.

د قریشو مشرانو او مخورو خلکو د خدیجې (رض) سره نکاح کول غوښتل خو خدیجې دې کار ته غاړه نه ایښوده.خدیجې خپله د زړه خبره خپلې د راز ملګرې نفیسې بنت منبه سره شریکه کړه، نو نفیسه د نبي کریم (ص)حضور ته ورغله او د خدیجې د نکاح خبره یې ورسره وکړه ،هغه قبوله کړه، بیا یې د خپل کاکا سره مجلس وکړ هغوې د خدیجې کاکا ته ورغلل او خدیجه یې د نبي کریمﷺ لپاره وغوښته.د هغه له رضا وروسته نکاح وترل شوه،دنکاح په مراسمو کې د بني هاشم، اوبني مضرد قبیلو مشران حاضر وو د نکاح مهر شل اوښې وټاکل

ketabton.com - The Digital Library

شوې دا نکاح د شام له سفر څخه دوه میاشتې وروسته ترسره شوه.

پندونه او نصیحتونه:

۱-عدالت په هر وخت، او دهر چا له خوا چې یې وړاندیزوشي د ستاینې اومنلوور دی.

۲- د فضول ټرون د جاهلیت د تیارو په وړاندې د یو روښان څراغ په څیر و، دا خبره په دې دلالت کوي چې په یوه ټولنه یا یو نظام کې دفساد خپریدل دټولو فضلیتونودمنتفي کېدو په معنا نه ده.

۳- ظلم په هره بڼه چې وي مردود دی، که څه هم په ډیر لږ شمیر خلکوباندې واقع شي، اسلام د ظلم سره په جګړه کې دی او د مظلوم په څنګ کې پرته له رنګ، دین، وطن او جنس څخه ولاړ دی.

۴- د خیر او نیکوکارونولپاره د ټرون جواز، مسلمانانو ته جائز دی چې د حلف الفضول په شان ټرونونه دکفارو سره لاسلیک کړي. په دې شرط چې داسلام د مقاصدو سره مطابقت ولري.

۵- مسلمان باید په ټولنه کې همیشه فعاله ونډه واخلي او د چاپیریال په حوادثو کې باید هیڅکله هم بې پروا پاتې نشي.

۶- الله تعالی خپل پیغمبر ته مناسبه میرمنه غوره کړه ترڅو د هغه مرسته وکړي غمونه یې کم کاندي او د رسالت دکړاوونو په زغملو کې یې مرستیاله وي.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي .

ارزونه

۱- د پیغمبرﷺ اخلاق د ځوانۍ پر مهال او له پیغمبرۍ څخه دمخه څرنګه وو؟

۲-ایا نبي کریمﷺ د ځوانۍ پرمهال کوم ټاکلی کسب او کار درلود؟ څرګند یې کړئ

۳- د حلف الفضول څخه څه پندونه او نصیحتونه اخستلای شو څرګند یې کړئ ؟

۴- بحیرا راهب پیغمبرﷺ څرنګه وپیژنده؟

کورنۍ دنده

د لوست مهم مطالب په مختصرډول په خپله ژبه د یوې مقالې په لړکې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د کعبې شریفې جوړول

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ۳۵ کلونو په عمرکې و چې قریش د کعبې جوړولو لپاره راغوند شول د کعبې د چت جوړول هغوې ته زیات ارزښت درلود خو د کعبې له رنګولو پې ویره درلوده.

قریشود کعبې دچت د جوړولو لپاره مناسب لرکې برابرکړل ، د کعبې کوټه د اسماعیل علیه السلام له وخته تر دغه دمه چت نه درلود او د تیرو یو دیوال ؤ، په همدې کال کې پر مسجد الحرام باندې سیلاب راغی نړدې و چې کعبه ورانه او ویجاړه شي، او قریش دې ته اړشول چې کعبه شریفه له سره جوړه کړي.

قریشو پریکړه وکړه چې د کعبې په جوړولو کې د حلال او پاکیزه مال څخه پرته بل مال مصرف نکړي او هغه پیسې چې د ناروا لارو لکه، سود اوقمار څخه په لاس راغلي وي دکعبې په جوړولو کې ورڅخه استفاده ونه کړي.

ولید بن مغیره مخزومي د کعبې په ورانولو پیل وکړ،کولنګ پې را واخیست، او وې ویل:(ای

ketabton.com - The Digital Library

پروردګاره !دنیکۍ نه پرته بله هیڅ اراده نه لرم) د رکـنینو برخه یې ورانه کړه ،کله چې هغه ته په لومړۍ ورځ کومه ستونزه پیښه نه شوه ، نو ځکه په دوهمه ورځ یې خلکو په ورانولو کې ملاتړاوپیروي وکړه، او هغو بنسټونو ته ورسیدل چې د ابراهیم علیه السلام په لاس جوړ شوي وو.

له هغه وروسته یې د کعبې په جوړولو پیل وکړ، داسې چې کعبه یې په څو برخو وویشله اود هرې برخې جوړول یې یوې قبیلې ته وسپارل.هرې قبیلې د کانو په راوړلو، او په جوړولو پیل وکړ، د کعبې شریفې د جوړولو دنده د یو رومي معمار په غاړه وه.

کله چې دیوال د حجرالاسود د ایښودلو تر ځایه پورته شو نو دا چې د حجر الاسود دکانې دکیښودلو ویاړ به دچا په برخه شي ددوی تر منځ اختلاف پیدا شو،او تر څلورو یا پنځو ورځو پورې یې دوام وکړ؛ نږدې و چې دا اختلاف د حرم شریف په منځ کې په یوې خونړۍ جګړې بدل شي.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي.

په حجر اسود کې د تحکیم واقعه:

حجر اسود د سپینو زرو د غلاف سره

حجر اسود د پرته له غلاف څخه

ketabton.com - The Digital Library

ابو امیه بن مغیره وړاندېز وکړ: د دې جنجال د اوارولو په هکله به هغه لومړنی سړی چې د جومات په دروازه راننوځي حَکم ټاکو، ټولو ومنله، الله غوښتل چې لومړنی سړی کوم چې د جومات په دروازه را ننوځي هغه به رسول الله ﷺ وي کله چې خلکو هغه ولیده نو د خوښۍ غږونه یې پورته شول،او ویې ویل دا هماغه امین دی؛ دا محمد دی؛ مونږ دده پریکړه منو هغه ته یې د شخړې په هکله معلومات ورکړل محمد صلی علیه وسلم یو څادر راوغوښت حجرالاسود یې په څادر کې کیښود، د جنجال کوونکو قامونو له مشرانو څخه یې وغوښتل چې هغوې ټول د څادر پیڅکې ونیسي او هغه پورته کړي او ځای ته یې ورسوي اوبیا یې په خپله د حجرالاسود تیږه راواخیسته او په خپل مبارک لاس یې په خپل ځای کې کیښوده او دا د جنجال داوارولو یوه مناسبه طریقه وه چې ټول خلک پرې راضي شول.

د کعبې دجوړولو پر مهال دقریشومال کم شو نو سهیلي برخه یي پریښوده چې تر اوسه پاتې ده او د حجر یا حطیم په نامه یادیږي همدارنګه دکعبې دروازه یې هم د ځمکې څخه لوړه کړه.

د کعبې دجوړولو پر مهال پیغمبر ﷺ ته دوه ځانګړي ویاړونه ور په برخه شول:

یو دمکې دقبیلو ترمنځ د احتمالي جنګ مخنیوی و، اوبل په خپلومبارکو لاسونو د حجر الاسود ایښودل په ټاکلي ځای کې و.

د بعثت څخه وړاندې د نبوي سیرت لنډه پیژندنه:

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ډیرو نیکو صفاتو خاوند و لکه: د خلکو سره ښیګڼه ،تواضع او عاجزي، میړانه ، ریښتینولي، میلمه پالنه، امانتداري، سخاوت، په وعده وفا، انصاف ،شفقت پاک نفسي، کلکه او مظبوطه اراده اوداسې نور.

هغه شراب نه څښل،د بتانو نذرانې یې نه خوړلې، په هغو مرا سموکې چې د بتانودلمانځنې لپاره به تیاریدل کډون نه کاوه،د ژوند له لمړنیو شیبو څخه یې دبتانو څخه کرکه درلوده، بلکه د ځمکې په سر یې هغه ترټولوموجوداتو بدګانه،اونه یې په بتانو قسم زغملای شو.

محمد ﷺ د خلکو ترمنځ په ښو خویونو ،اوغوره خصلتونو شهرت درلود.هغه تر ټولو ښه ګاونډی، ترهر چا د اوچتو اخلاقو څښتن،د ډیر لوی زغم خاوند، په خبرو کې تر ټولو ریښتونی، زیات مهربان ، نرم خویه او په وعدو ولاړ شخص و.لنډه داچې د انسانیت او دکمال ټول صفتونه پر هغه ﷺ تمام شوي وو.

ketabton.com - The Digital Library

د کعبې شریفې د جوړولو تاریخ:

۱- دکعبې شریفې د جوړولو په اړوند ډول،ډول روایتونه راغلي دي.

ځینو مؤرخینو د کعبې تاریخ حتی د ادم علیه السلام له زمانې څخه ډیر مخکې په ګوته کړی او وایي : د ادمؑ د زیږیدنې څخه لا ډیر مخکې ملائکو کعبه شریفه جوړه کړی وه.

خو بله ډله په دې نظر ده چې : لومړنی هغه کس چې کعبه یې جوړه کړه ادمؑ و، اوکله چې یې د کعبې ودانۍ سرته ورسوله الله (جل جلا له) ورته وحي وکړه چې د کعبې څخه طواف وکړي،او ورته یې وویل:(ته لومړنی انسان او دا لومړنی کور او ودانۍ ده).

دهغه څخه وروسته ډیری پیړی تیرې شوې او د نوحؑ زمانه راورسیده نوحؑ دکعبې د حج مراسم اداء کړل.د څو پیړیو په تیریدو سره د ابراهیمؑ زمانه راغله هغه هم دکعبې بنیادونه اوچت کړل.

په هر حال هغه څه چې د قران کریم په قطعي دلیل ثابت دي هغه دادي:یواځینې هغه دوه سړي چې دبیت الحرام بنیادونه یې ودرول هغه ابراهیم او دهغه زوی اسماعیلؑ وو.

۲-کعبه شریفه څلور ځله جوړه شوې او یوځل په پاخه شان ترمیم او رغول شوې ده:

لومړی ځل: دلومړي ځل لپاره کعبه ابرا هیمؑ جوړه ،او اسماعیلؑ به ورسره مرسته کوله.

دوهم ځل:د پیغمبرﷺ دبعثت څخه دمخه قریشو کعبه له سره جوړه کړه چې پیغمبرﷺ هم په کې شریک و.

دریم ځل: دیزید بن معاویه په زمانه کې ،کله چې دعبد الله بن زبیر (رض) دمحاصرې پروخت یزیدیانو کعبه په ټانکونو (منجنیقونو) وویشتله، او اور یې واخیست عبد الله بن زبیر رضي الله عنه هغه له سره آباده کړه.

څلورم ځل: دعبد الملک بن مروان په زمانه کې ، کله چې عبد الله بن زبیرووژل شو عبد الملک بن مروان کعبه په هغه نقشه جوړه کړه څرنګه چې د پیغمبرﷺ په زمانه کې وه.

ketabton.com - The Digital Library

پنځم ځل: د کعبې ترمیم او رغونه:

د سعودي پاچا خادم الحرمین الشریفین ملک فهد بن عبد العزیز آل سعود کعبه دمسجد الحرام په شمول دننه او بهر ټوله په اساسی توګه ترمیم او ورغوله.



ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

۱- د هغې شخړې لامل چې د حجرالاسود دکېښودلو پر مهال د قبایلو تر منځ پیښه شوه څه ؤ؟

۲- د نبي کریم ﷺ دتحکیم قضیه څنګه منځ ته راغله په لنډه توګه یې شرحه کړئ؟

۳- هغه نیک صفتونه چې د بعثت څخه وړاندې په نبي کریم ﷺ کې را غونډ شوي وو ځینې له هغو څخه بیان کړئ.

۴- دبعثت څخه د مخه د پیغمبر ﷺ غبرګون د بتانوپه وړاندې څرنګه و؟

کورنۍ دنده

د لوست مطالب په خپل تعبیر سره ولیکئ اوهم ورته مناسب عنوان غوره کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

د نبوت او رسالت په سيوري کې

وروسته له دې چې الله تعالی پیغمبر ﷺ ته د نبوت او رسالت عزت ور په برخه کړ نو ژوند يې په دوو برخو ويشل کيږي؛ چې هره يوه برخه يې خپلې ځانګړتياوې لري. دا دوه برخې د مکي او مدني دورو څخه عبارت دي، نو دا دوه دورې څه ځانګړتياوې لري؟ کومو مرحلو ته شاملیدای شي؟

مکي دور _ نبوت او دعوت:

دواړو دورو ګڼې مرحلې تيرې کړي دي ،او هره مرحله يې خپلې ځانګرتياوې لري. که چيرې هغو حالاتوته ښه ځير شو چې دغه پراوونه پرې تير شوي دي دا خبره په ډاګه څرګندیږي،چې مونږ کولای شو مکي دوران چې تقریباً (دیارلس کاله) وو په دريو برخو وويشو.

۱- د پټې بلنې مرحله، چې درې کلونه وو.

۲- مکي والو ته ډاګيزه او ښکاره بلنه، چې د بعثت له څلورم کال څخه پيل او د بعثت د لسم کال تر آخره پورې يې دوام وکړ.

۳- د مکي څخه بهر د دعوت د خپریدو مرحله، چې د لسم کال له وروستيو څخه پيل او د مدينې منورې د هجرت د وخت سره سره مدني دور ته هم شاملیږي او د نبي کريم ﷺ د ژوند تر آخره پورې يې دوام وکړ.

فعالیت

زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او يا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طريقې سره تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library



د حراء غار قبلې ته مخامخ

د حراٴ غار(جبل النور):

کله چې د نبي کريم (ص)عمر څلويښتو کلونو ته نږدې شو نو ګوښه والی او خلوت يې اختيار کړ؛ اوبه او خواړه به يې د ځان سره واخيستل او د حراء دغار په لور چې په (جبل النور)کې موقعيت لري روان شو.که چيرې تاسې د مکې مکرمې څخه د سهيل په لور د يوه ساعت په واټن لار ووهئ نو هلته به تاسې يوغروويئ چې د نوراني مناري په څير ځليږي دا غر همغه د جبل النور غر دی چې د حراء غار پکې شتون لري، چې نبي کريم ﷺ به د روژې (رمضان) مياشت په دغه غارکې تيروله او خپل وخت به يې په عبادت، د کايناتو په ننداره او د هغه قدرت په سوچ او فکرکې تېراوه چې د کايناتو تر شا وجود لري، هغه شرکي عقايد چې دده قوم پرې اخته وو ده ته دمنلو وړنه و، او د روښنايۍ هغه لاره چې د ده صلی الله علیه وسلم اعتماد او رضا پرې حاصليدی شوی له ده څخه ورکه وه نو له دې امله به هر وخت پريشانه و.

دغه خلوت اوعزلت ددې لپاره و ترڅو دی ﷺ د هغه لوی مسئوليت او امانت لپاره چې د ده په انتظارکې دی تيار شي.

ketabton.com - The Digital Library

جبرائیل له وحي سره:



کله چې د پیغمبرﷺ عمر پوره څلویښت کاله شو نو د نبوت وړانګو یې په ځلیدو پیل وکړ ،هغه دا و چې دمکې هر یو کانې به ورته سلامونه کول، هر خوب به یې چې لیده حقیقت به یې څرګندیده اوخوبونه یې لکه د رونې سهار ځلیدل، په همدې توګه یو کال تیر شو.

د رمضان میاشت په داسی وخت کې را ورسید ه چې پیغمبرﷺ د دریم کال په رمضان کې د حراء په غار کې ګوښه ناست و، الله تعالی وغوښتل تر څو د ځمکې خلک د خپل رحمت څخه برخمن کړي نو محمدﷺ یې په نبوت عزتمن کړ او جبرائیل(ع) یې د قران کریم د څو آیتونو سره د ده حضور ته راولیږه.

وحي څه وخت نازله شوه؟

ketabton.com - The Digital Library

د دوشنبې په ورځ د رمضان المبارک یوویشتمه چې د (٦١٠) میلادي کال د اګست د لسمې نیټې سره سمون خوري کله چې پیغمبر (ص)د څلویښت کلنۍ په عمر کې و، وحي پر انحضرت (ص) باندې نازله شوه.

عائشه صدیقه رضي الله عنها پدې هکله داسې روایت کوي: د رسول الله (ص)د وحي پیل له نیکو او ښو خوبونو څخه شوی و، د حرا په غار کې به یې له خلکو ګوښه ژوند کاوه، پرته له دې چې کورته ولاړ شي، څو مسلسلې شپې به په عبادت مشغول ؤ او د هغو شپو لپاره به یې توښه ورسره وړله، بیا به خدیجې ته راستون شو او همغومره نوره توښه به یې د ځان سره واخیستله.

د حرا په غار کې و چې وحي پرې نازله شوه ملائکه ورته راغله او ورته یې وویل: ولوله، ده وویل: زه لوستل نشم کولی، رسول الله ﷺ وویل: بیا ملائکې زه ټینګ ونیولم، او زور یې کړم، بیا یې پریښودم، بیا یې وویل: ولوله! ما وویل: زه لوستونکی نه یم، بیا یې دویم ځلې ونیولم او ډیر زیات یې زور کړم او ډیر په تکلیف شوم، بیا یې پریښودم او ویې ویل: ولوله ! ما وویل : زه لوستونکی نه یم، دریم ځلې یې ونیولم او را ټینګ یې کړم او بیا یې پریښودم او راته یې وویل:

﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ﴾ (١)

ژباړه: ولوله (ای پیغمبره) د خپل رب په نوم چې هغه پیدا کړل، پیدا یې کړ انسان د کلکې شوې وینې له ټوټې څخه ، ولوله او ستا رب ډیر مهربان دی، چې هغه د قلم په مرسته علم وښوده، انسان ته یې هغه علم ورکړ چې هغه پرې نه پوهیده.

پیغمبر(ص)د حرا له غاره راستون شو زړه یې درزیده او خدیجې رضی الله عنها ته یې وویل: ما ونغاړه، ما ونغاړه! هغه یې په څادرکې ونغښت تر څویې ویره ورکه شوه او خدیجې رضی الله عنها

(١) العلق: ١ - ٥

ketabton.com - The Digital Library

ته يې وويل : په ما څه شوي دي؟ او خديجه يې له هغې پيښې څخه چې په ده تيره شوې وه خبره کړه او ويې ويل: د خپل ځان په هکله وويريدم ، خديجې وويل: هيڅکله داسې نده، په الله قسم دی چې پاک الله به تا نه رسوا کوي ځکه چې ته خپلوي پالې، د بيوزلانو مرسته کوې، پريوتي خلک تر منزله رسوي، د ميلمه عزت او پالنه کوې او د حق په لاره کې د ستونزو د لرې کولو لپاره ملا ترې.

خديجه د رسول الله ﷺ سره خپل د تره زوی ورقة بن نوفل ته ورغله ، هغه په جاهليت کې د نصرانيت دين قبول کړی ؤ او يو سپين ږيری بوډا سړی و چې سترګو يې لېد نشو کولی.

خديجې ورته وويل: ای د تره زويه! د خپل وراره خبرې دې واوره، ورقه ورته وويل: ای وراره! څه شوي دي؟ پيغمبر ﷺ هغه ته ټوله کيسه بيان کړه. ورقه وويل دا هماغه ملائکه ده چې الله تعالی موسی عليه السلام ته هم را ليږلې وه، ای کاشکې زه ځوان او غښتلی وای (تر څو ستا مرسته مې کړې وای) او کاشکې چې زه هغه وخت ژوندی وای کله چې تا خپل قوم له کور او وطنه اوباسي؟ پيغمبر ﷺ وويل! ايا هغوی به ما د مکې څخه وباسي ؟ ده وويل هوا! هر چا چې ستا په څير پيغام راوړی دی، دښمني ورسره شوې ده. نو که زه چيرته هغه وخت ژوندی وم په ټول توان او طاقت سره به ستا ملاتړ وکړم.

له دې پيښې وروسته ورقه ډير ژر وفات شو او وحي هم بنده شوه.

فعاليت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او يا کروپي شکل د سوال او ځواب په طريقې سره تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

۱. مکې دور په دریو پړاوونو ویشل کیږي نومونه یې واخلئ.
۲. ولې نبي کریم ﷺ له پیغمبرۍ مخکې د حرا غار ته تشریف وړلو؟
۳. کله چې پیغمبر ﷺ ورقه بن نوفل د وحې له نازلیدو خبرکړ د هغه عکس العمل څه و؟

کورنۍ دنده

د لوست مطالب په خپل تعبیر سره ولیکئ او هم ورته مناسب عنوان غوره کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

د وحي د نزول ادامه

د وحي ډولونه:

د وحي ډولونه او مرتبې په لاندې ډول دي.

۱ - رښتنی خوبونه : چې د پيغمبر ﷺ لپاره د وحي پيل و.

۲ - هغه څه چې ملايکې دده په ذهن او زړه کې تلقينولو، پرته له دې چې ملايکه وويني.

۳- کله به ملايکه د يوه سړي په څيره کې نبي کريم ﷺ ته راتله ترڅو هغه څه چې ورته وايي ښه پرې پوه شي،په دغسی حالت کې به صحابه و هم جبرائيل عليه السلام ليده.

۴ - پرښته به د زنګ د کړنګار په څير ورته راتله او ددې ډول وحي زغمل به ورته سخت تمامېدل،حتی په سخته يخنۍ کې به دده په مبارکې ټنډې د خولو څاڅکي معلوميدل ، اوکه په دغه حالت کې پر سپرلۍ سپور و نوسپرلۍ به پر ځمکه ګوندې لګولې.

۵- پيغمبر اکرم (ص)به کله ملائکه په خپل اصلی شکل کې ليدله،او دالله (ج) له خوا رالېږل شوی فرمان به يې ورته سپارلو.دا ډول وحي دوه ځله پېښه شوې ده چې د(النجم) په سورت کې يې بيان راغلی دی.

۶ –آسمان ته دتللو پر وخت هم الله جل جلاله پرهغه ﷺ وحي نازله کړه،لکه دمعراج په شپه چې په پيغمبر (ص) وحي نازله شوه.

۷ – د الله تعالی کلام به پرته د پرښتې له واسطې نبي کريم (ص) ته وحي کيده لکه څنګه چې الله تعالی د موسی بن عمران سره خبرې کړې وې،چې دغه وحي دموسی عليه السلام لپاره د قران په نص، اودپيغمبر(ص)لپاره داسراء او معراج په حديث کې ثابته ده.

جبرائيل دوهم ځلې وحي راوړي:

وحي څو ورځې ځنډ شوه ، نبي کريم ﷺ د وحي د نازليدو په انتظار کې و چې الله تعالی دوهم ځلې په وحي مشرف کړ، پيغمبر ﷺ فرمايي: يوه مياشت د حرا په غار کې معتکف شوم کله چې زما اعتکاف پای ته ورسيده د حرا له غاره راکوز شوم ، يو آواز مې واورېد، نو ښي، کښې، مخې او شاته مې وکتل څه مې و نه ليدل،کله چې مې پورته خواته وکتل همغه ملايکه مې وليده چې د حراء په غار کې ماته راغلې وه، پر هغه کرسۍ چې د آسمان او ځمکې تر منځ يې قرار درلود ناسته وه، نو ډير زيات وويريدم او د هغې د ليدو له ويرې پر ځمکه پريوتم.

ketabton.com - The Digital Library

خديجې ته راغلم او ومې ويل: ما ونغاړه، ما ونغاړه. هغې زه ونغښتم بيا دا آيتونه نازل شول:
﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ قُمۡ فَأَنذِرۡ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ﴾(۱)
ژباړه: اى ځان نغښتونكى ځملاستونكيه، پاڅيږه او خبرداري وركړه، او د خپل رب لويې اعلان كړه، او خپلې جامې پاكې وساته، او له چټلې ځخه په ځنګ اوسه.
د دې ځخه وروسته پيغمبر ﷺ شل كاله د ارامې خوب اوراحت پر ځان او پر خپله كورنۍ بند كړ او د الله(ج) دين ته دبلنې لپاره يې خپله ملا وترله د الهې رسالت د تبليغ دروند پيټى يې په غاړه واخيست، دظلم، تيري، اود جهالت سره دكلكې مبارزې دروند بار يې په اوږو كيښود نوځكه يې دشلوكلونو ځخه زياته موده په مختلفوبرخوكې هلى ،ځلى اوكوښښونه كول،او په دې لاره كې يې بې ساري زحمتونه وګالل.
كله يې چې آسماني آواز ترغوږو شو او ددعوت په رسولو مأمور شو نو ددنيا هيڅ ډول خندونو او ستونزو ونشواى كړاى دده د لوړې موخې د لارې خنډ واقع شي.

فعاليت

- زده كوونكي دې پورتنۍ مطالب په انفرادي او يا ګروپي شكل د سوال او ځواب په طريقې سره تكرار كړي.

ارزونه

۱. د وحې ډولونه په لنډه توګه بيان كړئ.
۲. جبرائيل امين د دويم ځل لپاره د ځرنګه وحې سره راغى؟

كورنۍ دنده

د لوست عمده مطالب په خپل تعبير سره وليكئ،او يو مناسب عنوان ورته وټاكئ.

(۱) المدثر: ۱ – ۵

ketabton.com - The Digital Library

خديجه رضي الله عنها

خديجه څوک ده؟ څرنګه يې د پيغمبر ﷺ ملاتړ وکړ، او د پيغمبر ﷺ سره د هغې نکاح د دعوت په نشراوخپرولو کې څه اغيزه درلوده؟

خديجه څوک ده؟

خديجه بنت خويلد بن اسد ده، چې دپيغمبر اکرم ﷺ سره په دريم نيکه کې شريکيږي.
هغه رضي الله عنها د (طاهرې) په نامه هم يادېدله، د عام الفيل څخه پنځلس کاله د مخه زيږېدلې وه. په ټولو ښځو کې د حسب او نسب له مخې کامله او د ښو اخلاقو څښتنه وه پيغمبر ﷺ فرمايي:(د جنت په ښځو کې تر ټولو غوره خديجه بنت خويلد ، فاطمه بنت محمد، مريم بنت عمران او آسيه بنت فراحم د فرعون ښځه ده).
خديجه لومړنۍ ښځه ده چې په نبي کريم ﷺ يې ايمان راوړی دی.
خديجه رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ لومړنۍ ښځه وه چې کونډه وه او د رسول الله ﷺ سره د واده پر مهال يې عمر (۴۰)کاله و،پيغمبر اکرم ﷺ (۲۵)کلن و چې د خديجې (رض)سره يې واده وکړ. دوی وروسته له واده (۲۵)کاله ګډ ژوند درلود.

خديجه د رسول اکرم (ص) ملاتړې:

کله به چې د پيغمبر ﷺ په وړاندې ستونزې راتللې ام المؤمنين خديجه رضي الله عنها به د هغه تر څنګ ولاړه وه، او دهغه ﷺ کړاونه به يې کمول ، هغه ته به يې ارزښتناکې مشورې ورکولې، په خپله پانګه يې هغه سره همدردي کوله، او په خبرو سره يې هغه ته تسلي ورکوله.

د پيغمبر ﷺ ماشومان:

د پيغمبر (ص)ټول ماشومان د خديجې رضي الله عنها څخه وو، يوازې ابراهيم له ماريې څخه و، هغه ماشومان چې د خديجې رضي الله عنها څخه وو عبارت دي له: قاسم، عبدالله او څلور لورګانې يې هره يوه زينب، رقيه ، ام کلثوم او فاطمه ده .
قاسم او عبدالله په وړکتوب کې وفات شوي دي.

د خديجې رضي الله عنها مړينه:

له بنديز او محاصرې څخه ډير وخت نه و تير شوی چې خديجې د پاک الله دلورې اجل بلونکي ته لبيک وويل او له هجرت څخه درې کاله دمخه وفات شوه، نبي کريم ﷺ ددې په مړينه ډير سخت غمجن شو، پيغمبر ﷺ يې قبر ته ښکته شو او په خپلو مبارکو لاسونو يې په قبر کې کېښوده، خديجه رضي الله عنها د روژې په لسمه د ۶۵ کلونو په عمر له فاني

ketabton.com - The Digital Library

دنیا سترګې پټې کړې.
داکال په " عام الحزن " یعنې د غم په کال ونومول شو ځکه په دې کال کې نبي کریمﷺ دوه مهم شخصیتونه له لاسه ورکړل چې خدیجه او ابو طالب وو. ځکه چې دادوه شخصیتونه د همیش لپاره دپیغمبرﷺ ملاتړي وو،او دپیغمبرﷺ سره یې بی کچه مینه درلوده او پر هغه زیات مهربانه وو .ددوې په مرګ پیغمبر (ص)یوازې پاتې شو او په کورنۍ کې یې بل مرستندوی او ملاتړی نه درلود. پیغمبرﷺدخدیجې له وفات څخه وروسته واده وکړ مګرد خدیجې (رض)مینه دپیغمبرﷺ په زړه کې دژوند تر اخرنیو شیبو پوری ځای نیولای و او تل به یې د هغې یادونه کوله.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یاګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي .

امهات المؤمنین:
امهات المؤمنین هغه کُنیه ده چې قرآن کریم د نبي کریم (ص)میرمنې په هغې عزتمنې کړیدې. الله جل جلا له فرمایې:{ وأزواجه أمهاتهم } [الأحزاب : ٦]
ددې کُنیې له اطلاق څخه موخه د نبي کریم (ص)له رحلت وروسته ددغو بیبیانو سره د نکاح د حرمت اعلان و. داکُنیه د هغې ویاړمنې امتیازي نښې په څیر وه چې دوې ته د احترام، درناوي او د دعوت په لارکې د نه ستړیدونکو هلو ځلو لپاره ورکړل شوه.

ارزونه

۱. خدیجه رضي الله عنها څوک وه؟
۲. هغه لاملونه چې د پیغمبرﷺ سره د خدیجې(رض) د واده د ترغیب باعث شوې څه و؟ بیان یې کړئ.
۳. خدیجې رضي الله عنها به نبي کریمﷺ سره همدردې کوله هغه ته به یې تسلي ورکوله، دا موضوع شرحه کړئ .
۴. له امهات المؤمنین څخه مراد څه دی ؟ او دا ځانګړتیا چې الله تعالی هغوې ته ورپه برخه کړه څه مطلب افاده کوي؟

کورنۍ دنده

د لوست عمده مطالب په خپل تعبیر سره ولیکئ،او یو مناسب عنوان ورته وټاکئ.

ketabton.com - The Digital Library

پته بلنه (سري دعوت)

پیغمبرﷺ د رسالت په رسولو او د توحید او د یو الله د عبادت په لور د خلکو په رابللو مامور شو، نو رسول اللهﷺ دخپل رسالت تبلیغ څرنګه او له کومه ځایه پیل کړ ؟ او د خلکو غبرګون ددې نوې بلنې په وړاندې څرنګه و.

د پټې بلنې پیل:د مدثر سورت د څو آیتونو له نازلیدو وروسته نبي کریم (ص) خپل دعوت او بلنه د یو الله په لوري پیل کړه.

ولی د دعوت پیل په پته وشو؟

رسول الله (ص)په داسې قوم کې ژوند کاوه چې پرته له بت پرستۍ بې بل کوم دین نه درلود، ددوې دلیل د بوتانو په عبادت کې دا ؤ چې د دوې پلرونو د بتانو عبادت کاوه.

د ستونزو او شخړو په حل کې بې پرته له تورې بله لاره نه پیژندله. د دې سره سره بې په عربي جزیره کې دیني زعامت او مشري درلوده.

په داسې شرایطو کې د حکمت غوښتنه دا وه چې بلنه باید په پته مخکې ولاړه شي څو د مکې خلک په یو ځلي او ناڅاپي توګه له یو پارونکي کار سره مخامخ نشي، نو لدې امله به پیغمبر (ص)خلک په پته او سري توګه اسلام ته رابلل.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي .

بلنه له کومه ځایه شروع شوه؟

رسول اللهﷺ به لومړی هغه چاته دعوت وړاندې کولو چې له ده سره ډیر نژدې او دکورنۍ غړي او دوستان به یې و. رسول اللهﷺ هغه کسان اسلام ته رابلل چې به په نیکو صفاتو پیژندل شوي و، لکه:دحق طرفداران، د خیر او اصلاح خاوندان،رینبتونې،او د اسې نور.

ketabton.com - The Digital Library

داسی خلکو به ضرور دپیغمبرﷺ بلنه منله،اود پیغمبرﷺ په خبرو به یې باور کاوه، دوی اسلام اوداسلام پیغمبر ته پوره اخلاص درلود، اود ژوند تر اخري سلګۍ پورې به د یې ساري قربانۍ او سرخندنې سره داسلام په خدمت کې وو.
دوی د اسلام په تاریخ کې د اسلام په لومړیو مخکښانو(السابقون الاولون) وپیژندل شول.
ددې ډلې په سر کې د پیغمبرﷺ بي بي ام المؤمنین حضرت خدیجه بنت خویلد ،ابو بکر صدیق، علي بن ابي طالب او زید بن حارثه وو. دا ډله د دعوت په لومړنۍ ورځ په اسلام مشرفه شوه. بیا حضرت ابو بکر صدیق د دعوت په کار کې فعاله ونډه واخیسته او د خپل قوم په منځ کې یې دعوت پیل کړ، خپل ډیر نږدې او د باور وړ کسان یې اسلام ته را وبلل لکه: عثمان بن عفان، زبیر بن عوام، عبدالرحمن بن عوف ، سعد بن ابي وقاص او طلحه بن عبید الله د ابو بکر صدیق په بلنه په اسلام مشرف شول چې دوی هم د اسلام له لومړنیو مخکښانو څخه شمېرل کیږي. له هغه وروسته ابو عبیده عامر بن جراح ، ابو سلمه بن عبدالاسد ، ام المؤمنین ام سلمه، ارقم بن ابي ارقم ، عثمان بن مظعون، عبدالله بن جحش او ډیر نور په اسلام سر لوړي شول، او دا ټول د قریشو له قبیلې څخه وو. د قریشو پرته د اسلام په مخکښانو کې دا کسان وو: عبدالله بن مسعود ، مسعود بن ربیعه، بلال بن رباح حبشي، صهیب بن سنان رومي، عمار بن یاسر او د هغه پلار یاسر، موریې سمیه او عامر بن فهیره. له یادو شوو ښځو څخه پرته د اسلام په مخکښو ښځو کې ام ایمن، ام الفضل لبابه بنت حارث،او اسماء بنت ابي بکر صدیق وې.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي .

ارزونه

۱- رسول الله (ص)پټ دعوت څرنګه پیل کړ او څومره موده یې دوام وکړ؟
۲- داسلام له لومړنیو اوسابقینو له جملې څخه د پنځو کسانو نومونه واخلئ؟

کورنۍ دنده

د لوست عمده مطالب په خپل تعبیر سره ولیکئ،او یو مناسب عنوان ورته وټاکئ.

ketabton.com - The Digital Library

دار الارقم (د رهبرۍ مرکز)

د پټې بلنې مرکز: د ارقم کور د پټې بلنې مرکز و چې مسلمانان به هلته را ټولیدل. هره نوې وحي به یې د پیغمبر ﷺ څخه اوریدله ، رسول الله ﷺ به هغو ی ته د قرآن کریم تلاوت کاوه او د الله جل جلاله صفات به یې ورته بیانول: احکام، اخلاق، او د اسلام د مقدس دین آداب یې هغوی ته ښودل، هغوی پوښتنې به یې ځوابولې، او د خپل نظر لاندې یې د اسلامي لارښوونو سره سم تربیه کول.
په دار الارقم بن ابي ارقم کې به اصحابو د اسلام د اساسي ارزښتونو لکه: توحید، تقوىٰ، صبر، زغم، تېرېدنه، تحمل، ثبات، ورور ګلوۍ، صدق، وفاء، امانت، ایثار، یو له بل سره مرستې او یووالي په اړه درسونه زده کول.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتنۍ مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په طریقې سره تکرار کړي.

ولې د ارقم کور؟

د مشرتابه د مرکز لپاره د ارقم د کور په غوره کولو کې ګڼ لاملونه وه چې ځینې یې دا دي:
۱. د ارقم د مسلمانیدو په هکله خلکو معلومات نه درلود. له دې امله د هیڅا په خیال او خاطر کې دا خبره نه تیریده چې محمد ﷺ د خپلو یارانو سره د ارقم په کور کې غونډې جوړوي.
۲. ارقم بن ابي الارقم د مخزوم له قبیلې څخه ؤ، او هغه داسې قبیله وه چې د بني هاشمو په وړاندې یې د جګړې او سیالۍ بیرغ پورته کړی و.

ketabton.com - The Digital Library

۳. ارقم بن ابي الارقم یو شپاړس کلن ځوان و ، چې په اسلام مشرف شو،د عربو عادت دا و چې دوی به عموما خپلې غونډې د مشرانو په کورونوکې کولی له همدې کبله هیڅکله دا تصور اوګمان نه کیده چې محمد ﷺ به داسې غونډې د یو ځوان په کور کې وکړي.

پټې بلنې څوکاله دوام وکړ؟

دری کاله په همدې توګه تیر شول دعوت په پټه چلیده، او دعوت په افرادو پورې منحصر ؤ، د دې مودې په اوږدوکې یوه مؤمنه ډله منځ ته راغله چې یو بل ته بې د وروری لاسونه ورکړل یو د بل ملاتړ او هلې ځلې یې کولې چې د اسلام پیغام خلکو ته ورسوي.

پیغمبر ﷺ خپل دعوت د خلکو په منځ کې په ښکاره ډول اعلان نکړ خو په قریشو کې مشهور شوی ؤ او د اسلام پاک نوم د مکې مکرمې په ګوډ ګوډ کې خپور شوی ؤ. خلکو هر ځای د دې دعوت په هکله خبرې کولې، ځینو خلکو لکه: ابوجهل،او ابو لهب په یو شمیر مؤمنانو ظلم کاوه خو سره له دې هم مشرکانو دې کار ته ډیره پاملرنه نکوله ځکه چې پیغمبر ﷺ لاتر دې دمه داسلام دعوت نه وو ښکاره کړی، تر څو وحي نازله شوه او نبي کریم ﷺ یې د باطلو عقیدو سره د مقابلې او د بتانو په رنګولو مکلف کړ.

۱. ارقم بن ابي ارقم څوک ؤ؟
۲. اصحابو په دار الارقم کې څه زده کول؟
۳. ولی دارالارقم د غونډو لپاره مرکز وټاکل شو؟

د لوست عمده مطالب په خپل تعبیر سره ولیکئ،او یو مناسب عنوان ورته وټاکئ.

ketabton.com - The Digital Library

ایمان او ثبات

عن سفيان بن عبد اللهﷺ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُول الله! قُلْ لِي فِي الإِسْلامِ قَولاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَداً غَيْرَكَ. قَالَ: «قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ، ثُمَّ استَقِمْ» رواه مسلم.

د راوی پیژندنه:

نوم يې سفيان د پلار نوم يې عبدالله د طائف اوسيدونکی دی د حضرت عمرؓ د خلافت په موده کې د طائف والي ؤ.

د کلمو معنا:

۱- لاَ أَسْأَلُ:	پوښتنه ونه کړم.
۲- قَولاً :	خبره
۳- قُلْ:	ووايه
۴- ثُمَّ استَقِمْ:	بيا په همدغه مستقيمه لاره ټينګ اوسه.

د حدیث شریف معنا:

له حضرت سفيان بن عبدالله ؓ څخه روايت دی چې پيغمبرﷺ ته می عرض وکړ. ای د الله پيغمبره! د اسلام په باره کې راته يوه داسې خبره وکړه چې په دې اړه له تا څخه وروسته له بل چا څخه د پوښتنې ضرورت پاتې نشي. نو يې وفرمايل: ووايه په الله ايمان لرم او بيا پرې ټينګ اوسه.

د حدیث شریف حکمت:

مؤمن د ايمان له برکته هيڅکله نه پريشانه کيږي، ځکه چې دی پر هغه پروردګار ايمان او عقيده لري چې د ټولو کايناتو مالک او متصرف دی هر څه د هغه په لاس کې دي، او مؤمن په دې هم پوهيږي چې يوازې مادیات د انسان ټول مشکلات نشي حل کولای او د ده ارټياوې نه پوره کوي په همدې بناء د خپل پرودګار په بندګۍ او اطاعت کلک ولاړ وي.

او په نتيجه کې هغه مؤمن چې د ايمان په غوښتنو ثابت ولاړ وي د ده د ذهن او فکر څخه هر ډول تشويشونه او غمونه لرې کوي. صبر، حوصله، برده باري ورته په برخه کوي چې د بريالیتوب راز يوازې په استقامت کې نغښتې دي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کونکي دې په ټولنیز، اقتصادي، او امنیتی اړخونو کې په الله تعالی د ایمان مثبتې اغیزې د غیر اسلامي ټولنو سره په مقایسه کولو بیان کړئ.

د استقامت هدف:له استقامت څخه هدف بې له کمي او زیاتي څخه د اسلام پر سمې لارې تلل او په پوره ډول د الله د ټولو اوامرو پیروي کول او له نواهیو څخه بې ځان ساتل دي.

د استقامت ګټه: استقامت د مسلمان سره د الله تعالی په بندګۍ کې کومک کوي، او د شیطاني وسوسو او نفسي خواهشاتو په مقابل کې بې سر لوړی کوي د خپلې سعیې او کوښښ د ضایع کېدلو مخه نیسي او د دنیا او آخرت د نېکمرغۍ لامل ګرځي.

د حدیث شریف ګټې:

۱. په الله تعالی باندې د ایمان ارزښت: په الله تعالی ایمان درلودل دومره مهم او ارزښتناک کار دی چې پیغمبرﷺ د سوال په ځواب کې لوی عنوان و ټاکه.

۲.د استقامت لزوم: انسان د خپل بریالیتوب لپاره دوو ارزښتناکو قوي قوو ته اړتیا لري چې یوه یې باطني او بله یې خارجي ده، باطني قوه یې په الله تعالی باندې کامل ایمان دی او خارجي قوه یې په ایمان باندې استقامت دی.

۳.د دین زده کړه: د دغه صحابي له سؤال څخه معلومېږي چې هر مسلمان باید د دین د زده کړې لپاره د علم او پوهې له خاوندانو څخه پوښتنې وکړي.

ارزونه

۱- له ثبات او استقامت څخه مراد څه دی؟

۲- د استقامت ګټې څه دي؟

۳- لاندې کلمې معنا کړئ.

أ– قُلْ آمَنْتُ باللهِ: ب–ثُمَّ استَقِمْ:

کورنۍ دنده

دایمان د اهمیت او پر هغه د استقامت د حتمیوالی په باره کې یوه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د يتيم پالنه

عن سَهْلِ بْنَ سَعْدٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ وَقَرَنَ بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ الْوُسْطَى وَالَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ . رواه ابو داود.

دراوي پېژندنه:

نوم يې سهل د پلار نوم يې سعد الساعدي د جاهليت په زمانه کې يې نوم حزن (غم) و، پيغمبر (ص) په سهل (ايماني) باندې ونوماو په ډيرو غزا ګانو کې يې ګډون کړی دی او د هجرت په ۸۸ کال کې د ۹۴ کلونو په عمر وفات شو.

د کلمو معنا:

۱- كَافِلُ: پالونکی.

۲- الْيَتِيم: هغه ماشوم چې پلار يا مور او پلار دواړه يې مړه وي.

۳- كَهَاتَيْنِ: لکه دغه دوه (ګوتې).

۴- وَقَرَنَ بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ: دواړه ګوتې يې سره يو ځای کړې.

د حديث شريف معنا:

حضرت سهل (رض) له پيغمبرﷺ څخه روايت کوي چې ويې فرمايل: زه او د يتيم پالونکی به په جنت کې يو د بل تر څنګ داسې نيږدې يو لکه د يو لاس دا دوه ګوتې . راوي وايي چې خپله منځنۍ او د شهادت ګوتې يې سره نيږدې کړې.

فعاليت

- زده کونکي دې يتيم ته د نه پاملرنې زيانونه په ډله ييز ډول بيان کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث شریف حکمت:

په هره ټولنه کې لکه څرنګه چې پانګوال او سرمایه دار ژوند کوي فقیران، بې وزله او بې کسه یتیمان هم ژوند کوي، د اسلام مقدس دین مور دې ته هڅوي چې د هغوی سرپرستي وکړو او دوی پرې نږدو چې په دغه حالت کې د یواځې والي احساس وکړي، که چېرې د دوی اړتیاوې او ضرورتونه پوره نه کړل شي نو تجربې دا ثابته کړې ده چې دغسې خلک اکثره بې نادرسته لوییږي، زړونه یې سخت وي، کینه او خطرناک فکرونه لري او بیا د اسلام دښمنان ورڅخه خپلو سترو اهدافو ته د رسېدلو لپاره کار اخلي او په ورانکارۍ پیل کوي، د راحت فضا خړه پړه او ژوندون په یو تریخ حقیقت بدلوي نو په همدې بناء د شتمنو او بډایو خلکو دا وظیفه ده چې د دوی تعلیم او سالم تربیت په خپله غاړه واخلي او خپله دیني وجیبه ترسره کړي او هم د لوی اجر او ثواب خاوندان شي.

فعالیت

- څنګه کولای شو له یتیمانو سره مرسته وکړو؟ په دې اړه خپل نظریات په ډله ییز ډول څرګند کړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱- د یتیم د پالونکي مقام: پیغمبر ﷺ د یتیم پالونکي ته دا زېرې ورکړې دی چې هغه به د قیامت په ورځ د پیغمبر ﷺ ترڅنګ ولاړ وي.

۲- په ښوونه کې د تعلیمي وسائلو څخه استفاده: د دې لپاره چې مطلب د مخاطب په ذهن کې ښه ځای ونیسي پیغمبر ﷺ د خپلو مبارکو ګوتو له اشارو څخه کار واخیست.

ارزونه

۱- یتیم چا ته ویل کېږي او د هغې پالنه د چا په غاړه ده؟

۲- د یتیم د پالونکي مقام څه دی؟ واضح یې کړئ.

۳- د پورتني حدیث شریف ګټې ذکر کړئ.

کورنۍ دنده

- په دې اړوند چې یتیم دې له کومه حیثه د پاملرنې وړ وګرځي، یوه لنډه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

مرسته او کومک

عَنْ عَبدِ اللهِ بنِ عُمرَ رضي الله عنهما أَنَّ رسولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قال: «اَلْمُسْلِمُ أَخُوْ الْمُسْلِم، لا يَظْلِمُهُ، ولا يُسْلِمُهُ، و مَنْ كَانَ فِيْ حَاجَةِ أَخِيْهِ كانَ اللهُ فِيْ حَاجَتِه، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَومِ القِيامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِماً سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ القِيَامَةِ». رواه البخاري.

دراوی پیژندنه:

نوم يې عبدالله د پلارنوم يې عمر او په قوم قريش دی په مکه مکرمه کې په اسلام مشرف او بيايې مدينې منورې ته هجرت وکړ. په صحابه کرامو کې د فقهاوو له جملې څخه و، له نبي کريمﷺ څخه يې زيات شمير احاديث روايت کړي دي او د هجرت په ۷۳ کال وفات شو.

د کلمو معنا:

۱- كُرْبَةً : کړاو اوستونزه.

۲- فَرَّجَ: لیرې يې کړي.

۳- سَتَرَ: عيب يې پټ کړ.

د حديث شريف معنا:

له عبدالله بن عمر څخه روايت دی چې پيغمبرﷺ وفرمايل: مسلمان د مسلمان ورور دی، نه تيری ورباندې کوي او نه يې تيري کونکو ته سپاري، او هر

ketabton.com - The Digital Library

څوک چې د خپل ورور اړتیا پوره کړي الله تعالی به د ده اړتیا پوره کړي. او هر څوک چې د یو مسلمان مشکل حل کړي الله تعالی به یې د قیامت په ورځ مشکلات اسانه کړي. او هر چا چې پر یو مسلمان پرده واچوله الله تعالی به یې د قیامت په ورځ پرده وساتي.

- په پورتني حدیث شریف کې د مرستی او کومک ښې اغیزې په ډله ییز ډول بیان کړئ.

د حدیث شریف حکمت:

الله تعالی دوه ورونه یا خویندې اویا د یوې کورنۍ غړي فطرتاً داسې پیدا کړي دي چې ځانګړې مینه او محبت یې تر منځ وي او د تل لپاره یو بل د سعادت او هوسایني په فکر کې وي که اړتیا ور پیښه شي او یا له کومې ستونزې سره مخامخ شي د حل لپاره یې د خپل توان مطابق هلې ځلې کوي، او هیڅکله هم پر یو بل تیری نه کوي او نه یو بل غلیم ته سپاري، نو ځکه پیغمبرﷺ په دې حدیث شریف کې ټول مسلمانان د یوې کورنۍ د غړو او په خپلو کې د خویندو او ورونو په څیر بللي دي او له داسې اعمالو څخه چې دغه اړیکې پرې کوي او له منځه یې وړي منع کړي دي لکه ظلم، تېری او داسې نور. او دیوې دیني دندې په توګه یې د یو بل د غم خوړلو او ستونزو د حل کولو او د نورو له عیبونو څخه ستر ګو پټولو ته خپل پیروان را دعوت کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کونکـی دې پـه خپل ګروپ کې ددې لوسـت حدیث شـریف په صحیحو الفاظو سره ووایي.

د حدیث شریف ګټې:

۱- مسلمانان په خپلو کې خویندې او ورونه دي. باید چې د یوې کورنۍ د غړو په څیر سره ژوند وکړي.

۲- مسلمان پر مسلمان ظلم نه کوي او ظلم کول په هیڅ هم روانه دي.

۳- مسلمان خپل مسلمان ورور دښمن ته نه سپاري.

۴- مسلمان د خپل مسلمان ورور د اړتیاو د پوره کولو په فکرکې وي.

۵- یو مسلمان د بل مسلمان عیب پټوي. بې عیبه انسان نشته ریښتینی مسلمان د خلکو ښه صفتونه بیانوي او بدۍ بې پټوي.

۶- د دې ټولو کارونو په بدله کې الله تعالی له خپل بنده سره همدغه شان مرسته او کومک کوي.

ارزونه

۱- یو مسلمان د بل مسلمان په باره کې باید څرنګه احساس ولري؟

۲- د څه لپاره د نورو په عیبونو پرده اچوو؟

۳- د لاندې کلمو معنا څه ده؟

ketabton.com - The Digital Library

لا يَظْلِمُهُ:

ولا يُسْلِمُهُ:

فَرَّجَ:

كُرْبَةً:

سَتَرَ مُسْلِماً:

سَتَرَهُ اللهُ:

کورنۍ دنده

څرنګه کولای شو د خپلو ټولګیوالو او ګاونډیانو سره مرسته وکړو؟ تر دې عنوان لاندې یوه لنډه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د مسلمان پېژندنه

عن عبدالله بن عَمرو عن النبي صلى الله عليه و سلم قال: «اَلمُسلِمُ مَن سَلِمَ المُسلِمُونَ مِن لِسَانِه وَ يَدِه و المُهاجِرُ مَن هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عنه» رواه البخاري

د راوي پېژندنه:

دغه راوي په اووم لوست کې پېژندل شوی دی.

د کلمو معنا:

۱. **مِن لِسَانِه:** د هغه له ژبې

۲. **وَ يَدِه:** د هغه له لاسه

۳. **المُهاجِرُ:** پرېښودونکی

۴. **مَن هَجَرَ:** چا چې پرې اېښی وي.

۵. **مَا نَهَى اللهُ:** هغه څه چې الله تعالی منع کړي دي.

د حدیث شریف معنا:

له حضرت عبدالله (رض) څخه روایت دی چې پیغمبرﷺ وفرمایل: مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان بې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امن وي او مهاجر هغه څوک دی چې له ګناهونو څخه ځان ساتي.

فعالیت

- زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه د ژبې او لاس د ضررونو په هکله خپل معلومات وړاندې کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د حديث شريف حكمت:

انسان ته له دوو لوريو ضرر رسيدلای شي يو جسمي او فزيکی او بل معنوی او روحي. بناءً په دې حديث شريف کې مسلمانان نورو ته د ژبې او لاس له هر ډول ضرر رسولو څخه منع شوي دي تر څو مسلمانان يو بل ته د متقابل احترام په فضا کی د عزت ژوند وکړي او له هر ډول تيري، بهتان، تمسخر، او ازار څخه خوندي وي.

د حديث شريف ګټې:

۱- د ژبی سپېځلتيا: مسلمان په غور او سوچ سره خبرې کوي او د بدو الفاظو او کنځلو څخه ځان ساتي.

۲- د مسلمان له لاسه هېڅا ته ضرر نه رسېږي.

۳- د ګناه له مجلسونو څخه لرې والی: مسلمان بايد د ګناهونو له مجلسونو څخه خپل ځان ليرې وساتي او په پاک چاپيريال کې ژوند وکړي.

ارزونه

۱- پدې حديث شريف کې له مهاجر څخه څوک مراد دی؟

۲- ولې يوازې د لاس او ژبې په ساتنه ټينګار شوی دی؟

کورنۍ دنده

پورتنی حديث شريف له معنا سره په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د اسلام پنځه بناوې

عَنِ ابنِ عُمَرَ رضي الله عنهما، قَالَ: قال رَسُول الله صلى الله عليه وسلم: بُنِيَ الإِسْلامُ عَلَى خَمْسٍ، شَهَادَةِ أنْ لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ ، وَأنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ البَيْتِ. رواه البخاري.

د راوي پيژندنه:

دا راوي په لسم لوست کې معرفي شوی دی.

د کلمو معنا:

۱ـ بُنِيَ: بنا شوی دی.

۲ـ خَمْس: پنځه.

۳ـ إِقَامِ الصَّلاَةِ: د لمانځه کول.

۴ـ إِيتَاءِ الزَّكَاةِ: زکات ورکول.

د حديث شريف معنا:

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: چې پيغمبر ﷺ وفرمايل: اسلام پر پنځو ستنو ولاړ دی:

۱ـ په دې ګواهي ورکول چې پرته له الله ﷻ څخه بل معبود نشته (هيڅوک د عبادت او بندګۍ وړ نه دی) او حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی.

۲ـ د لمانځه اداء کول

۳ـ د زکات ورکول

۴ـ د حج د فريضې اداء کول ۵ـ د رمضان د مبارکې مياشتې روژه نيول.

ketabton.com - The Digital Library

د حديث شريف حكمت:

اسلام د سلم (صلح) او سلامتی له مادې څخه اخيستل شوی او الله تعالٰی ته د غاړې اېښودلو په معنا دی چې بنده به د الله تعالی ټول امرونه مني او له نواهيو څخه به بې ځان ژغوري. په دې حديث شريف کې د اسلام د مقدس دين له داسې تعمير سره تشبيه شوی دی چې په پنځو محکمو ستنو ولاړ دی.

دغه پنځه ستنې دا دي:

د شهادت د کلمې لوستل: د اسلام بنسټ د الله تعالٰی په يووالي ايمان لرل دي چې يواځې همدغه ذات د کاياناتو پيدا کوونکی او د عبادت او بندګۍ وړ دی او حضرت محمدﷺ بې بنده او پيغبر دی او د هغه پېغامونه بې انسانانو ته رسولي او د ژوند کولو او بندګۍ لارې يې ورته ښودلي دي.

لمونځ: له کلمې وروسته د اسلام مهم رکن لمونځ دی چې د ورځې پنځه وخته په هر نارينه او ښځه فرض دی. لمونځ مؤمن ته قوت ورکوي، لکه څنګه چې په قرآن عظيم الشان کې ويل شوي دي: ترجمه: ((ای مؤمنانو په صبر او لمانځه باندې مرسته وغواړئ)) (۱) د الله تعالٰی د ياد تر ټولو ستره وسيله لمونځ دی په دې باره کې قرآن عظيم الشان فرمايي: ((زما د ياد لپاره لمونځ وکړه)) (۲) لمونځ د مؤمن ژوند منظموي، له فحشا او منکراتو څخه يې منع کوي او زړه ته ډاډ ورکوي.

لمونځ يو ټولنيز عبادت دی خلکو ته د الله تعالٰی د احکامو په ورځنۍ ژوند کې د ټولو انسانانو د برابرۍ پېغام ورکوي.

زکات: زکات بله هغه ستنه ده چې اسلام ورباندې ولاړ او د پاکۍ او ودې په معنٰی دی. زکات يواځې مالي مرسته نه ده، بلکې د لمانځه، روژې او حج په څېر يو عبادت دی. د زکات په ورکولو مؤمن د خپل رب امر پر ځای کوي او په پای کې بې د ثواب مستحق

---

(۱) د بقرې سورت، ۱۵۳ آيت

(۲) طه سورت، ۱۴ آيت

ketabton.com - The Digital Library

ګرځي او همدغه ثواب دی چې د انسان اخروي ژوند جوړوي او که په ښه طریقه ورکړل شي د ټولنې د ټولو افرادو د ژوند سطحه لوړوي.

روژه: روژه هم د اسلام د بنا په حیث انسانان له ګناه څخه ژغوري او انسان ته د صبر، شکر او نظم درس ورکوي، د فقیرانو له حال څخه یې خبروي او د جسم د آرامۍ لامل ګرځي.

حج: ډېر فردي او ټولنیز حکمتونه لري، د حج په کولو سره د انسان ګناه ښښل کېږي او زړه یې پاکېږي، انسان عبادت او بندګۍ ته هڅوي، ایمان قوي کوي، د اسلام تېر برم را یادوي او د اسلام په لار کې د رسول الله ﷺ او یارانو سرښندنې او قهرمانۍ یې را ژوندۍ کوي.

حج په میلیونونو انسانان یې له دې چې د رنګ، ژبې، قومیت، دولت، فرهنګ، مقام او منصب توپیر یې په نظر کې ونیول شي د یو ګډ هدف او موخې لپاره په یو ځای را ټولوي او دا څرګندوي چې په مسلمانانو کې د ورورګلوۍ او برابرۍ اړیکې څومره کلکې او غښتلې دي، نو دغه دین یواځینی دین دی چې ټول خلک په یوه محور راټولوي او د دنیا او اخرت د نېکبختۍ په لور یې بیایي.

د حدیث شریف ګټې:

۱_ اسلام پر پنځو بناوو ولاړ دی.

۲_ لمونځ فرض دی.

۳_ روژه فرض ده.

۴_ زکات په بډایه او شتمنو مسلمانانو څوک چې د نصاب خاوندان وي فرض دی.

۵_ حج فرض دی.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کوونکي دې په ډله ییز ډول د اسلام د ارکانو په باره کې سره خبرې وکړي.

ارزونه

۱_ اسلام څو بناوې لري؟

۲_ د لمانځه د اهمیت او ارزښت په باره کې مو څه زده دي؟

۳_ د حج ځینې حکمتونه ذکر کړئ.

کورنۍ دنده

د دې لوست حدیث شریف حفظ کړئ او له معنٰی سره یې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

حیاء

عَنْ أَبِي مَسْعُود عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الْأُولَى إِذَا لَمْ تَسْتَحْ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ. رواه البخاري

د راوي پېژندنه:

نوم يې عقبه کنيه يې ابو مسعود او په کوفه کې زېږېدلی دی، د هجرت په ۴۰ کال د حضرت علیؓ د خلافت په دور کې وفات شوی دی.

د کلمو معنا:

۱- مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ: هغه څه چې خلکو له مخکینیو څخه زده کړي دي.

۲- مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الْأُولَى: هغه څه چې د ټولو انبیاؤو علیهم السلام شریعتونو ورباندې اتفاق کړی دی.

۳- إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ: کله دې چې حیا نه لرله.

۴- فَاصْنَعْ: نو کوه.

د حدیث شریف معنا:

ابو مسعودؓ څخه روایت دی چې پیغمبرﷺ وفرمایل: د تېرو شوو پیغمبرانو له ویناوو څخه چې خلکو زده کړې، یوه دا خبره مهمه ده چې کله دې حیا نه لرله، نو څه چې دې خوښ وي کوه یې.

فعالیت

- آیا په زده کړه او ښوونه کې حیا کول ښه دي.

د حدیث شریف حکمت: حیا څه ته وایي؟ حیا د هغه انساني کیفیت نوم دی چې سړی له هرې غیر مناسبې خبرې او ناوړه کار څخه کرکجن کوي، انسان باید د هر چا څخه زیات له الله تعالی څخه حیا ولري. کوم شی چې ټولنه فاسدوي

ketabton.com - The Digital Library

اخلاقي فساد دی او حيا داسې يو نېک صفت دی چې انسان له ټولو بدیو او ناوړه کارونو څخه منع کوي، ځکه خو اسلام حيا د ايمان ارزښتناکه څانګه بللې ده او فرمايلي يې دي چې مسلمانان دې دغه خوی په ځان کې پيدا کړي، خپله ټولنه دې له بربنډتوب او بې حيايۍ څخه چې د ډول ډول ناروغيو لامل کېږي وساتي او د خلکو د تشويش مخنيوی دې وکړي.

د حيا ثمره:

د حيا پايلې هميشه ګټوري وي، لکه څنګه چې پيغمبرﷺ فرمايلي دي ((**الحياء لايأتي الابخير**)) حيا يواځې خير او ښېګڼه زېږوي. په بل حديث شريف کې فرمايي:

((حيا او ايمان تل ملګري وي هر کله چې يو له دوی دواړو څخه نه وي بل به بې هم نه وي)).

فعاليت

- زده کوونکي دې د حيا په باره کې سره خبرې وکړي.

د حديث شريف ګټې:

۱- حيا د ټولو پيغمبرانو له لارښوونو څخه ده.

۲- د حيا اهميت: حيا انسان له فحشا، منکراتو او خپل سريو څخه منع کوي.

۳- حيا انسان ته قدر ارزښت او عزت ورپه برخه کوي.

ارزونه

۱- حيا تعريف کړئ.

۲- د حيا حکمت بيان کړئ.

۳- انسان تر ټولو زيات بايد له چا څخه حيا ولري؟

کورنۍ دنده

د بې حيايۍ په باره کې يوه لنډه مقاله وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

نېشه يې توکي

عَنْ اُمِ سَلَمَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: (نَهَى رَسُولُ الله ﷺ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ). رواه ابو داود

د راوي پېژندنه:

نوم يې حضرت ام سلمة ﷺ د بنو مغيره قبيلې ته منسوبه ده، له لومړنيو مسلمانانو څخه ده، ام سلمةﷺ د هغو مهاجرينو له جملې څخه ده چې حبشې او مدينې ته يې هجرت کړی دی. هغه د خپل ميړه ابو سلمة له وفات څخه وروسته د هجرت په څلورم کال د شوال په مياشت کې د پيغمبرﷺ په نکاح کې راغله او د امهات المؤمنين په صف کې داخله شوه له ۳۰۰ څخه زيات احاديث يې له پيغمبرﷺ څخه روايت کړي دي او بالآخره د هجرت په ديارلسم کال د ۸۴ کالو په عمر وفات شوه.

د کلمو معنا:

۱- مُسْكِرٍ: نېشه کوونکی او د عقل له منځه وړونکی.

۲- مُفْتِرٍ: سستوونکی.

د حديث شريف معنا:

حضرت ام سلمةﷺ راويت کړی چې پيغمبرﷺ د هر هغه څه له استعمال څخه منع کړې ده چې نېشه راولي او عقل خرابوي او يا عقل کمزوری کوي.

د حديث شريف حکمت:

د اسلام له مهمو هدفونو څخه يو هم د عقل، ځان او مال ساتنه او د الله تعالٰی له نعمتونو

ketabton.com - The Digital Library

څه دګټې اخیستلو د ښو لارو ښودنه ده، الله تعالٰی انسان ته د عقل په واسطه له حیواناتو څخه غوره والی ورکړی دی، څرنګه چې انسان د خپل عقل په وسیله ښه له بدو او ګټه له زیان څخه توپیر کولی شي او د خپل عقل په پراختیا کولای شي، د ترقي او پرمختګ لارې هواري کړي.

لدی کبله د اسلام مقدس دین د عقل د ساتنې لپاره ټول نښه یي توکي چې په لومړي سر کې یې شراب ځای لري حرام کړي دي، ځکه چې د دغو توکو استعمال د مختلفو جرمونو، لکه ځان وژنه، غلا، تېري، بد امنۍ د صحت خرابوالي او داسې نورو لامل ګرځي.

د حدیث شریف ګټې:

۱- ټول مستي راوستونکي او سستوونکي، لکه شراب او د نښه یي توکو مختلف ډولونه حرام دي.

۲- نښه کوونکي توکي که لږ وي او که ډېر وي حرام دي.

۳- له نښه یي توکو څخه هر ډول ګټه اخیستل حرام دي.

۴- د اسلام مقدس دین انسان د ځان او عقل د ساتنې مسؤول ګڼي.

ارزونه

۱- په اسلام کې د نښه یي توکو حکم څه دی؟

۲- د شرابو او نښه یي توکو زیانونه بیان کړئ.

۳- د درس مفهوم په لنډ ډول بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د نښه یي توکو د زیانونو په اړه یوه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د جماعت لمونځ

۱. د جماعت د لمانځه حکم:

د جماعت لمونځ مؤکد سنت دی.

۲. څوک د امامت حق لري؟

په امامت کې د لومړیتوب حق په ترتیب سره لاندې کسان لري:

۱- لومړی د امامت حقدار هغه څوک دی چې عالم وي، یعنې په شرعي مسایلو او خاصتاً د لمانځه په احکامو پوهېږي.

۲-که چېرې داسې څوک نه وي بیا هغه څوک دی چې د قرآن کریم قاري او یا چې قرآن ښه تلاوت کړای شي.

۳-که عالم او قاري هم پیدا نه شي بیا به متقي او پرهېزګار سړی مخکې کېږي.

۴- او که په تقوی کې ټول سره یوشان وي بیا به هغه څوک مخکې کېږي چې په عمر کې تر نورو مشر وي.

۳- د اقتداء احکام:

۱. د فرض کوونکي لمونځ په فرض کوونکي پسې په داسې حالت کې روا دی چې دواړه یو فرض له غاړې څخه ساقطوي، یعنې دواړه د ماسپښین فرض کوي، خو که یو د مازیګر څلور رکعته او بل د ماسپښین لمونځ کوي بیا یو بل پسې نیت کول صحیح نه دي.

۲. تیمم کوونکی د اودس کوونکی امام کېدی شي.

۳. پښې وینځونکی د مسحې کوونکي مقتدي کېدی شي.

۴. په ناست پسې ولاړ دریدی شي.

۵. څوک چې رکوع او سجده کوي په اشاره کوونکي پسې بې اقتداء صحیح نه ده.

۶. د نفل کوونکي اقتداء په فرض کوونکي پسې صحیح ده.

۷. د غیر معذور لمونځ په معذور پسې روا نه دی.

۸. په جامه پټ سړی د لوڅ سړي مقتدي کېدای نه شي.

ketabton.com - The Digital Library

۴. په جماعت سره د فرض لمونځ موندل:

کله چې یو چا پر سنتو، فرضو یا قضایي لمونځ ځانته پیل وکړ، بیا جماعت ودرید، خپل لمونځ دې په ولاړه باندې په سلام ګرځولو پرېږدي او په جماعت کې دې شریک شي.

۵. په یو جومات کې د جماعت د تکرار حکم:

د کلي په جومات کې په یو آذان او اقامت د جماعت تکرار مکروه دی. مخصوصا چې دغه کار د یوې ډلې له خوا همیشه تکرار شي، ځکه دا د تفرقې لامل ګرځي.

د کلي جومات: هغه مسجد دی چې امام او مقتدیان یې معلوم وي.

۶. په لاندې ځایونو کې د جماعت تکرارول روا دي:

۱. د لارې په جومات کې.

۲. هغه جومات کې چې ټاکلی امام او مؤذن ونه لري او هر وخت بېل بېل خلک راځي او لمونځ پکې کوي.

ارزونه

۱. لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

أ- د جماعت لمونځ څه حکم لري او په امامت کې د لومړیتوب حق په ترتیب سره بیان کړئ.

ب- د اقتداء ځینې احکام په لنډ ډول بیان کړئ.

ج-په کومو ځایونو کې د جماعت تکرارول روا دي؟

کورنۍ دنده

لوست په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د جُمعې او د اخترونو لمونځونه

۱. د جُمعې د لمانځه حکم:

د جُمعې لمونځ فرض عين دی.

۲. د جُمعې لمانځه د وجوب شرطونه:

د جمعې لمانځه د وجوب شرطونه دادي:

۱. نارينتوب: په ښځو باندې د جُمعې لمونځ فرض نه دی.

۲. مقيم توب: په مسافر باندې د جُمعې لمونځ فرض نه دی.

۳. امنيت: په هغه چا باندې چې امنيت بې تر ګوابښ لاندې وي د جُمعې لمونځ فرض نه دی.

۴. د سترګو روغوالی: په ځای ناست ړوند باندې د جُمعې لمونځ فرض نه دي.

۳. د جمعې د لمانځه د صحت شرطونه:

۱. د جُمعې لمونځ په ښار يا په هر هغه ځای کې چې امير او قاضي ولري صحيح دی.

۲. د جُمعې لمانځه امام بايد خپله د سيمې واکمن وي او يا خو د هغه استازی وي.

۳. د جُمعې لمونځ به د ماسپښين په وخت کې اداء کېږي نو له ماسپښين څخه مخکې او وروسته د جمعې لمونځ نه صحيح کېږي.

۴. جومات ته به هر څوک ننوتلی شي او هېڅوک به ترې نه منع کېږي.

۵. په جماعت به ادا کېږي او پرته له جماعت څخه يوازې نه کېږي، او د جماعت کمه اندازه درې تنه دی او دوی لپاره خطبې ته حاضريدل شرط نه دي، ځينې وايي که درې تنه د امام په شمول حاضر شي د جُمعې لمونځ ورسره

ketabton.com - The Digital Library

کېږي.
۶. خُطبه: له عربي څخه پرته په بله ژبه هم جواز لري.
۷. بايد خطبه د لمانځه څخه مخکې ووايي.

فعاليت

- يو زده کوونکی دې عملاً د جُمعې لمونځ د خپلو ملګرو په وړاندې په لنډه توګه تمثيل کړي.

د اخترونو لمونځونه:

۱. د اخترونو د لمانځه حکم:

په ټولو هغو خلکو چې د جُمعې لمونځ پرې فرض دی د اختر لمونځ وړاندې واجب دی.

۲. د اخترونو د لمانځه د وجوب شرطونه:

د اخترونو د لمانځه د وجوب شرطونه کټ مټ د جُمعې د لمانځه د وجوب شرطونه دي.

۳. د اخترونو د لمانځه د صحت شرطونه:

د اخترونو د لمانځه د صحت شرطونه کټ مټ د جُمعې د لمانځه د صحت شرطونه دي، خو د جُمعې په خلاف خطبه د اخترونو په لمانځه کې د لمانځه څخه وروسته ويل سنت دي.

۴. د اخترونو د لمانځه لپاره د لمونځ کوونکي سنتونه:

۱. په ا خترونو کې غسل کول سنت دي د ټولو مسلمانانو لپاره که لمانځه ته ځي او يا نه ځي.
۲. خوشبويي لګول، غوره او پاکې جامې اغوستل.
۳. له چا سره د مبارکۍ په وخت کې ځان خوشحاله ښودل.
۴. د اخترونو په ورځ زيات خيرات او صدقه کول، همدا راز د سرسايې ورکول پر چا چې واجب وي.
۵. د لارې بدلول، يعنې تګ په يوه لار او راتګ په بله لار.
۶. د اخترونو د لمانځه څخه مخکې او وروسته نفل نه کول.

۵. د اخترونو د لمانځه کيفيت:

۱. امام او مقتدي به په شريکه د اختر د لمانځه نيت په ژبه باندې په داسې حال کې کوي چې لومړی به د امامت او دوهم به د اقتداء لفظ ورسره زياتوي.
۲. امام او مقتدي دواړه به ثناء (سبحانک اللهم ....) په پټه وايي.

ketabton.com - The Digital Library

۳. د ثناء څخه وروسته به امام او مقتدي دری تکبیره په داسې حال کې وایي چې لاسونه به تر غوږو پورې پورته کوي او ترمنځ به یې لږ چوپ پاتې کېږي.
۴. بیا به امام (اعوذ بالله او بسم الله) په پټه او ورپسې فاتحه د سورت په ملتیا په جهر وایي.
۵. بیا به رکوع ته د ښکته کیدو تکبیر وایي او رکوع به کوي.
۶. د قومې او سجدو څخه وروسته به دوهم رکعت ته د پورته کیدو لپاره تکبیر وایي.
۷. کله چې دوهم رکعت ته پورته شو (بسم الله الرحمن الرحیم) به په پټه وایي.
۸. د (بسم الله) څخه وروسته به فاتحه د سورت سره یوځای وایي.
۹. د سورت څخه وروسته او د رکوع څخه وړاندې به بیا دری تکبیره په داسې حال کې وایي چې لاسونه به غوږونو ته پورته کوي.
۱۰. بیا به وروسته په څلورم تکبیر رکوع ته ښکته کېږي. رکوع او سجده به کوي.
۱۱. له تشهد، درود او دعاء څخه وروسته به سلام اړوي.
۱۲. وروسته د سلام څخه به امام پورته کېږي او دوه خطبې به وایي، که چېرې کوچنی اختر وي په لومړۍ خطبه کې به د سرسایې او که لوی اختر وي د قربانۍ او د تشریق د تکبیراتو احکام بیانوي.
۱۳. د دواړو خطبو ترمنځ به لږ ساعت کښېني او بیا به دوهمې خطبې ته پورته کېږي.

۶. د تشریق تکبیرونه:

الله اکبر- الله اکبر لا اله الاالله و الله اکبر الله اکبر و لله الحمد.

۷. د تشریق تکبیرونو حکم:

د تشریق تکبیرونه په هر بالغ مسلمان واجب دي.

۸. د تشریق د تکبیرونو وخت:

د عرفې د سهار د لمانځه څخه وروسته پیل او د تشریق د ورځو په اخري مازیګر پای ته رسېږي (د اختر په څلورمه ورځ د مازیګر له لمانځه وروسته د تکبیرونو په ویلو سره پای مومي.

فعالیت

- د شاګردانو څخه دې یوکس د اختر لمونځ په عملي بڼه تمثیل کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

۱- لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایئ:

أ- د تشریق ورځې څو دي په لنډ ډول یې بیان کړئ؟

ب- د جمعې او اخترونو لمونځونه څه حکم لري؟

ج- د جمعې د لمانځه د صحت او و جوب شرطونه څو او کوم دي؟

د- د اختر د لمانځه له پاره د لمونځ کوونکي سنتونه په لنډ ډول بیان کړئ؟

۲- لاندې صحیح جملوته (ص) او غلطو جملو ته (غ) ننبنه کېږدئ:

أ- د تشریق تکبیرونه په هر بالغ او نابالغ مسلمان واجب دي. ( )

ب- د اختر د لمانځه د صحت شرطونه کټ مټ د جمعې د لمانځه د صحت شرطونه دي.

( )

ج- د تشریق تکبیرونه د عرفې د سهار لمانځه څخه وروسته پیل او په دیارلسم د ذی الحجې پای مومي. ( )

کورنۍ دنده

- د اختر د لمانځه طریقه په ترتیب سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د کسوف او خسوف لمونځ



خسوف (دلمر تیاره کیدل)؟

۱. د کسوف معنا:

کسوف د لمر تورواڼی او یا یې د روښنایۍ کموالي ته وایي.

کله چې سپوږمۍ د ځمکې او لمر ترمنځ واقع شي او د لمر د وړانګو مخه ونیسي نو کسوف (یا دلمر تیاره کیدل) منځ ته راځي.

۲. د کسوف لمانځه حکم:

د کسوف لمونځ مؤکد سنت دی.

۳. د کسوف لمانځه کیفیت:

د کسوف لمونځ دوه رکعته دی، په داسې شکل به کېږي لکه څنګه چې نور لمونځونه کېږي، خطبه، اذان او اقامت نه لري. امام به یې په پټه قرائت لولي او د هغه چا په امامت به ادا کېږي چې کوم د جُمعې امامت کوي، خو که چېرې څوک امامت ته حاضر نه شو بیا به هر سړی په خپل کور کې ځانته دوه یا څلور رکعته لمونځ کوي.

۴. د خسوف لمونځ:

د خسوف معنا: د سپوږمۍ د سترګې تورواڼی او یا یې د روښنایۍ کموالي ته خسوف وایي. کله چې ځمکه د سپوږمۍ او لمر ترمنځ راشي او دځمکې سیوری د سپوږمۍ پر مخ ولوېږي ، او دلمردهغو وړانګو چې په سپوږمۍ به لویدلې ممانعت وشي نوخسوف (یا دسپوږمۍ تیاره کیدل) منځ ته راځي.

۵. د خسوف د لمانځه کیفیت:

د خسوف لمونځ د تل لپاره کور کې کېږي. همدا راز لمونځونه د زلزلو، او د ساري ناروغیو څخه د خلاصون په موخه هم کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

۲. د استسقاء لمونځ:

استسقاء باران غوښتلو ته وايي. په استسقاء کې دوه رکعته لمونځ کيږي او بيا امام خطبه وايي او دعا کوي.

- **مسايل:**

۱. د استسقاء په لمانځه کې لازمه ده چې الله تعالی ته د خشوع، عذر او زاريو اظهار وشي، او حتی څاروي هم له ځان سره صحرا ته يوړل شي.

۲. د ماشومانو او سپين ږيرو ويستل د استسقاء د لمانځه ځپاره هم په کار دي، ځکه چې د الله جل جلاله رحمت په داسې ضعيفو رانازليږي.

۳. د استسقاء په لمانځه کې به امام ډېر استغفار وايي.

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او يا ګروپي شکل د سوال او ځواب په ميتود سره تکرار کړي.

۱- لاندې پوښتنو ته ځواب ووياست:

أ- خسوف او کسوف څه معنا لري؟ تعريف يې کړئ.

ب- د خسوف لمونځ په کوم ځای کې کيږي؟ او پرته له خسوفه دا لمونځ په نورو کومو ځايونو کې کيږي روښانه يې کړئ؟

ج- استسقاء څه معنا لري لغوي او اصطلاحي تعريف يې وکړئ؟

د- د استسقاء د لمانځه حکم ووياست.

۲-لاندې صحيح جملوته (ص) او غلطو جملو ته (غ) نښه کېږدئ:

أ- د کسوف او استسقاء لمونځونه مؤکد سنت دي. ( )

ب-د کسوف د لمانځه امام به د جمعې امام وي.( )

د پورتنيو سوالونو ځوابونه په خپلو کتابچو کې په ساده ژبه وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د جنازې احکام

۱. د جنازې تعریف:

کله چې مړی ښخولو ته برابر شي او د لمانځه او دفن لپاره وړل کیږي نو دې ته جنازه وایي.

۲. د ځنکدن د وخت آداب او سنتونه:

د ځنکدن حالت کې لاندې شیان سنت دي:

- ✓ د ځنکدن په وخت کې د شهادت کلمه ویل.
- ✓ د ناروغ د خو تنوخپلوانو اویا دوستانو حاضریدل د ناروغ د ځنکدن په وخت کې مستحب دي، په دې خاطر چې که څه وصیت کوي نو هغوی دې واوري، او د شهادت کلمه ورته وریاده او تلقین کړي. (البته ناروغ باندې باید امر ونه شي چې کلمه ووایه ځکه کله ناروغ په ځان نه پوهیږي اوکیدای شي منفي عکس العمل وښایي)
- ✓ کله چې روح له بدن څخه جدا شي نو بیا لازمه ده چې د مړي بدن په داسي توګه لکه چې ویده وي په ښکلې هیئت سره برابر شي ، سترګې یې پټې ، ځنه یې راټوله ، پښې او دواړه لاسونه اوار کړل شي. او که کوم څادر وي نو هغه دې پرې واچول شي.

۳. د میت حقوق:

هغه معلوم قرضونه چې پر میت باندې دي د هغو خلاصول او یا یې پر غاړه اخیستل.

- ✓ غسل ورکول.
- ✓ د جنازې لمونځ ورباندې اداء کول.
- ✓ په هدیره کې ښخول.

۴. د حقیقي شهید احکام:

- ✓ خپلې جامې یې کفن دی او بل نوی کفن ورته نه ورکول کیږي.
- ✓ هر هغه شی به ترې لرې کوي چې د کفن څخه زیات وي لکه: چپن، ساعت او داسې نور...
- ✓ غسل ورته نه ورکول کیږي.
- ✓ د جنازې لمونځ به ورباندې کوي.

۵. د متوفیٰ ماشوم حق:

ketabton.com - The Digital Library

- ✓ د نوم اینښودل.
- ✓ غسل ورکول.
- ✓ د جنازې لمونځ وربانديې کول.
- ✓ په هديره کې خښول.

۲. د میت د تکفین او تجهیز مصارف:

د میت د تجهیز، تکفین او ښخولو مصارف به د میت له خپل مال څخه ورکول کېږي. که چېرې کوم میت خپل مال ونه لري بیا به بې هغه خپلوان مصارف ګالي چې په کومو باندې يې نفقه واجبه ده، اویا د ده نه میراث وړي. خو که څوک داسې خپلوان هم ونه لري بیا به د بیت المال څخه دا مصارف ورکول کېږي.البته لازمه ده له هغو اضافي او ملاماتوونکو مصارفو څخه چې یوائې د تظاهر ، ریا او د سیالۍ لپاره کېږي ډډه وشي ، ځکه ډېر کله داسې کېږي چې د متوفی د کورنۍ د دوه چنده اذیت او تکلیف لامل ګرځي. (۱)

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایئ:

۱. جنازه څه ته وایي؟

۲. د ځنکدن آداب او سنتونه کوم دي؟

۳. د میت حقونه کوم دي په لنډ ډول يې بیان کړئ؟

۴. د حقیقي شهید احکام په لنډ ډول ولیکئ.

د میت د تجهیز او تکفین مصارف له کوم ځای څخه ورکول کېږي؟

کورنۍ دنده

د پورتنیو سوالونو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(۱) پورتنی لوست اضافي معلومات دي، او په امتحان کي شامل نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

د مېت لمبول او وربانديې د جنازې لمونځ کول

۱. د مړي لمبول:

۱. په يوه مناسب او مستورځاي کې به جامي تري نه وکاږي او عورت به يې پټ کړي.

۲. د مړي حرمت دې وساتل شي او د عورت ځايونه دې په داسې شکل پريمنځل شي چې غسل ورکوونکی دې خپلو لاسونو کې څه ونيسي تر څو لاسونه يې د مړي پر بدن ونه لګيږي او نه وليدل شي.

۳. اودس دې ورکړل شي ، خو خوله او پوزه دې ورته نه پرېمينځي، بلکه خوله او پوزه به يې په يوه لمده ټوټه مسح کړي.

۴. بيا دې سر ورته پريمنځي.

۵. بيا دې په ټول بدن باندې اوبه وارواچوي، که صابون پرې ووهل شي بهتره ده .

۶. بيا دې ښي اړخ ورته پريمنځي او بيا دې چپ اړخ ورته پريمنځي ترڅو چې ټول بدن يې ومينځل شي .

څوک د مېت د لمبولو لپاره مناسب او غوره دي:

دا بهتره ده چې مېت د ده نږدې خپلوان کوم چې په لمبولو پوهيږي ولمبوي ، خو که داسې نه وي نو بيا دې داسې پرهيزګاره سړی ورته غسل ورکړي چې په لمبولوپوهيږي.

البته مړه ښځه به ښځه لمبوي. خو ښځه کولای شي خپل ميړه ومينځي.

۲. مېت ته کفن ورکول:

* د کفن ورکولو حکم: مړي ته کفن ورکول فرض کفايي دي.

* د کفن ډولونه:

ketabton.com - The Digital Library

کفن په دری ډوله دی:مسنونه کفن ، کفن کفایت او کفن ضرورت.

۱ - **مسنونه کفن**: په لاندې ډول دی:

قمیص: د ورمیږ څخه ترقدمونو پورې د مړي ټول ځان ورباندې پټیږي.

ازار: د مړي سر او ټول بدن پټوي او د قمیص د پاسه وراغوستل کیږي.

لفافه: دا هم د سر څخه د قدمونو پورې ده خو د ازار څخه یې اندازه زیاته ده او د سر او پښو سره ترل کیږي.

البته د ښځې په کفن کې دوه ټوټې نورې هم اضافه کیږي : (خمار او خرقه)

خمار : ټکری د سر او د مخ لپاره

خرقه: یوه ټوټه د صدر (سینې) نه تر زنګونونو پورې

خمار او خرقه د لفافې نه مخکې وراغوستل کیږي .

۲ - **کفن الکفایة**: عبارت له ازار او لفافې څخه دی، او قمیص پکې نشته، خو ښځې لپاره به یو څادر (ټیکری) زیاتیږي.

۳ - **کفن الضرورة**: هغه ټوټه چې د کفایت دکفانه څخه کمه وي ، او میت دضرورت لپاره پکې تکفین شي. (۱)

۳. په مړي باندې د جنازې لمونځ:

✓ د جنازې د لمانځه حکم: دجنازې لمونځ لکه دمړي تجهیز، تکفین اوخښول په مسلمانانو باندې فرض کفایي دی.

✓ د جنازې د لمانځه ارکان: د جنازې لمونځ دوه رکنه لري:

۱. څلور تکبیره.

۲. ودریدل.

- نیت یعني قصد او اراده د جنازې د لمانځه لپاره شرط دی.
- او د څلورم تکبیر څخه وروسته دواړو لوروته سلام ګرځول واجب دی.

(۱) د دې درس پورتنی برخه اضافي معلومات دي، او په امتحان کي شامل نه دي

ketabton.com - The Digital Library

۴- د جنازې د لمانځه سنتونه:

✓ د لومړي تکبیر نه وروسته د حمد او ثنا ویل (سُبحَانَکَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمدِکَ وَ تَبَارَکَ اسمُکَ وَ تَعَالَی جَدُّکَ وَ جَلَّ ثَنَائُکَ وَ لَا إِلَهَ غَیرُکَ).

✓ د دویم تکبیر نه وروسته د درود ویل: (أَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَی مُحَمَّد وَعَلَی آلِ مُحَمَّد کَمَا صَلَّیتَ وَ سَلَّمتَ وَ بَارَکتَ وَ رَحِمتَ عَلَی اِبرَاهِیمَ وَ عَلَی آلِ اِبرَاهِیمَ إِنَّکَ حَمِیدٌ مَجِیدٌ).

✓ د دریم تکبیر څخه وروسته مړي ته دعا کول او هغه ته مغفرت غوښتل ، په هر عبارت چې وي ، خو بهتره دا ده چې په مأثوره الفاظو باندې دعا وشي لکه :

• د بالغ مړي لپاره نارینه وي او که ښځینه : (أَللَّهُمَّ اغفِر لِحَیِّنَا وَ مَیِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَ صَغِیرِنَا وَ کَبِیرِنَا وَ ذَکَرِنَا وَ أُنثَانَا، أَللَّهُمَّ مَن احیَیتَه مِنَّا فَاَحیِهِ عَلَی الاِسلَام و مَن تَوَفَّیتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَیَ الاِیمَان).

• او که مړی ماشوم وي نو دا دعا به لولي: (أَللَّهُمَّ اجعَلهُ لَنَا فَرَطاً وَ اجعَلهُ لَنَا أَجراً وَ ذُخراً وَ اجعَلهُ لَنَا شَافِعاً وَ مُشَفَّعاً).

• او که مړی ماشومه وي نو دا دعا به لولي: (أَللَّهُمَّ اجعَلهَا لَنَا فَرَطاً وَ اجعَلهَا لَنَا أَجراً وَ ذُخراً وَ اجعَلهَا لَنَا شَافِعةً وَ مُشَفَّعةً).

۵- د جنازې د لمانځه کیفیت:

پس له دې چې جنازه دلمانځه لپاره کیښودل شوه ، امام د مړي د سیني په مقابل کې دریږي او دصفونو د ترتیبولو او د میت د تعیینولو (چې ماشوم دی او لوی) وروسته لومړی تکبیر وایي.

د لومړي تکبیر سره د جنازې لمونځ کوونکي لاسونه تر غوږونو پورته کوي، تکبیر وایي او بیا(سُبحَانَکَ اللَّهُمَّ....) وایي.

بیا امام دویم تکبیر وایي او ورپسې (اللَّهُمَّ صَلِّ...) وایي.

بیا دریم تکبیر وایي او ورپسې دعا کوي ، څنګه چې مخکې په تفصیل سره بیان

ketabton.com - The Digital Library

شوي. لکه: (أَللّٰهُمَّ اغفِر لِحَيِّنَا وَ مَيِّتِنَا...)
د دعا څخه وروسته به څلورم تکبیر وایي او ورپسي به سم د لاسه ښي اوکیڼ لورته سلام اړوي.

فعالیت

- یو زده کوونکی دې د خپلو ټولګیوالو په وړاندې عملاً د لویانو د جنازې لمونځ په جهر سره تمثیل کړي.

بل زده کوونکی دې د ماشوم د جنازې لمونځ په جهر سره تمثیل کړي.
او بل زده کوونکی دې د ماشومې د جنازې لمونځ په جهر سره تمثیل کړي.

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:
۱. د جنازې د لمانځه دعاګانې ووایئ.
۲. کفن په څو ډوله دی؟
۳. د نارینه او ښځینه کفن څه توپیر لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د جنازې لمونځ په یادو زده کړي او کیفیت د جنازې دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

زکات

۱. لومړی د زکات تعریف:

زکات په لغت کې: پاکوالي، زیاتوالي او برکت ته وایي.

په اصطلاح کې: مستحقینو ته دهغه مال ټاکلی برخه ورکول چې نصاب ته رسیدلی وي.

۲. د زکات حکم:

زکات د اسلام د ارکانو څخه یو رکن دی، او ورکول یې په هغه چا فرض دی چې د ورکولو شرطونه په کې وي.

۳. د زکات د فرضیت دلایل:

زکات په قرآن کریم، احادیثو او اجماع باندې ثابت دی.

۱. قرآن کریم:(وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ)[1]

ژباړه: تاسې لمونځونه قایم کړئ ، زکاتونه ورکړئ.

۲. حدیث: رسول اکرم صلي الله علیه وسلم فرمایي: اسلام پنځه بناوې لري لومړی بنا یې د شهادت کلمه، دویمه بنا یې لمونځ، دریمه بنا یې زکات ورکول، څلورمه بنا یې د روژې نیول او پنځمه بنا یې د حج کول دي.

۳.اجماع: د ټول امت علماؤ اجماع کړې چې زکات د اسلام له ارکانو څخه یو رکن دی.

د زکات د فرضیت کال: زکات د هجرت په دویم کال د روژې د فرضیت څخه مخکې فرض شوی دی.

(د البقرې سورت،۴۳ آیت)

ketabton.com - The Digital Library

۴. د زکات د وجوب شرطونه:

زکات ځانګړي شرطونه لري چې ځینې په مالک او نور یې په مال پورې اړه لري:

لومړی د مکلف یا مالک شرطونه:

۱. اسلام.

۲. عقل.

۳. بلوغ.

۴. اصیلوالی. یعني (مربي) نه وي.

۵. د نصاب مالک کیدل، چې د کال په پیل او پای کې د نصاب خاوند وي. د زکات نصاب په نقدینو کې یا دوه سوه درهمه سپین زر دي او یا شل مثقاله سره زر دي. چې په اوسنیو ګرامونو باندې د سرو زرو نصاب ۸۵ ګرامه او د سپینو زرو نصاب ۵۹۵ ګرامه کیږي (۲)

دویم: په مال پورې تړلي شرطونه:

۱. مال باید د مالک لاس کې وي بناءً په ورک شوي مال باندې زکات نشته.

۲. دمال په خاوند باندې داسې پور نه وي چې ټول مال ورلاندې شي او یا دومره ترې پاتې شي چې نصاب نه کم وي .

۳. نصاب باید د اصلي حاجتونو څخه اضافه وي ، لکه: کور، دکور اسباب او داسې نور.

۴. نصاب باید د هغو مالونو څخه پوره شوی وي چې شرعا د زکات قابلیت لري .

---

(۲) المکیال و المیزان فتاوىٰ الازهرالشریف ۱/ ۲۰۲

ketabton.com - The Digital Library

۵. یو کال باید پرې تیر شوی وي؛ یعنې پس له دې چې نصاب ته رسیدلی دی د مالک سره یو کال پرې تیر شوی دی .
(خو د فصلونو او میوو په زکات کې د کال تېرېدل شرط نه دی بلکې د فصل او میوې د راټولېدو سره سم پکې زکات واجبېږي).

۵. د زکات د صحت شرطونه:

فقهاء کرامو د زکات د صحت لپاره لاندې شرطونه ښودلي دي:
۱. نیت، ځکه چې زکات ورکول عبادت دی او پرته له نیت څخه عبادت نه صحیح کېږي.
۲. اسلام، ځکه چې د کافر څخه د نیت تصور نه شو کولی.
۳. زکات به مستحق کس ته ورکوي د مستحقینو بیان به یې وروسته راځي.
۴. د مستحق له لوري د زکات قبضول.
۵. زکات به د حلال مال څخه ورکوي.

۶. هغه مالونه چې زکات ورکول پکې واجبېږي:

۱. څاروي.
۲. تجارتي توکي.
۳. میوې او فصلونه.
۴. سره او سپین زر.
۵. معدنونه او ښخ شوي مالونه.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي .

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. زکات په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۲. د زکات د فرضیت دلیل له قرآن کریم څخه ووایاست.

۳. د زکات د صحت شرطونه په لنډ ډول بیان کړئ.

۴. د مال د خاوند شرطونه په لنډ ډول ولیکئ.

- لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. هغه مالونه چې زکات پکې واجبېږي عبارت دي له.....
.....

۲. د مال پورې تړلي شرطونه عبارت دی له.....

- لاندې صحیح جملو ته (ص) او غلطو جملو ته (غ) ننبه کېږدئ:

أ- د زکات د وجوب شرطونه اسلام، عقل او بلوغ دی. ( )

ب- د فصلونو او میوو په زکات کې هم د کال تېرېدل شرط دی. ( )

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست مهم مطالب په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

د څارويو زکات

د څارويو څخه زمونږ مطلب هغه اوښه، اوښ، غوا، غوايان، ميښې، سنډاګان، پسونه، ميږې، وز او وزې دي ،بناءً په وحشي څارويو کې زکات نشته.

۱. د اوښانو زکات:

د اوښانو د زکات ترتيب په لاندې ډول دی:

- ✓ په پنځو اوښانو کې يو پسه دی.
- ✓ په لسو اوښانو کې دوه پسونه دي.
- ✓ په پنځلس اوښانو کې دری پسونه دي.
- ✓ د شلو اوښانو څخه تر څلور ويشتو پورې پکې څلور پسونه دي.
- ✓ د ۲۵ اوښانو څخه تر ۳۵ اوښانو پورې يوه کلنه جونګی ده، هغه چې په دويم کال کې يې قدم ايښی وي.
- ✓ د ۳۶ څخه تر ۴۵ اوښانو پورې پکې يوه دوه کلنه جونګی چې دريم کال کې يې قدم ايښی وي.
- ✓ د ۴۶ څخه تر ۶۰ اوښانو پورې پکې يوه دری کلنه جونګی چې څلورم کال کې يې قدم ايښی وي.
- ✓ د ۶۱ څخه تر ۷۵ اوښانو پورې پکې څلور کلنه اوښه ورکول کېږي.
- ✓ د ۷۶ څخه تر ۹۰ اوښانو پورې دوه يو کلنې جونګی چې دويم کال کې يې قدم ايښی وي واجبېږي.
- ✓ د ۹۱ څخه تر ۱۲۰ اوښانو پورې دوه دری کلنې جونګی چې څلورم کال کې يې قدم ايښی وي واجبېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د اوښانو تعداد	د زکات مقدار	د اوښانو تعداد	د زکات مقدار
۵ اوښانو کې	۱ پسه	۳۶ اوښانو کې	۱ دوه کلنه جونګې
۱۰ اوښانو کې	۲ پسونه	۴۶ اوښانو کې	۱ دری کلنه جونګې
۱۵ اوښانو کې	۳ پسونه	۶۱ اوښانو کې	۱ څلور کلنه اوښه
۲۰ اوښانو کې	۴ پسونه	۷۶ اوښانو کې	۲ یوه کلنې جونګې ګانې
۲۵ اوښانو کې	۱ یوه کلنه جونګې	۹۱ اوښانو کې	۲ دری کلنې جونګې ګانې

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

۲. د غواګانو او غوایانو زکات:

د غواګانو او غوایانو نصاب دیرش غواګانې او غوایان دي.

د غوایانو او غواګانو د زکات اندازه:

✓ کله چې د غواګانو یا غوایانو شمېر دیرشو ته ورسېږي په هغو کې یوه کلنه خوسۍ چې په دویم کال کې بې قدم ایښي وي واجبېږي.

✓ کله چې بې شمېر څلویښتو ته ورسېږي بیا پکې یوه دوه کلنه خوسۍ چې دریم کال کې بې قدم ایښی وي واجبېږي.

✓ کله چې د غواګانو او یا غوایانو شمېر شپیتو ته ورسېږي بیا پکې دوه یو کلنې خوسکۍ چې دویم کال کې بې پښه ایښی وي واجبېږي.

✓ کله چې بې شمېر اویاوو ته ورسیږي بیا په کې یوه یوکلنه او بله دوه کلنه خوسۍ ورکول کېږي.

✓ کله چې د غوایانو او غواګانو شمېر اتیاوته ورسیږي بیا په کې دوه دوه کلنې خوسکۍ ورکول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- د غوآکانو د زکات د اندازې لپاره یو جدول جوړ کړئ لکه څنګه چې اوښانو ته جوړ شوی دی.

۳. د میږو او وزو زکات:

د میږو او وزو د زکات نصاب: د میږو، پسونو او وزو د زکات نصاب څلویښت میږې یا وزې دي بناءً په نهه دیرشو پسونو او وزو کې زکات نشته.

د میږو او وزو د زکات اندازه:

✓ کله چې د میږو یا وزو شمېر څلویښتو ته ورسېږي یو پسه به په زکات کې ورکوي.

✓ کله چې د میږو یا وزو شمېر ۱۲۱ ته ورسېږي بیا به دوه پسونه په زکات کې ورکوي.

✓ کله چې بې شمېر ۲۰۱ ته ورسېږي دری پسونه به زکات کې ورکوي.

✓ کله چې څلورسوو ته ورسېږي څلور پسونه به زکات کې ورکوي کله چې د څلوروسوو څخه د میږو او وزو شمېر زیات شي بیا په هرو سلو کې یو پسه یا وزه د زکات لپاره وباسي.

مسأله: د میږو او وزو په زکات کې به یو کلن مال چې دویم کال کې بې قدم ایښی وي ورکوي یعنې د کال نه د لږ عمر مال په زکات کې نه ورکول کېږي.

۴. د څارویو د زکات عام احکام:

✓ په خرو او کچرو کې زکات نشته اګر که خریدونکي هم وي.

✓ د وړو مالونو زکات د غټو سره ورکول کېږي اګر که یو هم وي.

✓ هر کله چې د کال تیریدونه وروسته پرته د مالک د نیمګړتیا او تیري څخه نصاب هلاک شي زکات ساقطیږي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

ارزونه

- لاندې صحیح جملو ته (✓) او غلطو ته د (×) نښه کېږدئ:

۱. په هرو پنځو اوښانو کې څلور پسان لازمېږي. ( )

۲. کله چې د غواګانو شمېر شپېتو ته ورسیږي دوه یو کلنې خوسی به زکات کې ورکوي. ( )

۳. د میږو نصاب څلویښت میږې دي او له دې څخه په کمو کې زکات نشته. ( )

۴. د غواګانو نصاب څلویښت غواګانې دي. ( )

- لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. د ۳۶ نه نیولې تر ۴۵ اوښانو پورې پکې .....لازمېږي.

۲. کله چې د غوایانو شمېر اتیاو ته ورسېږي په کې به ..... ورکوي.

۳. څلور سوو میږو کې ..... دي.

۴. څارویو عبارت دي له .....

- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. د څارویو د زکات عام شروط کوم دي بیان یې کړئ؟

۲. د څارویو د زکات عام احکام کوم دي؟ په لنډ ډول یې ووایاست.

کورنۍ دنده

پورتنیو پوښتنو ته په خپلو کتابچو کې ځوابونه ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د فصلونو او میوو زکات

د میوو او فصلونو زکات ته عشر ویل کېږي.

۱. د میوو او فصلونو د زکات د وجوب دلایل:

د میوو او فصلونو زکات په قرآن کریم، احادیثو او اجماع ثابت دی.

۱- قرآن کریم: الله جل جلاله پخپل مبارک کتاب قرآن کریم کې فرمایي:

(وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ)[1]

ژباړه: تاسي د فصلونو زکات د لو په ورځ ورکړئ.

۲- حدیث: نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په یو مبارک حدیث کې د عبدالله بن عمر په روایت فرمایي: ((هر هغه ځمکه چې د باران او سیلاب په اوبو خړوبېږي، لسمم من به په زکات کې ورکوي، او هغه چې په تکلیف او مشقت سره خړوبېږي شلم من به ترې په زکات کې اخیستل کېږي)).

۳- اجماع: ټول امت په دې اجماع کړې چې په میوو او فصلونو کې عشر واجب دی.

۲- د عشر د وجوب شرطونه:

۱- ځمکه به خراجي نه وي، ځکه عشر او خراج په یوه ځمکه باندې یو ځای کېدای نشي.

۲- د حاصلاتو اخیستلو څخه به موخه د ګټو ترلاسه کول وي، بناءً په لرګیو کې زکات نشته، معنا دا چې په نلونو، درمو او د لرګیو په ډډونو کې زکات نشته.

۳- ځمکه به د باران، ویالې او سیند په اوبو خړوبېږي، خو که چېرې په تکلیف او مشقت سره خړوبېده بیا پکې عشر نشته بلکه شلم من زکات دی.

۱- (الانعام/۱۴۱)

ketabton.com - The Digital Library

هغه څه چې د میوو او فصلونو په زکات کې شرط نه دي:

۱- د کال تیریدل ورته شرط نه دی.

۲- ټاکلی نصاب نه لري څومره میوه او حاصلات چې ونه او ځمکه وکړي لسمه برخه به پکې ورکوي.

۳- عقل او بلوغ ورته شرط نه دی د لېونې او ماشوم په ځمکه کې هم عشر واجب دی.

۴- د ځمکې ملکیت هم ورته شرط نه دی په دهقان او اجاره دار باندې هم عشر شته.

۵- د قرض (دین) او پور ورکول هم ورته شرط نه دی.

۶- پاتې کیدل او نه خرابیدل هم ورته شرط نه دی بلکه په سبزیجاتو او میوو کې هم واجب دي.

فعالیت

- د خپل چاپېریال د هغو فصلونو څخه پنځه پنځه مثاله ورکړئ چې عشر په کې واجبېږي، او دوه هغو ته ورکړئ چې شلم من په کې واجبېږي.

۳- د نقودو زکات: (د اصلي روپو چې عبارت له سرو او سپینو څخه دي)

په سرو او سپینو زرو کې چې کله د زکات شروط پوره شي زکات واجبېږي، همدا راز هغه روپۍ چې د سرو او سپینو زرو څخه وهل شوې او نوره اوسپنه یا سرپ هم ورسره په لږه اندازه یو ځای شوي وي زکات واجبېږي او کم کډوالي ته هیڅ اعتبار نشته ګویا داسې ګڼل کېږي لکه چې سوچه خالص سپین یا سره زر دي.

۴- د سرو او سپینو نصاب:

د سرو زرو نصاب شل مثقاله دی یعني ۸۵ ګرامه او د سپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه چې د ۵۹۵ ګرامو سره مساوی کېږي.

۵- په سرو اوسپینو کې د زکات اندازه:

په سرو او سپینو زرو کې دوه نیم فیصده هغه وخت په زکات کې ورکول کېږي چې کله نصاب ته ورسېږي او کال ورباندې تېر شي، همدا راز څومره چې زیاتېږي بیا په هرو څلوېښتو روپوکې یوه روپۍ زکات دی.

ketabton.com - The Digital Library

۶- د بانک نوټونو زکات:

په اوسنیو مروجو بانک نوټونو کې زکات ورکول هغه وخت واجب دی چې نصاب ته ورسېږي او ددې د ارزښت ټاکل د سپینو او سرو زرو له لارې کېږي؛ معنا دا چې په څومره بانک نوټونو باندې ۵۹۵ ګرامه سپین زر او یا ۸۵ ګرامه سره زر ترلاسه کېږي همدومره اندازه یې نصاب دی او دوه نیم فیصده به په زکات کې ورکوي او بیا که چېرې له دې څخه ډېرېدل په هرو څلوېښتو روپو کې به یوه روپۍ ورکوي، ځکه اوسنیو مروجو بانک نوټونو د سرو او سپینو زرو ځای نیولی او همدې بانک نوټونو دا دواړه د چلند څخه غورځولي دي.

۷- چاته به زکات ورکول کېږي؟

هغه افراد چې زکات ورکول کېږي اته ډلې دي، مالک کولای شي چې ټولو ډلو ته د خپل زکات ځنې برخه ورکړي او دا هم واک لري چې ټول زکات یوې ډلې یا یو تن ته ورکړي، دده غاړه خلاصېږي. علماؤ د اتو ډلو څخه چې صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعینو پرې اجماع کړې وه؛ یوه ډله چې (مولفة القلوب) ورته وایي د زکات د ورکړې څخه ویستلې ده، اوس دوی ته زکات ورکول روا نه دي پاتې لاندې اوو ډلو ته زکات ورکول کېږي:

۱- فقیر: هغه چاته ویل کېږي چې لږ مال لري خونه دده بسیا پرې کېږي او نه نصاب ته رسېږي.

۲- مسکین: هغه څوک چې هیڅ نه لري او یا د فقیر څخه کم مال ولري مسکین دی

۳- هغه مامورین چې د بیت المال له لوري د زکات ټولولو لپاره ټاکل شوي وي.

۴- غلامان: هغه چې مالک ورته ټاکلې مال ښودلی او د ورکولو څخه وروسته آزادېږي.

۵- في سبیل الله: هغه حقیقي مجاهدین چې د جهاد اراده لري خود جهاد امکانات ونلري.

۶- قرضداران: هغه قرضدار چې د خپل پور خلاصولو توان نلري.

۷- مسافر: هغه چې د خپلې کورنۍ او مال څخه لرې وي. د زکات څخه به ده ته دومره څه ورکول کېږي چې خپل کور ته پرې ورسېږي.

مسأله: د جومات او لارې جوړولو لپاره د زکات ورکول روا نه دي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي.

ارزونه

لاندنیو پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱- د میوو او فصلونو زکات ته فقهاء کوم نوم اخلي سره د وجوب د دلایلو یې بیان کړئ؟

۲- د سرو او سپینو زرو د زکات نصاب څومره دی او څومره زکات پکې واجبږي؟

۳- څو ډلو ته زکات ورکول کېږي په تفصیل سره یې بیان کړئ؟

لاندې صحیح جملو ته (✓) او غلطوته د (×) نښه کېږدئ:

۱- د سرو زرو نصاب شل درهمه دی او د سپینو زرو نصاب دوه سوه مثقاله دی. ( )

۲- هغه څوک چې هیڅ نه لري او یا د فقیر څخه کم مال ولري مسکین دی.( )

کورنۍ دنده

د پورتنیو پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

حج

د فضا څخه د بيت الله او مکې مکرمې اخيستل شوی انځور

۱- د حج تعريف:

حج په لغت کې قصد ته وايي.

او په اصطلاح کې د يو خاص ځای زيارت کول په خاص وخت او خاصو کړنو سره حج بلل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

۲- د حج حکم:

د اسلام مبارک دین پنځم رکن حج دی، په هغه چا باندې چې استطاعت او قدرت د حج ولري فرض عین دی.

۳- د حج د فرضیت دلائل:

د حج فرضیت په قرآن کریم، احادیثو او دامت په اجماع ثابت دی.

۱- قرآن کریم: الله جل جلاله فرمایي: (ولله علی الناس حج البیت من استطاع الیه سبیلا)[1]

د الله جل جلاله د رضا پخاطر په هغو مسلمانانو باندې د حج کول فرض دي چې د لارې توښه ولري.

۲- حدیث: په احادیثو کې د اسلام مبارک دین پنځم رکن حج ښودل شوی.

۳- اجماع: داسلامي امت ټول مجتهدین د حج په فرضیت متفق دی.

۴- د حج د وجوب شرطونه:

فقهاء کرامو رحمهم الله تعالی د حج د وجوب لپاره لاندې شرطونه ښودلي دي:

۱- اسلام: په کافر باندې حج نشته.

۲- عقل او بلوغ: په لېونې او ماشوم حج نشته.

۳- قدرت او استطاعت: قدرت او استطاعت په لاندې شیانو تحقق مومي:

الف: د بدن روغوالی (صحت)، یعنی داسې ناروغتیا ونه لري چې د سفر مانع ګرځي.

(ال عمران/۹۷)

ketabton.com - The Digital Library

ب: د لارې د تګ راتګ او خوراک مصارف بايد ولري.
ج: د کور نه تر حج پورې لاره به په امن وي (امنيت).
د: که چيرې کومې ښځې د حج نيت کړی وي بايد يو مسلمان محرم ورسره وي.
هـ: د حج کولو په وخت کې بايد د حج مصارف په لاس کې ولري که چيرې د حج له موسم څخه وروسته ورسره پيسې پيدا شوې د دې کال حج ورباندې نشته او په راتلونکي کال کې به حج کوي.

۵- د حج د صحت شرطونه:

۱. اسلام.
۲. تميز او عقل.
۳. احرام.
۴. په مخصوصو ځايونو کې د ښودل شويو عبادتونو ادا کول، يعنې په عرفات د عرفې په ورځ درېدل او د مسجد الحرام نه د زيارت طواف کول، داسې نه چې د يو پر ځای بل وکړي.
۵. په خپل وخت کې د ښودل شويو عبادتونو کول.

فعاليت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او يا ګروپي شکل د سوال او ځواب په ميتود سره تکرار کړي .

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. د حج د وجوب شرطونه څو دي؟ په لنډ ډول يې بيان کړئ.

۲. استطاعت په څه شي تحقق مومي؟ په لنډ ډول يې وليکئ.

۳. حج څه حکم لري؟ دليل سره يې ووایاست.

لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. حج په لغت کې ..... او د فقهاؤ په اصطلاح کې .....

۲. د حج د صحت شرطونه عبارت دي له .....، .....، .....، .....

کورنۍ دنده

پورتنيو پوښتنو ته په خپلو کتابچو کې ځوابونه وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د حج فرايض او واجبات

بيت الله الحرام



د عرفات ميدان

۱- د حج فرايض درې دي:

۱- احرام.

۲- د زيارت طواف.

۳- په عرفات ودريدل.

۲- د حج واجبات:

۱- له ميقات نه د احرام ترلړ.

۲- په عرفات کې دلمر تر پريوتلو پورې تم کيدل.

۳- په مزدلفه کې د لمر د راختلو پورې تم کيدل.

۴- دجمراتو ويشتل.

۵- ذبح (د قارن او متمتع حاجي لپاره).

۶- د سر د ويښتانو حلق اوتقصيرپه خپل وخت کې.

۷- د جمراتو د ويشتلو تقديم په حلق باندې.

۸- د اختر د ورځو نه د فرضي طواف نه تاخيرول.

ketabton.com - The Digital Library

۹- په صفا او مروه کې سعي کول.

۱۰- د سعي شروع له صفا نه.

۱۱- طواف وداع کول.

۱۲- د حجر اسود نه د طواف شروع کول.

۱۳- ښي خوا ته طواف کول.

۱۴- په اوداسه طواف کول.

۱۵- د عورت پټول.

۱۶- له ممنوعه کارونو څخه ځان ساتل، لکه : د ګڼې شويو جامو اغوستل، د سر پټول (دنارينه لپاره) د نوکانو غوڅول او د ويښتانو تراشل او کمول.

۳- په سعي کې بايد لاندې کارونه مراعات شي:

۱- سعيې (تګ) به له صفا څخه پيلوي.

۲- په صفا او مروه به پورته کيږي.

۳- د هرې سعيې په پيل کې به لاسونه پورته کوي مخ به قبلې ته کوي اوتکبير به وايي.

۴- د سعې په منځ کې به دعاګاني، تکبيرات، تسبيحات او تهليلات وايي.

۵- سعيې به له طواف څخه وروسته کوي.

۶- په اوداسه سره سعيې کول سنت دي.

۴- په مزدلفې کې بايد لاندې کارونه په پام کې ونيول شي:

۱- د اختر شپه تېرول په مزدلفه کې سنت دی.

۲- د مابنام او ماخوستن لمونځونه يوځای کول په يو آذان او اقامت سره په مزدلفه کې سنت دي.

۳- د مزدلفې څخه د لوبيا په اندازه کاڼي او ګټې راټولول سنت دي.

۴- زيات تکبير، تسبيح، تهليل، استغفار او په نبي اکرم صلی الله علیه وسلم درود ويل.

۵- په آرام سره د مزدلفې نه منیٰ ته تلل.

ketabton.com - The Digital Library

۵- د جمرو ویشتل:

ټولې جمرې دری دي:

۱-کبرىٰ یا د عقبې جمره.

۲- وسطىٰ جمره.

۳- صغرىٰ جمره.

۶- د عقبې جمره ویشتل:

د عقبې د جمرې موقعیت: د عقبی جمره د منیٰ څخه مکې لور ته دریمه جمره ده، اوجمرة الکبری هم بلل کیږي.

د عقبې جمرې د ویشتلو وخت: د عقبې جمرې د ویشتلو وخت د لوی اختر ورځې د سهار راختلو څخه پیل او د یوولسمې ورځې د سپیده داغه پورې دوام مومي، که چېرې کوم حاجي له دې وخت څخه تاخیر وکړ دم ورباندې لازمېږي.

غوره وخت یې د لمر ختلو نه تر زواله پورې دی.

۲- د درې واړو جمرو ویشتل د ذي الحجې په ۱۱-۱۲ ورځ باندې:

د ویشتلو وخت: په یوولسمه او دولسمه ورځ باندې به یې د لمر له زوال څخه تر غروبه پورې یې ویشتل سنت دي او د غروب څخه تر سهار ختلو پورې هم جوازلري مګرد کراهیت سره.

د اخترپه څلورمه ورځ دجمراتو ویشتل اختیاري دي ، او وخت یې د سبا د ختلو څخه تر لمر پریوتلو پورې خو د زوال نه مخکې یې ویشتل مکروه دي.

مسأله: په هر حاجي لازمه ده چې د اختر په دویمه او دریمه ، دری واړه جمرات: (صغرىٰ، وسطىٰ اوکبرىٰ) وولي.

۷- د جمرو ویشتلو د صحت شرطونه:

۱- جمری به په هغه شي باندې ولي چې د ځمکې له جنس څخه وي لکه کانې، لوټه.

۲- هره جمره به په بیلو بیلو اوو کانو ولي.

۳- کله چې دری واړه جمرې ولي نو باید په ویشتلو کې یې ترتیب مراعت کړي، یعنې لومړی به صغرىٰ بیا به وسطىٰ او په پای کې به کبرىٰ جمره ولي.

۸- د جمرو ویشتلو سنتونه:

۱- هغه کانې چې جمرې ورباندې ویشتل کېږي د نخود د دانې په اندازه به وي.

ketabton.com - The Digital Library

۲- په جمرو باندې به ګوزار د ګوتو په سرونو کوي.
۳- د جمرو د ویشتلو په وخت کې به (لبیک اللهم لبیک) نه وایي.
۴- اووه واړه کانۍ به د یو بل پسی پر له پسي ولي.
مسأله: که چیري کوم حاجي ناروغ وي او جمرې پخپله نشي ویشتلای دا ورته روا ده چې دده پرځای بل څوک جمرې وولي، مګر نائب باید لومړی د ځان لپاره او بیا یې د بل لپاره وولي.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي .

ارزونه

۱- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.
الف: د حج واجبات څو دی؟ په لنډ ډول یې بیان کړئ.
ب: په سعیې کې کوم امور باید مراعات شي؟
ج: په مزدلفې باندې د دریدلو سنتونه بیان کړئ.
د: د جمرو ویشتل څه وخت پیلیږي؟ او څه وخت پای مومی؟ لنډه اشاره ورته وکړئ.
هـ: د یو پرځای د بل جمری ویشتل څه حکم لری؟
۲- لاندې صحیحو جملو ته (ص) او غلطو ته د (×) علامه کیږدئ.
الف: حاجی به د صفا او مروه ترمنځ سعي د طواف څخه وړاندی کوي.( )
ب: ټولی جمری دری دي.( )

کورنۍ دنده

پورتنیو پوښتنو ته په خپلو کتابچو کې ځوابونه ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د حج ډولونه

۱- حج په درې ډوله دی:

۱- قـــران.

۲- تمتع.

۳- افراد.

کوم یو پدې کې غوره دی؟

په ترتیب سره د ټولو غوره قِران ورپسې تمتع او بیا افراد دی.

لومړی- قِران:

د قران معنی: قران په لغت کې د دوه شیانو نږدې کولو ته وایي.

او په اصطلاح کې (د حج او عمرې یو ځای نیت کول او اداکولو ته) د قِـران حج وایي.

د حج قِران طریقه:

کله چې قارن مکې ته ننوت خپله عمره سر ته رسوي ، خو د عمرې څخه ځان نه اوباسي او په احرام کې پاتې کیږي ،کله چې د حج مراسم د ذي الحجې په اتمه شروع شي نو بیا په همدې احرام کې منیٰ ته روان شي او د فرضي حج مناسک شروع کړي.

د قارن تکلیف نسبتاً متمتع او مفرد ته زیات وي، ځکه کم ترکمه دکوبې ورځې نه چې عمره یې کړې ده تر اختر پورې باید په احرام کې پاتې شي.

په قارن باندې د شکر دم واجب دی، یعنې قارن به د الله جل جلاله د شکر پخاطر یو څاروی حلالوي.

دویم- د تمتع حج:

دحج په سفر کې د حج او عمرې اداکولو ته (چې په بیلا بیلو احرامونو باندې وي) د تمتع حج وایي.

د قران او تمتع حج فرق:

متمتع لومړی احرام صرف د عمرې لپاره تړي،کله یې چې عمره خلاصه کړه نو خپل احرام لرې کوي، او په عادي توګه خپل وخت تیروي،کله چې د حج وخت ورسیږي بیا د دویم

ketabton.com - The Digital Library

ځل لپاره خپل احرام تړي.
خو قران د عمرې او حج لپاره يو ځل احرام تړي، تر څو يې چې حج خلاص کړی نه وي تر هغه وخته پورې په احرام کې پاتې وي که مکې ته د حج د وخت نه يوه مياشت مخکې هم داخل شوی وي بيا هم د حج تر وخته پورې بايد په احرام کې پاتې شي.
په متمتع باندې هم دم لازميږي.

مفرد حج:

مفرد په لغت کې يواځې شوي ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه حج دی چې په هغه کې يواځې دحج کولو احرام وتړل شي او عمره ونه کړي .
په مفرد باندې دم نشته .

فعاليت

- زده کوونکي دې دحج د اقسامو تفاوتونه په انفرادي او يا ګروپي توګه بيان کړي .

ارزونه

- لاندې پوښتنو ته ځواب ووايياست.

۱- حج په څو ډوله دی؟ ويې وايياست.
۴- قِران څه معنی لري؟ او طريقه يې بيان کړئ.
۵- تمتع څه معنا لري؟ طريقه يې بيان کړئ.

- لاند صحيحو جملو ته د (ص) او غلطو ته دا (غ) نښه کېږدئ.

۱- دم يواځې په متمتع حاجي واجب دی. ( )
۲- قران د عمرې او حج لپاره يو ځل احرام تړي ( )

کورنۍ دنده

پورتنيو سوالونو ته په خپلو کتابچو کې په ساده ژبه ځوابونه ووايياست.

ketabton.com - The Digital Library

د حج متفرقه مسایل

۱ - د حلق معنا:

د ویښتانو خریل یا کلول حلق بلل کیږي.(یوائې د نارینه لپاره)

۲ - د تقصیر او کمولو معنا:

د سرنه د ویښتانو کمول تقصیر بلل کیږي.

۳ - طواف الوداع:

دا هغه طواف دی چې حاجیان یې د مکې نه د وتلو په وخت کې د وداع (رخصتی) په نیت سره کوي.

دې ته طواف صدر هم وایي، دا طواف په هغه حاجي واجب دی چې له اطرافو څخه راغلی وي او د مکې په اوسیدونکي باندې نشته .

۴ - د طواف الوداع سقوط:

طواف الوداع د معذورو ښځو څخه ساقطیږي.

فعالیت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او یا ګروپي شکل د سوال او ځواب په میتود سره تکرار کړي .

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایئ:

۱. حلق او تقصیر څه معنا لري تعریف یې کړئ؟

۲. د طواف الوداع بل نوم څه دی په چا واجب او کله ساقطیږي؟

۳. د حج سنتونه څو دي په لنډ ډول یې بیان کړئ؟

۴. د حج ادبونه څو دي په تفصیل سره یې بیان کړئ؟

کورنۍ دنده

پورتنیو پوښتنو ته په خپلو کتابچو کې ځوابونه ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English